www.nanafghan.com

# فتاویٰ محمدی صلی اللہ علیہ وسلم

## مع شرح دیوبندی

تالیف

عالمِ ربّانی حضرت مولانا سیّد اصغرحسین صاحب حسنی حنفی
صدر مدرس حدیث دار العلوم دیوبند رحمة الله علیه

Ketabton.com

پښتو ژباړه :

محمد احمد الحقانی الأفغانی غفرالله له

مکتبہ رحیمیہ
کاسی روڈ نزد حاجی غیبی چوک کوئٹہ

ketabton.com - The Digital Library

پښتو ډیجیټل پر لیکه کتابتون*
Pashto Digital Online Library*
د (اَلْـعِـلْم) کمپیوټرز شرکت
AL-ILM Corporation Ltd.

د پیل نېټه : ۱۳۸۸ \ ۰۱ \ ۰۱ (هـ ش)

❊ ❊ ❊

| | | |
|---|---|---|
| نوم | :: | فتاوىٰ محمّدي ﷺ |
| لیکوال | :: | مولانا سیّداصغر حسین ؒ |
| ژباړه | :: | محمّدأحمد الحقّاني الأفغاني ؒ |
| پرلیسي ګڼه | :: | ۰۰۰۱ |
| پرلیکه نېټه | :: | ۰۱\۰۱\۸۸ |

ISBN
0001AL-ILM۱۳۸۸

* له موږ سره مرسته وکړئ ترڅو دا پروژه نور پرمخ تګ وکړي.
* Help with us to improve this Project.

**تماس**

E-mail:
al-ilmcorp@hotmail.com
mha_haqqani@yahoo.com
Mob: 0092 – 3218016371

ketabton.com - The Digital Library

# فتاویٰ محمدی ﷺ

مع شرح دیوبندی

ketabton.com - The Digital Library

بسم الله الرحمن الرحیم

ketabton.com - The Digital Library

وَمَا يَنطِقُ عَنِ الْهَوٰى إِنْ هُوَ إِلَّا وَحْيٌ يُّوحٰى (النجم ۳، ٤)

# فتاویٰ محمدی ﷺ

## مع

# شرح دیو بندی

یعنی دیوسل او څلوېښتو ۱٤۰ متبرکو فتاواو مجموعه چې په هغه کې دیوسل او شلو ۱۲۰ جواب په خپله حضرت رسول الله ﷺ فرمایلي دي او دشلو ۲۰ سوالونو جواب دصحابه وو او تابعینو رضي الله عنهم څخه را نقل سویدی ، او دټولو فتاواوو نهایتي مفصله او سلیسه شرح دمعتبرو او مستندو اسلامي کتابو څخه سویده ، چې پرسلهاوو علمي فوائدو او بېشمیره مفیدو مسئلو باندې مشتمله ده .
(از احقر التلامذة بندۂ مفتي محمد شفیع دیوبندي رحمة الله علیه)

**تالیف :**

**عالم ربّاني حضرت مولانا سیّد اصغر حسین صاحب حسني حنفي**

**مدرس حدیث دار العلوم دیوبند رحمة الله علیه**

**پښتو ژباړه :**

**محمد احمد الحقاني الأفغاني غفر الله له**

**مکتبهٔ رحیمیه ، کاسي روډ ، کوئټه**

03222423258 :

ketabton.com - The Digital Library

ټول حقوق محفوظ دي

© All Rights Reserved

لومړی چاپ

۱۴۲۸ رمضان \ سپتمبر 2007

Maktabah Rahimiyah | مكتبة رحيمية
Publishing Organization | خپرونديه ټولنه

Kasi Road, Quetta, Pakistan . Mob: 03222423258 : کاسی روډ ، کوئټه ، پاکستان ، ګرځنده تلیفون شمیره

ketabton.com - The Digital Library

# ټړون :

=============

دحقې لارې دهغو ټولو شهیدانو په نامه چې تل یې داسلامي نړۍ څخه ددفاع په خاطر خپل سرونه دلوی خدای ﷻ او دهغه درسول ﷺ ودربار ته نذرانه کړیدي ،
خصوصا لاندیني شهیدان :

١. شهید ظفر الله خان ( رحمه الله تعالی )
٢. شهید عبد الباقي جان ( رحمه الله تعالی )
٣. شهید حافظ امین الحق ( رحمه الله تعالی )
٤. شهید مولوي شمس الله ( رحمه الله تعالی )
٥. شهید حافظ عبد الله ( رحمه الله تعالی )

مُحمَّد احمَد الحقَّاني الأفغاني غفرالله له

ketabton.com - The Digital Library



# فهرست



| مخ | دپوښتنې ( استفتآء ) مضمون | شماره |
|---|---|---|
| ۱ | دمصنف صاحب رحمة الله علیه وژوند ته لنډه کتنه........... | ۱ |
| ۵ | دمصنف صاحب رحمة الله علیه خطبه........... | ۲ |
| | **عقائد ، اعمال او دقرآن مجید دعلم متعلقات** | |
| ۹ | دجبرآئیل علیه السلام پوښتنه ( داسلام ارکان )........... | ۳ |
| ۱۷ | ترټولو بهتره کم عمل دی........... | ۴ |
| ۲۰ | ترټولو بهتره څوك دی........... | ۵ |
| ۲۲ | سورة : قل اعوذ برب الفلق او : قل اعوذ برب الناس........... | ۶ |
| ۴۰ | دیوچا دیوې ټولۍ سره محبت وی مګرپه عمل کی ترهغه کم وی... | ۷ |
| ۴۷ | ترټولو زیات دجنت او دوږخ سبب........... | ۸ |
| ۶۸ | قیامت به کله راځی........... | ۹ |
| ۷۱ | شهیدان کم خلګ دی........... | ۱۰ |
| ۷۳ | ایمان تر ټولو اعمالو افضله دی........... | ۱۱ |
| ۸۰ | دخیر دعمل پیژندل........... | ۱۲ |
| ۸۱ | کم مسجد اول جوړ سویدی........... | ۱۳ |
| ۹۴ | دبیت المقدس په اړوند څه حکم دی........... | ۱۴ |
| ۹۶ | فرآئض ادا که ، حلال حلال وبوله اوحرام حرام وبوله........... | ۱۵ |
| ۱۰۰ | جنت ته نژدی کیدل او ددوږخ څخه لیری کیدل........... | ۱۶ |
| ۱۰۴ | داسلام عمده خوی........... | ۱۷ |
| ۱۰۴ | نیکی ، ګټه او ګناه څه ده........... | ۱۸ |
| ۱۰۷ | تر رسول الله ﷺ وروسته چاته حاجت ویل........... | ۱۹ |
| ۱۰۸ | جنت ته به کم کم خلګ ځی........... | ۲۰ |
| ۱۱۲ | ترټولو لویه ګناه بیا ترهغې کمه........... | ۲۱ |
| ۱۱۵ | د: اَلَّذِیْنَ اٰمَنُوْا وَلَمْ یَلْبِسُوْا ، الآیة معنی........... | ۲۲ |
| ۱۱۸ | دخادم خطا په ورځ کی څو واره معاف کول........... | ۲۳ |
| ۱۱۹ | دټولو حیواناتو په خدمت کی اجر دی........... | ۲۴ |

ketabton.com - The Digital Library




| شماره | مضمون | مخ |
|---|---|---|
| ۲۵ | عمده او جامع اسلامی خبره..................... | ۱۲۱ |
| | **طهارت ، وضوء ، او نور** | |
| ۲۶ | چی دخوبه راپاڅی پرجامو باندی لوندوالی لیدل.......... | ۳۹ |
| ۲۷ | دلړ باد وتلو څخه اودس ماتیږی..................... | ۹۲ |
| ۲۸ | په مذیو سره غسل نه دی واجب..................... | ۳۳ |
| ۲۹ | ښځی ته احتلام راځی..................... | ۳۸ |
| ۳۰ | دجنابت په حالت کی بیدیدل جائز دی..................... | ۵۰ |
| ۳۱ | ددریاب په اوبو سره اودس کول..................... | ۸۲ |
| ۳۲ | ښځو ته په غسل کی چوټی (ترلی وریښتان) خلاصول.......... | ۸۷ |
| ۳۳ | په غوړو کی موږك لویدل..................... | ۹۰ |
| ۳۴ | دباد وتلو شبه او شك راتلل..................... | ۹۲ |
| ۳۵ | په تیمم سره دلمونځ کولو څخه وروسته اوبه پیدا کیدل.......... | ۱۲۰ |
| ۳۶ | دجنابت په حاله کی خوله (عرق) پاکه ده..................... | ۱۲۹ |
| ۳۷ | دذکر په مسح کولو سره اودس نه ماتیږی..................... | ۱۲۹ |
| ۳۸ | دحآئضې څخه په پاته سوو اوبو سره اودس کول.......... | ۱۳۳ |
| | **دحیض بیان** | |
| ۳۹ | چی همیشه حیض ورته راځی او هیڅکله نه پاکیږی.......... | ۲۷ |
| ۴۰ | په حیض کی دښځو سره څه معامله کول پکار دی.......... | ۳۶ |
| ۴۱ | دحآئضې سره یوځای خوراك کول..................... | ۳۶ |
| ۴۲ | په حیض کی دښځی څخه کم ځایونه حلال دی.......... | ۵۳ |
| ۴۳ | تر اتلسو ۱۸ میاشتو وروسته حیض راتلل.......... | ۱۲۶ |
| ۴۴ | حآئضه دی سجده تلاوت نه کوی..................... | ۱۲۷ |
| ۴۵ | حآئضه سبحان الله ویلای سی..................... | ۵۴ |
| ۴۶ | په حیض کی دصحبت کولو کفاره..................... | ۱۳۱ |
| ۴۷ | حآئضه چی په غاړه یې تعویذ وی..................... | ۱۳۲ |
| ۴۸ | دحآئضې په پاته سوو اوبو سره اودس کول.......... | ۱۳۳ |
| | **لمونځ او دهغه متعلقات** | |

ketabton.com - The Digital Library





| شماره | مضمون | مخ |
|---|---|---|
| ۴۹ | ترټولو بهتر عمل لمونځ دی........................................ | ۱۷ |
| ۵۰ | ددجال دزمانې لمونځونه.......................................... | ۲۳ |
| ۵۱ | په ناستی او په ولاړی دلمانځه فرق................................ | ۲۵ |
| ۵۲ | په یوه جامه کی لمونځ کول....................................... | ۳۴ |
| ۵۳ | دښکاری لمونځ یوازی په کُرتیِ کی................................. | ۴۱ |
| ۵۴ | داذان دجواب فضیلت............................................. | ۵۱ |
| ۵۵ | کوچنیان به په څومره عمر کی لمونځ کوی............................ | ۸۲ |
| ۵۶ | په فرضی لمونځو سره جنت ته تلل.................................. | ۹۲ |
| ۵۷ | دښځی لمونځ په کُرتیِ کی......................................... | ۱۱۳ |
| ۵۸ | چی یو ځل فرض ادا کړی بیا په جماعت شریك سی...................... | ۱۲۸ |
| ۵۹ | دامام ترسلام وروسته به پاته دماښام لمونځ څنګه کوی................... | ۱۲۵ |
| ۶۰ | په جماعت ولاړ وی اومخکنیِ قضا سوی لمونځ ورپه یادسی.................. | ۱۲۸ |
| ۶۱ | دسفر په اراده کی دی لمونځ کوتاه کوی............................. | ۱۳۱ |
| | **دبیت الله دحج متعلقات** | |
| ۶۲ | محرم به څرنګه کپړې اغوندی....................................... | ۱۲ |
| ۶۳ | دمحرم دپاره ښکار کول........................................... | ۱۸ |
| ۶۴ | دسپرتیا په حالت کی طواف کول..................................... | ۲۵ |
| ۶۵ | محرم به کم ډول کپړې پربږدی...................................... | ۴۰ |
| ۶۶ | دپلار دطرفه څخه حج کول........................................ | ۵۶ |
| ۶۷ | په لڅ سر او لڅی پښې حج کول.................................... | ۷۴ |
| ۶۸ | جهاد وکی او که دزوجې سره دحج سفر................................ | ۸۳ |
| ۶۹ | که یې ترذبح مخکی سر وخروی...................................... | ۱۱۷ |
| ۷۰ | که یې تر رمی مخکی ذبح وکړه...................................... | ۱۱۷ |
| | **دروژې په اړوند فتواوی** | |
| ۷۱ | په روژه کی رانجه لګول........................................... | ۲۶ |
| ۷۲ | دنفلی روژې ماتولو حکم........................................... | ۲۹ |
| ۷۳ | په سفر کی روژه نیول............................................ | ۹۲ |

ketabton.com - The Digital Library





| شماره | مضمون | مخ |
|---|---|---|
| | **زکوٰة ، صدقه ، هدیه ، نفقه** | |
| ۷۴ | بې له اجازې دبادار صدقه ورکول.................................... | ۲۲ |
| ۷۵ | دزوج پراولاد باندی مال خرڅول.................................... | ۱۴ |
| ۷۶ | په کمه صدقه کی ثواب زیات دی.................................... | ۱۵ |
| ۷۷ | که چیری سوال کوونکی ته دورکولو دپاره هیڅ نه وو موجود....... | ۳۱ |
| ۷۸ | دکم شی نه ورکول چی جآئز نه دی.................................... | ۳۴ |
| ۷۹ | بې له اجازې دزوج کوچنیانوته خوراك ورکول.................................... | ۸۱ |
| ۸۰ | خپله صدقه په میراث کی بیرته اخیستل.................................... | ۶۶ |
| ۸۱ | خپله صدقه رانیول.................................... | ۸۰ |
| ۸۲ | ښځی چی بې له اجازې څه خرڅ کړی.................................... | ۸۱ |
| ۸۳ | کم همسایه ته دی هدیه ورکوی.................................... | ۸۳ |
| ۸۴ | دمشرکی مور سره وصله رحمی.................................... | ۸۴ |
| ۸۵ | پر زوج او یتیمانو باندی صدقه کول.................................... | ۹۳ |
| ۸۶ | دنر دجفت کولو په بدله کی نذرانه او انعام.................................... | ۱۰۶ |
| ۸۷ | دبی مروته قریب سره گذاره کول.................................... | ۱۱۰ |
| ۸۸ | کمه صدقه افضله ده.................................... | ۱۱۳ |
| ۸۹ | دچارپایانو دخدمت ثواب.................................... | ۱۱۹ |
| | **دمړی دطرفه څخه حج ، صدقه او نور** | |
| ۹۰ | دمور مرحومی دطرفه څخه دحج نذر ادا کول.................................... | ۵۶ |
| ۹۱ | دمور مرحومی دطرفه څخه صدقه کول.................................... | ۱۱۳ |
| ۹۲ | دمور مرحومی دطرفه څخه نذر ادا کول.................................... | ۱۲۱ |
| ۹۳ | دمالدار پلار دطرفه څخه بې له وصیته صدقه کول.................................... | ۱۲۳ |
| | **نکاح ، طلاق ، عدّت ، رضاع** | |
| ۹۴ | زوجې ته خور ویل.................................... | ۲۹ |
| ۹۵ | دحیض په حالت کی طلاق ورکول.................................... | ۴۹ |
| ۹۶ | دحمل په اېښوولو سره عده تیریږی.................................... | ۵۱ |
| ۹۷ | دزوجې حق او مسئلې.................................... | ۶۰ |

ketabton.com - The Digital Library




| مخ | مضمون | شماره |
|---|---|---|
| ۲۷ | اسلام یې راوړی او دوې خوندی یې په نکاح کی وی.................. | ۹۸ |
| ۲۹ | دپلار په حکم سره طلاق ورکول.............................. | ۹۹ |
| ۷۵ | داولاد دپرورښت حکم..................................... | ۱۰۰ |
| ۷۲ | په عده کی دکور څخه وتل.................................. | ۱۰۱ |
| ۷۷ | رضاعی خور زوجه نسی پاته کیدی............................. | ۱۰۲ |
| ۷۸ | درضاعی مور دزوج ورور اکا دی............................... | ۱۰۳ |
| ۱۰۹ | دشیدې ورکوونکی حق څنګه ادا کیږی............................ | ۱۰۴ |
| ۱۲۲ | تر طلاق اتلس ۱۸ میاشتی وروسته دحیض راتلل..................... | ۱۰۵ |
| ۱۲۷ | دوو میرمنو (زوجو) دوو کوچنیانوته شیدې ورکړی.................... | ۱۰۶ |
| | **بیع ، شرآء او نور** | |
| ۲۱ | دسپینو زرو او سرو زرو بیع زیات او کمه........................ | ۱۰۷ |
| ۳۰ | دغیر موجود مال بیع........................................ | ۱۰۸ |
| ۲۹ | پر دم او تعویذ باندی اجرت اخیستل........................... | ۱۰۹ |
| ۱۰۶ | نر دجفتی دپاره په کرایه ورکول.............................. | ۱۱۰ |
| ۱۲۹ | یوڅه قرض ورمعاف کړی اوپاته نقد ورڅخه وصول کړی................ | ۱۱۱ |
| ۱۳۱ | دغلې په قیمت کی خرما اخیستل............................... | ۱۱۲ |
| ۱۳۲ | ددوبی سره دموجودو کالو سوځل............................... | ۱۱۳ |
| | **ذبیحه ، قربانی ، عقیقه ، ښکار ، حلال ، حرام** | |
| ۱۸ | دمحرم دپاره ښکار کول...................................... | ۱۱۴ |
| ۲۲ | په ډبری سره ذبح کول....................................... | ۱۱۵ |
| ۲۳ | دښځی ذبیحه............................................... | ۱۱۶ |
| ۴۲ | دیهودو او نصاراوو په لوښو کی خوراك کول........................ | ۱۱۷ |
| ۴۲ | په سپیانو سره ښکار کول.................................... | ۱۱۸ |
| ۴۶ | دبانس په تیره څوکه او نورو سره ذبح کول....................... | ۱۱۹ |
| ۴۸ | دنوی مسلمان سوی څخه غوښی اخیستل........................... | ۱۲۰ |
| ۵۵ | دذبح سوی حیوان دبچی حکم.................................. | ۱۲۱ |
| ۶۰ | چونګښه مړه کول اوپه دوا کی استعمالول........................ | ۱۲۲ |

ketabton.com - The Digital Library




| شماره | مضمون | مخ |
|---|---|---|
| ۱۲۳ | چی چاقو نه وی نوپه تیره لرگی او نورو سره ذبح کول.............. | ۲۴ |
| ۱۲۴ | آیا ذبح په حلق او په لبه کی ده.................................. | ۲۴ |
| ۱۲۵ | دعقیقې دپاره نر حیوان اوکه ماده.................................. | ۲۸ |
| ۱۲۶ | دمسلمانانو دښکار دسپی سره چی بل سپی ملگری سی............ | ۷۵ |
| ۱۲۷ | په غوږو کی چی موږك مړسی........................................ | ۹۰ |
| ۱۲۸ | دشهدو او نورو شیانو شراب حرام دی.............................. | ۹۱ |
| ۱۲۹ | دمردار سوی حیوان دوازگی استعمالول............................. | ۹۹ |
| ۱۳۰ | دلوی اختر تر لمانځه مخکی قربانی کول............................ | ۱۰۱ |
| ۱۳۱ | دمردار سوی حیوان چمړه.............................................. | ۱۲۲ |
| ۱۳۲ | ملخ حلال دی اوکه نه.................................................. | ۱۲۵ |
| ۱۳۳ | په بغل کی په زخمی کولو سره ذبح کول............................ | ۱۲۵ |
| ۱۳۴ | طافی ماهۍ نه دی حلال................................................ | ۱۲۸ |
| | **زینت او لباس** | |
| ۱۳۵ | پر سر باندی نور وریښتان لگول حرام.............................. | ۳۵ |
| ۱۳۶ | ښایست کول او صفایی کول تکبر نه دی............................ | ۴۴ |
| | **لقطه** | |
| ۱۳۷ | په لار کی پروت شی پیدا کول....................................... | ۵۷ |
| ۱۳۸ | دسلو روپو تیلۍ پیدا کول............................................ | ۵۸ |
| | **جهاد او شهادت** | |
| ۱۳۹ | ترټولو بهتر مجاهد فی سبیل الله.................................... | ۳۹ |
| ۱۴۰ | جهاد فی سبیل الله کم دی............................................ | ۴۰ |
| ۱۴۱ | شهید څوك ځوك دی.................................................. | ۷۱ |
| ۱۴۲ | ترټولو بهتر څوك دی................................................. | ۸۸ |
| ۱۴۳ | دمال په طمع جهاد کول............................................... | ۱۱۵ |
| | **میراث** | |
| ۱۴۴ | دلونډو میراث.......................................................... | ۶۲ |
| ۱۴۵ | دیهودی مسلمان وارث................................................ | ۱۲۴ |

ketabton.com - The Digital Library




| شماره | مضمون | مخ |
|---|---|---|
| ۱۴۶ | تر طلاق اتلس ۱۸ میاشتی وروسته وارث کیدل................ | ۱۲۲ |
| | **متفرّقات** | |
| ۱۴۷ | دحقیقت مخالف دنعمت اظهار (ښکارندویی) کول................ | ۳۲ |
| ۱۴۸ | دمالدارانو سره برابر کیدل................ | ۳۷ |
| ۱۴۹ | فال څه ته وایی................ | ۲۳ |
| ۱۵۰ | دچارپایه دنقصان تاوان دچا پر ذمه دی................ | ۲۵ |
| ۱۵۱ | په خوب کی چینه لیدل................ | ۸۹ |
| ۱۵۲ | دځان او مال دحفاظت دپاره بل وژل او خپله وژل کیدل................ | ۹۸ |
| ۱۵۳ | دخطبې په وخت کی یرحمك الله ویل................ | ۱۳۰ |
| | * * * | |



کمپوزنګ او ډیزاینګ :

**العلم کمپیوټرز ، کوئټه ، : 03218016371**

**مکتبه رحیمیه**

**کاسی روډ ، کوئټه**

**: 03222423258**

ketabton.com - The Digital Library



بسم الله الرحمن الرحیم

## دمصنف صاحب رحمة الله علیه وژوند ته لنډه کتنه : (۱)

**ولادت** : حضرت میان صاحب ، مولانا سید اصغر حسین دیوبندی رحمة الله علیه دحضرت شاه محمد حسن دیوبندی رحمة الله علیه زوی وو ، په ۸ دشوال سنة ۱۲۹۴ هجری کی مطابق ۱۲ اکتوبر سنة ۱۸۷۸ میلادی کی دماخوستن دلمانځه وروسته دې فانی دنیا ته سترګی روڼی کړی .

**تاریخی نوم** : دنوموړی تاریخی نوم مختار احمد ، عرفی نوم یې میم شاه ، اصلی نوم یې حُسین ، او دده دنیکه سید عبد الله شاه صاحبؒ عرف مناشاهؒ خوښ کړل سوی نوم وده ته فرخ سیر دی .

**ابتدایی تعلیم** : شعور ته تررسیدلو وروسته یې دخپل پلار دحقیقی ماما سید عبد الله شاه ؒ څخه په بسم الله ویلو سره دخپل پلار بزرګوار څخه ابتدایی تعلیم شروع کړی ، تقریبًا په یونیم دوه کاله کی یې دقرآن پاك تعلیم حاصل کړی ، ورپسی یې فارسیات دخپل پلار څخه شروع کړل ، دتعلیم په دوران کی یې دخپل تعلیم سره کار وو ، هیڅ کله یې هم دلوبو او فضول ، بې کاره او عبثو کارو سره واسطه نه ساتله ، تر ګلستانه یې فارسیات دخپل پلار بزرګوار څخه وویل ، تر دې وروسته یې په عظیم علمی درسګاه دار العلوم دیوبند کی ځان داخل کړی ، بوستان او نور فارسی کتابونه یې دمولانا مفتی محمد شفیعؒ صاحب دپلار بزرګوار مولانا محمد یٰسین دیوبندیؒ څخه وویل ، نوموړی هغه وخت په دار العلوم دیوبند کی ددرجه فارسی مدرس اول وو ، او فن حساب یې دمولانا محمد منظور احمد دیوبندی مرحومؒ څخه ترلاسه کړی ، چی هغه وخت په دار العلوم کی دریاضی مدرس وو ،

(۱). دحضرت مؤلف رحمة الله علیه دژوند دا لنډکی تاریخ او حالات موږ دأردو کتاب ( چالیس بړې مسلمان ، یعنی څلوېښت لوی مسلمانان) جلد اول ، څخه ژباړلی او دلته مو راوړی دی ، که څوك غواړی چی دحضرت مؤلف رحمة الله علیه په مفصلو حالاتو باندی ځان خبر کړی نو دې ذکر کړل سوی کتاب ته رجوع کړی . محمّد احمد الافغانیؒ

ketabton.com - The Digital Library



په سنة ۱۳۱۰ هجری کی یې فارسیات وسرته ورسول .

**تحصیلِ علم**: په سنة ۱۳۱۰ هجری کی دفارسیاتو څخه تر فارغه کیدو وروسته ددار العلوم دیوبند په شعبه عربی کی داخل سو ، په عربی تعلیم کی په همه تن مشغوله سو ، پرحضرت مولانا مفتی عزیز الرحمٰن عثمانی دیوبندیؒ او پر حضرت مولانا غلام رسول هزارویؒ یې ډیر کتابونه وویل ، دخپل خاص او محبوب استاد حضرت شیخ الهند مولانا محمود الحسن صاحب قدس سره په خدمت کی په اوسیدلو سره یې دصحاحِ سته او دنورو علومو اعلیٰ کتابونه وویل ، په سنة ۱۳۲۰ هجری کی یې دحضرت شیخ الهند سره ددورهٔ حدیث په ویلو سره سندِ فراغت تر لاسه کړی ، او دفضیلت پګړۍ یې پرسر کړه ، دتعلیم په زمانه کی په نهایتی توجه سره دعلومِ دینیه وو په تحصیل کی مشغوله وو ، دخپلو استادانو انتهایی ادب او احترام یې کوی ، له دغی وجی څخه دعنایاتِ اساتذه وو باعث جوړ سو .

**بیعت ، خلافت او تعلیم باطنی**: نوموړی دکتابی تعلیم سره سره روحانی علوم او باطنی تعلیم هم روان ساتی ، نوموړی بیعت دحضرت شاه عبد الله شاه عرف میاجی مناشاه صاحبؒ سره کړی وو ، حضرت مناشاه صاحبؒ دده دپلار محمد حسن شاه صاحبؒ ماما او دخپلی زمانې دکاملینو څخه وو ، سید عبد الله شاهؒ ودې کم عمره فیض یافته ته کله میم شاه او کله فرّخ شاه ویل .

**دسید عبد الله شاه رحمة الله علیه مقام** : چنانچه دحضرت مناشاهؒ په اړه حضرت مولانا قاری محمدطیب صاحب قاسمیؒ مهتمم دار العلوم دیوبند دخپل پلار حجة الاسلام حضرت مولانا محمد قاسم نانوتوی رحمة الله علیه څخه روایت کوی چی کم وخت ددار العلوم دیوبند پر بنیاد داولی خښتی ایښوولو موقع راغله نو حضرت مولانا محمد قاسم نانوتوی رحمة الله علیه ارشاد وفرمایی چی اوله خښته به هغه څوك ایږدی چی دهغه په زړه کی هیڅ کله هم دګناه اراده نه وی راغلی ، او سم دستی یې دحضرت مناشاه صاحبؒ نوم وړاندی کړی ، چی هغه ټولو خلګو خوښ کړی .

مولانا قاری محمد طیب صاحبؒ په دوهم روایت کی فرمایی چی پر حضرت مناشاه صاحبؒ باندی به دومره قدر استغراق ووچی خپل عزیزان به یې هم نه پیژندل، چنانچه دده یو زوم وو چی دهغه نوم (الله بنده) وو کم وخت چی به هغه حضرت مناشاه صاحبؒ ته راتلی نو حضرت به ورڅخه پوښتنه کوله چی ورور ه څوك یې ؟ دده زوم به ورته ویل حضرت زه (الله بنده) یم ، حضرت مناشاه صاحبؒ

ketabton.com - The Digital Library



به ورته وفرمايل چې دالله بندګان خو ټول دی ، ته خپل نوم راوښيه ، هغه به ورته ویل چې حضرت زه ستا زوم یم ، زما نوم (الله بنده) دی .
پرهر حال مولانا سید اصغر حسین دیوبندی ؒ دسلوك منزلونه دداسی بزرګ په صحبت کی سرته ورسول ، اجازتِ بیعت دحضرت حاجی امداد الله صاحبؒ دعرف ځخه هم وروسته، چې حضرت مناشاه صاحبؒ دحضرتِ حاجی صاحبؒ ځخه په ویلوسره حاصل کړی وو، بیا په سنة ۱۳۱۰ هجری کی حضرت مناشاه صاحبؒ هم دخپل وصال ځخه یوه ورځ مخکی نوموړی ته اجازت او بیعت او خلافت وروبخښی .
<u>دحج سفر</u>: نوموړی په خپل ژوند کی درې ۳ حجه کړیدی ، اول حج یې په سنة ۱۳۲۰ هجری کی ، دوهم حج یې په سنة ۱۳۴۵ هجری کی او دریم حج یې په سنة ۱۳۵۰ هجری کی ادا کړی . لیکن په دې شان سره چې حتی الامکان به یې خپل تګ او راتګ په خفیه راز کی ساتی .
<u>تعلیمی او تدریسی خدمتونه</u>: دعلومِ عربیه وو دتکمیل ځخه وروسته نوموړی په دار العلوم دیوبند کی یوکال او ځو میاشتی ځه دفتری کار په اجرت سره سرته رسوی ، له دې وروسته په سنة ۱۳۲۱ هجری کی نوموړی حضرت شیخ الهندؒ او حضرت مولانا محمد احمد صاحبؒ دمدرسې جونپور مسجدِ اټاله صدر مدرس په جوړلو سره واستوی ، هلته یې په شلو روپو تنخواه دمیاشتی مقرر کیدل وسوه ، دسنة ۱۳۲۱ هجری ځخه تر ۱۳۲۷ هجری پوری یې اوه ۷ کاله برابر دینی او تدریسی خدمات سرته ورسول ، او دجونپور عوام یې دخپل علومِ ظاهری او باطنی په فیوضو سره مستفیض وګرځول ، په سنة ۱۳۲۷ هجری کی دخپل استاد محترم حضرت شیخ الهند صاحبؒ په را غوښتلو سره یې بیا دوباره دار العلوم دیوبند ته تشریف راوړی اوپه درس او تدریس یې لاس پوری کړی ، تر آخره وختنه یې دحدیثو اعلیٰ کتابونه درسول.
<u>علمی تصنیفونه</u>: نوموړی ددرس او تدریس سره سره ډیرعلمی تصانیف دځلانده ستورو په شان دنیا ته یادګار پرې ایښی دی، چې دهغو نومونه په لاندی ډول دی :
۱. فتاوی محمدی ﷺ مع شرح دیوبندی ( همدا مبارك کتاب )
۲. رحمتِ رضوان ، دحضرت امامِ ابو حنیفة رَحِمَهُ اللهُ عَلَيْه پر حالاتو او فضآئلو سره

ketabton.com - The Digital Library



دبهترینو حکایاتو عملیه وو او نصآئحو ، او دا کتاب داعتراضاتو پر جواباتو هم چاپیره دی .
۳. مسافر آخرت ، مع ضمیه مفیده وجدیده .
۴. کلیات شیخ الهند (محمود الحسن دیوبندی)
۵. گلزارِ سنت، په دې کی دخوراك چیښاك ، ناستی ولاړی ، بیدیدو پورته کیدو ، تلو گرځیدو ، لباس او نکاح او په نورو تمامو کارو کی یې سنت طریقه ښوولی ده
۶. خواب شیرین
۷. نصیحة المخلصین مع شجرات اصغریه
۸. عهدنامه جدید مع اسمآء حسنٰی
۹. الجواب المتین بحدیث سید المرسلین ﷺ ، د ۵۰ سوالو صحیح جوابونه چی دحدیثو څخه یې ورکړیدی ، معاملات ، عبادات ، متفرقات او نور ډیر قسمه مسآئل په دې کی موجود دی .
۱۰. طهور المسلمین ، دتیمم پربیان عام فهمه او مفصله رساله ده .
۱۱. فرحة الصائمین ، په دې کی دروژې مبارکی په اړه دتمامو ضروری مسآئلو ، شبِ قدر ، اعتکاف ، صدقه فطر او داختر دلمانځه مفصل ذکر دی .
۱۲. تعبیرِ صادق ، دیوه حدیث شریف څخه یې دخوب حالات او حکایاتِ عجیبه بیان کړیدی .
۱۳. مولوی معنوی ، دحضرت مولانای روم رحمة الله علیه دژوند حالات یې په نهایتی صفا او بهترینه طرز اوپه عمده ترتیب سره لیکلی دی .
۱۴. تعبیر نامه (دوې حصې)
۱۵. ملفوظاتِ اصغریه ، په دی کی یې دمسلمانانو ددین وطرف ته دراغبرگولو دپاره فآئده مند معلومات راجمع کړیدی .
۱۶. حیاتِ خضر علیه السلام ، دحضرت خضر علیه السلام مبارك حالات یې دحدیث او تفسیر او دتاریخ دمعتبرو کتابو څخه جمع کړیدی .

| | |
|---|---|
| ۱۷. علم الاولین | ۱۸. څلوېښت حدیثونه |
| ۱۹. نیکی بیبیانی | ۲۰. تقویمِ شرعی یعنی اسلامی جنتری |
| ۲۱. دستِ غیب | ۲۲. ارشاد النبی یعنی گلزارِ سنت |
| ۲۳. رفیقِ سفر | ۲۴. حاشیهٔ سراجی ، چی دسراجی یوه بهترینه شرح ده |

ketabton.com - The Digital Library



**۲۵**. حيات شيخ الهند ؒ ، دا دحضرت مولانا شيخ الهند ؒ دژوند پر مفصلو حالاتو باندی يو نهايتی محققانه کتاب دی .

**۲۶**. القول المتين فی الاقامة والتاذين ، په دې کی يې داذان دابتدآء په اړوند تفصيلات ، داذان حقيقت ، فضآئل او نور مواد جمع کړيدی .

**نامتو استاذان**: يې حضرت مولانا شيخ الهند محمود الحسن ديوبندی ؒ ، حضرت مولانا عزيز الرحمٰن عثمانی ديوبندی ؒ ، حضرت مولانا حافظ محمد احمد قاسمی ؒ (ابن حضرت مولانا محمد قاسم نانوتوی ؒ) ، حضرت مولانا حبيب الرحمٰن عثمانی ؒ او حضرت مولانا غلام رسول هزاروی ؒ رحمهم الله تعالی دی .

**وفات** : دخپل وخت جليل القدر محدث ، نامتو عالم ، او عارف کامل په **۲۲** دمحرم الحرام سنة **۱۳۷۴** هجری کی ددې فانی دنيا څخه دهميشه لپاره سترګی پټی کړيدی.

راټولوونکی : ابو مزمل آخند زاده غفرالله له

*   *   *

## خطبة الكتاب

دحضرت آله العالمين ، جناب احکم الحاکمين، په دربار کی درب العالمين ، موصوف په صفت سره د: هُوَ اللهُ الَّذيْ لاَ إِلهَ إِلاَّ هُوَ عَالِمُ الْغَيْبِ وَالشَّهَادَةِ هُوَ الرَّحْمٰنُ الرَّحِيْمُ ۞ هُوَ اللهُ الَّذي لاَ إِلهَ إِلاَّ هُوَ الْمَلِكُ الْقُدُّوْسُ السَّلاَمُ الْمُؤْمِنُ الْمُهَيْمِنُ الْعَزِيْزُ الْجَبَّارُ الْمُتَكَبِّرُ سُبْحٰنَ اللهِ عَمَّا يُشْرِكُوْنَ ۞ هُوَ اللهُ الْخَالِقُ الْبَارِئُ الْمُصَوِّرُ لَهُ الْأَسْمَآءُ الْحُسْنٰى يُسَبِّحُ لَهُ مَا فِي السَّمٰوٰتِ وَالْأَرْضِ وَهُوَ الْعَزِيْزُ الْحَكِيْمُ ۞ ، شکريه داحسان ځنګه ادا کيدلای سی چی هغه يوې ذرې بې مقداره او خاکساره ته ديوې داسی متبرکی او مقدسی فتاوٰی دجمع کولو توفيق ورکی چی دهغه جواب دعالی قدر مرتبې دخاوند، سيّد الاولين والآخرين د : رَسُوْلُ اللهِ وَخَاتَمَ النَّبِيّيْنَ ، د : وَمَآ اَرْسَلْنٰكَ اِلاَّ رَحْمَةً لِّلْعٰلَمِيْنَ دمصداق دمبارکی ژبی څخه راوتلی دی، چی : مَا (۱)

(۱). دالله ﷻ ارشاد دی چی رسول الله ﷺ دخپلی خوښی او خواهش څخه هيڅ نه وايي ، کم څه چی بيانوی هغه دالله ﷻ دطرفه څخه بيانوی .

ketabton.com - The Digital Library



يَنْطِقُ عَنِ الْهَوٰى اِنْ هُوَ الاَّ وَحْىٌ يُّوْحٰى دهغه شان دی، او دچا دحکم نسبت چی د: وَمَا (١) كَانَ لِمُؤْمِنٍ وَّلاَ مُؤْمِنَةٍ إِذَا قَضَى اللّٰهُ وَرَسُوْلُهُ أَمْرًا أَنْ يَّكُوْنَ لَهُمُ الْخِيَرَةُ مِنْ أَمْـــرِهِمْ اعلان دی ، اودکومو داستفتآء اوسوال پیش کوونکی چی په خپله پاك اهلِ بیت دی، چی دهغو دپاره د : لِيُذْهِبَ (٢) عَنْكُمُ الرِّجْسَ أَهْلَ الْبَيْـــتِ وَيُطَهِّـــرَكُمْ تَطْهِيْـــرًا دخدای ﷻ پخوانی اراده ده ، او وعدهٔ د : لَهُمْ (٣) مَّغْفِرَةٌ وَّرِزْقٌ كَـــرِيْمٌ ده، یا هغه صحابه کرام او مهاجرین او انصار چی دهغو مدح ځای پرځای په قرآن کریم موجوده ده، یوځای : أُوْلٰئِكَ (٤) هُمُ الْمُؤْمِنُوْنَ حَقًّا ورته ویل سویدی ، او أَشِدَّآءُ (٥) عَلَى الْكُفَّارِ رُحَمَآءُ بَيْنَهُمْ او: سِيْمَاهُمْ فِيْ وُجُوْهِهِمْ مِّنْ أَثَرِ السُّجُوْدِ ورته ویل سویدی، دهغو زړه کله د: لَقَدْ (٦) رَضِيَ اللّٰهُ په خوشحالی سره آباد سویدی اوکله د: لَقَدْ (٧) تَابَ اللّٰهُ په زیری سره خوشحاله سویدی ، صَلَّى اللّٰهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَعَلَيْهِمْ اَجْمَعِيْنَ وَعَلٰى

(١). په قرآن مجید کی فرمایل سویدی چی کله خدای تعالی او دهغه رسول ﷺ کم حکم ورکړی نو دهیڅ مؤمن نر او ښځی هیڅکله دا شان نه دی چی هغه ته دی په خپل کار کی اختیار پاته سی چی هر ډول چی وغواړی کوی یې .

(٢). په قرآن مجید کی اهلِ بیت یعنی درسول الله ﷺ دکورنۍ وخلګوته فرمایل سویدی چی ای اهلِ بیته ! الله تعالی ستاسی بدوالی لیری کول او ستاسی پاکول غواړی .

(٣). الله تعالی فرمایی چی دنبی ﷺ دکور خلګ دخلګو دتهمت څخه پاك دی ، دهغوی دپاره مغفرت او ډیر ښه رزق دی .

(٤). په قرآن مجید کی دی چی کمو خلګو په خدای ﷻ باندی ایمان راوړی او وطن یې پرېښووی درسول الله ﷺ سره یې هجرت وکی او دخدای ﷻ په لاره کی یې جهاد وکی ، اوکمو خلګو چی هجرت کوونکو ته ټیکانه او ځای ورکی (ددې څخه انصار دمدینې خلګ مراد دی) دغه خلګ یعنی مهاجرین او انصار بې له شبهې کامل مومنان دی .

(٥). یعنی دخدای ﷻ درسول ﷺ صحابه پر کافرانو باندی سخت دی اوپه خپل مینځ کی نهایتی مهربانه اونرم ، لمونځونه کوونکی دی، دخدای ﷻ ساتنه او رضامندی غواړی ددوی پرمخانو باندی دسجدو دنښانو علامې ښکاره دی .

(٦). دالله ﷻ دا کلام دغزوهٔ حدیبیې په ذکر کی فرمایل سویدی چی الله تعالی دمومنانو څخه راضی سو هغه وخت چی دوی تر درختی لاندی ستا سره بیعت کوی (ددې غزا یوڅه قدر احوال او بیان یو ځای په دې شرح کی ذکر دی چی مخ ته به راسی) .

(٧). دغزوه تبوك په ذکر کی دخدای ﷻ ارشاد دی چی الله تعالی پرنبی ﷺ او مهاجرینو او =

ketabton.com - The Digital Library



الَّذِيْنَ اتَّبِعُوْهُمْ بِاِحْسَانٍ مِنَ الْمُؤْمِنِيْنَ بِعَدَدِ حُقُوْقِهِ عَلَى الْمُسْلِمِيْنَ .
لويه نيكبختي وه چي فقير بنده سيّد اصغر حسين (رحمة الله عليه) چي دديوبند دسهارنپور دعلاقې اوسيدونكى دى غَفَرَ اللّٰهُ لَهُ وَلِاَكَابِرِهٖ دا لوى كار ثوواره شروع كې دنه خلاصيدو په وجه تر پرېښوولو وروسته ، بالآخر په كومكِ خداوندى سره كامياب سو اوپه آخر كې دشوال دمياشتې دكال **۱۳۲۵** هـ په مباركه اومكرمه ورځ دجمعې باندى، په وخت كې داوسيدنى دجونپور دعلاقې په مسجدِ اټاله كې ، دلوى خداى جلاله په فضل سره دا كار پاى ته ورسيدى .
دې بنده ، دصحابه وو رضي الله عنهم دټولو پوښتنو اودهغوى دجوابونو دجمع كولو قصد نه دى كړى بلكه ډيرى پوښتنى او جوابونه چې زيات مشكل او مختلف فيه راته ثرگند سوه احقر په خپله پرېښوولو ، اوپه سلهاوو بـه لا داسى هم وى چې تر اوسه بـه لا زما تر كوتاه نظر نه وى تيرى سوى .
البته څومره اندازه چې جمع سويدى هغه دنهايتِ معتبرو او صحيحو كتابو څخه داحاديثو راټول سويدى ، كم چې دشريعت دپاره مدار او دعلومِ اسلاميه اصول دى. دا فتاوٰى همداسى بې ترتيبه جمع كړل سويده لكه څنگه چې دفتاوٰى جمع كولو عام قانون دى، ليكن ددې سره يو داسى فهرست تيار كړل سويدى چې دهغه څخه دهر مضمون فتاوٰى جلا جلا معلوميږى (۱) .
داستفتآء (پوښتنو) او جوابونو په اړوند دكومى څرگندونى ضرورت نسته ، بس دصحابه وو رضي الله عنهم سوالونه دى او دخاتم الانبياء ﷺ جوابونه دى، دخپله طرفه څخه مى كم تصرف نه دى پكښى كړى. البته داستفتآء يعنى دسوال بعضى ځايونه دشرحى او مفصّلى ترجمى سره ليكل سويدى گواكى دحديثو دالفاظو مقصود بيان كړل سويدى. په اكثرو ځايونو كې بالكل داصلى الفاظو بامحاوره ترجمه ده ، په جواب كې هرځاى دهم هغه الفاظو دترجمې دليكلو پابندى سويده ، اوكه چيرى دزيات پوهيدو دپاره ديوه يا دوو لفظونو او جملو ضرورت پيښ سويدى نو هغه مو دهلالى خطو [يعنى قوسو] (.........) په مابينځ كې ورزيات كړيدى.
په هر ځاى كې دسوال او جواب دختميدو وروسته دحديثو دهغه معتبر كتاب نوم

---

= انصارو رضي الله عنهم باندى رحمت او مهربانى وفرمايله .
(۱). لكه همدا فهرست چې موږ هم دكتاب په سر كې ژباړلى او شامل كړيدى .

ketabton.com - The Digital Library



ليكل سويدى دكم كتاب څخه چې احقر دا استفتاء را نقل كړيده اوپه بعضو كى ځايو كى دهغو كتابو څخه ددو يا ددرو يا تردې دزياتو نومونه هم ليكل سويدى په كومو كى چى دا استفتاء موجوده ده .

په حاشيه كى مو دسوال كوونكى يعنى داستفتآء وړاندى كوونكى صحابى مبارك نوم هم ليكلى دى، اوپه كم ځاى كى چى دهغه نوم نه دى معلوم سوى هلته مو دراوى يعنى دفتوى دنقل كوونكو او بيان كوونكو حضراتو نوم ليكلى دى .

په اخر كى مو يوڅو داسى استفتاوى نقل كړيدى چى دهغو جواب وركوونكى صحابه كرام يا تابعين عظام رضى الله تعالى عنهم اجمعين دى، دا فتاواوى هم په حقيقت كى دفتاوٰى محمّدى ﷺ څخه جلا نه دى ، ليكن كه دې ته دكتاب دوهمه ۲ حصه وويل سى نو بېځايه به نه وى، كه څه هم چى دا حصه صرف دنمونې په ډول او براى نام ده .

لومړى داسى اراده وه چى يوازى فتاواوى جمع كړل سى ، ليكن وروسته خيال راغى چى عامو خلگوته شايد دبعضو احكامو په پوهاوى كى تكليف او سختى وى، ځكه نوپه ډير عام فهمه الفاظو او آسانو عبارتو كى تر هرى استفتاء وروسته دهغه شرح هم سويده ، او دوس اوطاقت تر اندازى پورى ددقيق او پيچل سوو خبرو دبيانولو څخه په احتراز كولو سره مو مناسب متعلقات او ضرورى مسئلې وليكلى ترڅو داصلى فتوٰى مضمون واضح او ښكاره كړل سى، په شرح كى هم دې بنده كمه خبره دځانه څخه نه ده كړى ، بلكه فقط هغه شيان بيان كړل سويدى كم چى په معتبرو او مستندو اسلامى او شرعى كتابو كى موجود دى، په اكثرو ځايو كى په شرح داحاديثو اوبيان دمسآئلو كى د: قرآن مجيد، او فتح البارى، اوعينى، او قسطلانى، شروح صحيح بخارى، او نووى شرح مسلم اوخطابى حاشيۂ ابوداؤد او مرقاة المفاتيح او اشعة اللمعات حاشيه مشكوٰة شريف او هدايه او كنز الدقآئق او درّ مختار معه حاشيه شامى اوقدورى څخه استفاده سويده ، كم چى نهايتى صحيح او معتبر او مقبول او متداول كتابونه دى، يا اتفاقًا يو يادوه نور معتبر كتابونه كتل سوى اويو څه ورڅخه ليكل سويدى .

چونكه په هندوستان كى عمومًا حنفى المذهب مسلمانان اوسيږى او مؤلِف هم حنفى مقلّد دى ځكه نو ټولى مسئلې دفقه حنفى اودمذهب سره دامام اعظم رحمة الله عليه موافقى ليكل سويدى، ليكن بياهم دالله جل جلاله په فضل سره ددې شرح

ketabton.com - The Digital Library



اکثره مضمونونه او مسئلې داسی دی چی دهغه څخه هیڅ اهلِ سنت والجماعت ته اختلاف نسی کیدلای .
که څه هم چی ددې کتاب ډیر نومونه په خیال کی راتلل او غوره کیدلای سوای ، لیکن بې له تکلفه او ساده نوم ته په ترجیح ورکولوسره په **فتاوی محمّدی** ﷺ (١) **مع شرح دیوبندی** سره نامداره کړل سوه . دالله ﷻ څخه امید دی چی عوامو ته ددې څخه نفع ورسیږی ، او خواص هم دجمع بین الروایات او نورو هغو شیانو څخه کم چی په دې کتاب کی مراعات کړل سویدی دلطف څخه خالی نسی .
او د مَنْ (٢) عَفَا وَاَصْلَحَ مصداق جوړسی ترڅو ثواب ترلاسه کی. رَبَّنَا تَقَبَّلْ مِنَّا اِنَّكَ اَنْتَ السَّمِيْعُ الْعَلِيْم .

* * *

بسم الله الرحمن الرحيم

١. **پوښتنه** : ایمان څه ته وایی ، او اسلام څه ته ؟ او احسان څه ته ؟
[سوال کوونکی: جبرآئیل علیه السلام په صورت دبشر]
**جواب**: ایمان دادی چی په خدای تعالی ﷻ باندی اودهغه په ملائکو او کتابو او رسولانو باندی او (ترمرګ وروسته په آخرت کی) دخدای ﷻ سره په ملاقات (یوځای کیدو) باندی اوتر مرګ وروسته په راپورته کیدو باندی یقین راوړی .
او اسلام دادی چی دخدای تعالٰی ﷻ عبادت وکی اودهغه سره هیڅوك شریك نکړی او لمونځ قآئم کړی (دهٔولو شرآئطو او آدابو سره یې ادا کړی) او فرض کړل سوی زکٰوة اداء کړی ، او درمضان دمیاشتی روژې ونیسی .
او احسان دادی چی دالله ﷻ عبادت په داسی حضور سره دزړه او اخلاص سره وکړی چی ګواکی ته خدای ﷻ وینی ، او که دومره ونسی نو بیا داسی فکر وکړه چی خدای ﷻ ما وینی . (بخاری او مسلم شریف)

(١). دموصوف او صفت دمطابقت تاویل دعلماوو څخه نه دی پټ . منه
(٢). ترجمه : چاچی تر غلطۍ تیریدنه وکړه اوتر خپله وسه پوری یې اصلاح وکړه هغه ته به الله تعالی اجر او ثواب ورکړی .

ketabton.com - The Digital Library



**شرح** : یو وخت دحضرت سیّد الاوّلین والآخرین ﷺ دربار عام سوی وو ، یعنی دی مبارك ﷺ په مسجد کی شریف کی ناست وو اوډیر صحابه کرام رضي الله عنهم په خدمت کی حاضر وه ، چی یو داسی سړی حاضر سو چی هغه دیو بل ځای اوسیدونکی او مسافر معلومیدی ولی چی دحاضرو کسانو څخه هیڅا هم دی نه پیژندی ، لیکن دسفر کمه علامه لکه ګرد، غُبار، دوړی اونور دده پربدن او جامه باندی ښکاره نه معلومیده بلکه نهایتی سپینی جامې او تور ځلیدونکی وریښتان یې وه ، هغه راغی دقانون مطابق سلام یې ادا کی (دبعضو روایاتو څخه معلومیږی چی یوازی جناب رسول الله ﷺ ته یې سلام وکی یعنی اَلسَّلاَمُ عَلَیْكَ یَا مُحَمَّدٌ (ﷺ) یې وِوایه) او دواړه زنګنونه یې کت کړه په ادب سره رسول مقبول ﷺ ته مخامخ کښېنستی، مګر دومره نژدی ورته کښېنستی چی خپل دواړه لاسونه یې پر دواړو زنګنو مبارکو درسول ﷺ کښېښول او دایمان او اسلام او نورو په اړوند یې پوښتنه وکړه ، چی دهغو سوالونو ده مبارك ﷺ جوابونه ورکړه، دخپلو سوالونو جوابونه یې واخیسته ، ولاړ سو او ولاړی، نو پدستی آنحضرت ﷺ خلګو ته حکم وکی چی ولاړ سئ هغه سړی بیرته را وګرځوی، خلګو دباندی وځغستل تلاش او پوښتنه یې وکړه نو هیڅوك مسافر په نظر نه ورغی ، تابه ویل چی ګواکی هغه سړی هیڅ کله نه وو دلته راغلی ، نو آنحضرت ﷺ دحاضرینو څخه پوښتنه وکړه چی پوهیږی دا څوك وو ؟ ټولو عرض وکی چی الله جل جلاله اود هغه رسول ﷺ ښه پوهیږی (یعنی موږ نه پوهیږو) نبی ﷺ وفرمایل چی دا شخص جبرآئیل علیه السلام وو ، ددې دپاره راغلی وو چی تاسی ته ستاسی دین در زده کړی، کله چی صحابه رضي الله عنهم دسوال (پوښتنی) کولو څخه اکثره بیریدل (لکه چی په بعضی روایتو کی دی چی په همدې مجمع او مجلس کی رسول الله ﷺ خلګو ته وفرمایل چی زما څخه څه زده کوی ، نو ټول په وجه درعب بالکل چپ او پټه خُله وه ، تردې وروسته بیا جبرآئیل علیه السلام تشریف راوړی) دجبرآئیل علیه السلام سوال اود آنحضرت ﷺ جواب هم صرف دپاره دتعلیم دصحابه وو رضي الله عنهم او دحاضرینو وو ددې وجه ده ﷺ وفرمایل چی جبرآئیل علیه السلام تاسی ته ستاسی ددین ددرښوولو په غرض راغلی وو .

**دپوښتنو جوابونه** : نبی ﷺ دایمان امور او شیان او دشریعت ضروریات په نهایتی عمدګی او وضاحت سره بیان کړل ، ددې وجی علماء فرمایی چی دا حدیث دهغو

ketabton.com - The Digital Library



احاديثو شريفه وو څخه دی کم چی داصولو څخه ددين او مدار داسلام دی، او دعبادات ِظاهره وو او باطنه وو او دزړو او بدنو دافعالو تفصيل او شرح په دې کی موجوده ده ، او ګواکی ټول علوم ِشرعيه ضروريه ددې څخه حاصليږی .
دايمان په متعلقاتو کی يې اول ايمان بالله ذکر کی ، چی دهغه دا معنی ده چی دهغه ﷻ دوجود او وحدانية او دلا شريك له منونکی وی .
او په ملائکه وو باندی ايمان راوړل دې ته وايي چی دهغو په وجود باور کوونکی وی اوداسی يې وبولی چی هغه په حقيقت کی داسی دی لکه څنګه چی خدای ﷻ دهغوی دحال بيان کړيدی چی هغوی عِبَادٌ مُّكْرَمُوْنَ يعنی بزرګان بندګان دی دخدای ﷻ په وړاندی ساه نسی کښلای (۱) او دهغه دحکم تعميل کوونکی دی .
پرکتابو باندی ايمان راوړل دا ډول دی چی يقين وساتل سی چی هغه دالله ﷻ کلام دی اوکم مضمونونه چی خدای ﷻ په هغوکی بيان کړيدی هغه بې له شبهې حق دی پر رسولانو باندی ايمان راوړل داډول دی چی دوی کمی خبری دالله ﷻ دطرفه موږ ته رارسوی اوپه خبروی مو ، هغوی نهايتی رښتينی او صادقان دی .
دلقآء الله يعنی دالله ﷻ دملاقات څخه مراد دادی چی دقبرو څخه تر راپورته کيدو وروسته دخپلو اعمالو دحساب او کتاب دپاره داحکم الحاکمين ﷻ په حضور کی حاضريدل ، چی دهغه نسبت په حديث شريف (۲) کی وارد سويدی چی (دحساب او کتاب دپاره) به ستاسی څخه هر يو دخپل رب ﷻ سره کلام وکړی په دې ډول چی نه به په مابينځ کی کم ترجمان وی اونه هم پرده .
تر مرګ وروسته دپورته کيدو څخه قيامت اودهغه متعلقات مراد دی ، لکه ميزان، صراط، جنت، نار او نور ، په لقآء الله او قيامت باندی دايمان راوړلو دا معنی ده چی ددې خبرو پرکيدلو ، واقع کيدلو او راتللو باندی يقين راوړل سی او دا وګڼل وسی چی بې له شکه دا خبری ښکاره کيدونکی دی لکه څنګه چی په قرآن او حديث کی ارشاد فرمايل سويدی .
په بعضو رواياتو کی دلته ايمان بالقدر هم بيان کړل سويدی، يعنی دايمان په

---

(۱). يعنی دالله ﷻ دامر هيڅ مخالفت نه کوی او نه يې هم کولای سی لکه الله ﷻ چی فرمايلی دی په سورة التحريم کی چی : لا يعصون الله ما امرهم ويفعلون ما يؤمرون . حقّانی"
(۲). داحديث په بخاری اومسلم کی دی، ترجمان هغه چاته وايي څوك چی ديوه سړی خبری بل ته ورپوهولای سی، يعنی چی ديوې ژبی څخه يې بلی ته ترجمه کړی اوپه ويی پوهوی ياپه بل ډول.

ketabton.com - The Digital Library



ضروری شیانو کی پـه تقدیر باندی ایمان راوړل هم لازمی دی ، یعنـی داسی فکر کول چی پـه دنیاکی ځومره شیان اعمال، افعال، اجسام، احوال اونور او نور کوچنی وی که غټ ، پټ وی که ښکاره ، هرڅه چی موجود اوپیدا کیدونکی دی هغـه ټول دواحد متعال ﷻ دعلم اوقدرت اوارادې څخه کیږی .

داسلام پـه تفصیل کی چی جناب سرورِ عالَم ﷺ کم عبادتِ خداوندی بیان کی دهغه څخه هغه داعلی درجې عبادت مراد دی چی دهغه برابرهیڅ بل عبادت نسته، یعنی دالله ﷻ دتوحید او درسولِ اکرم ﷺ دنبوت اقرار کول او : اَشْهَدُ اَنْ لاَّ اِلٰهَ اِلاَّ اللهُ وَاَشْهَدُ اَنَّ مُحَمَّدًا عَبْدُهُ وَرَسُوْ لُهُ ویل، او ددې سره یې دشرك څخه دځان ساتلو تاکید وفرمایی پـه کم کی چی عام اهلِ عرب بلکه ټولـه اهلِ دنیا مبتلا وه ، ولـی چی دی ﷺ ددې شرك دبیخ کښلو اوخالص دتوحید او رېښتینی دین دغوړولـو دپاره را استول سوی وو، بیا یې پـه تفصیل کی داسلام دصلوة (لمانځه) او زکوٰة او صوم یعنی روژې بیان وکی، کم چی ډیر ضروری فرض او عظیم الشانه عبادتونه دی ، چی ارکانِ اسلام او عماد الدین (ددین تنبې) ورته ویل کیږی.

دلته دحج دنه بیانولو وجه دا هم کیدی سی چی تردې وختـه پـوری فرض سوی نه وو ، لیکن کله چی دا واقعـه دحضور انور عَلَيْهِ الصَّلَاةُ وَالسَّلَامُ دآخری عمر مبارك (¹) ده ددې وجه زیاته صحیح او قوی دا خبره معلومیږی چی ده ﷺ دحج هم ذکر کړی وو (لکه پـه بعضو روایاتو کی چی دحج کولو ارشاد موجود دی (²)) ، لیکن یو وبل تـه پـه بیان کوونکو کی دیوه راوی څخه حج هیر سویدی .

مقصد داچی رسول ﷺ پـه دې جواب کی داسلام پنځه ارکان ۱. اقرار دتوحید او رسالت ۲. فرضـی لمونځونـه ۳. فـرض زکـوة ۴. درمضان روژه ۵. دبیت الله حـج ، واضح او ښکاره کړیدی.

داحسان دوې معناوی دی: دیوچا سره نیکی اوښه کول یا یوکار پـه عمده ، ښـه او مستحکم ډول سره ترسره کول ، دجبرآئیل عَلَيْهِ السَّلَامُ پـه جواب کی چی رسول ﷺ داحسان کمه شرعی معنی بیان کړیده هغـه دی دوهمی معنی تـه نژدی نژدی ده ،

---

(¹). که څه هم چی دلتـه ځو نـور احتمالونـه هم وه مثلا دا چی عبادت دی مطلقًا مراد وی، او دلمانځه وغیره ذکر دی عطف دخاص علی العام وی لیکن احقر دمحققینو خوښ کړل سوی اوپـه نورو روایاتو سره تائید کړل سوی قول نقل کړیدی . منه"

(²). دابن منده پـه روایت کی موجود دی. دکهمس روایت وګوره .

ketabton.com - The Digital Library



یعنی دخدای ﷻ عبادت په دومره خلوص او احتیاط او رعایت کولو ، سره دآدابو اداکول دی چی گواکی اصلی معبود برحق ته وینی اوورته گوری افعالِ تعظیمی پر ځای کوی یا داسی فکر وهل چی گواکی زه دخپلی کوتاهی او نا لائقی څخه هغه نه وینم لیکن هغه معبودِ حقیقی زما حرکات اوسکنات او احوال او افعال وینی .
حضرت افصح العرب والعجم ﷺ په دې الفاظو کی خپل کمال جوامع الکلم په پوره ډول ښکاره کړیدی ، په یوڅو الفاظو کی یې هغه خبری بیان کړیدی کمی چی په ډیر اوږد تقریر اوتحریر کی هم نسی ادا کیدلای ، ځکه بالفرض که یو سړی خدای ﷻ ته مخامخ ولاړ یې عبادت کوی نو هغه به په دومره عاجزی اومسکنت او ادب او تعظیم سره افعال ادا کوی چی تر بیانولو به وتلی وی مقصد چی څومره کوشش دی کوی سی هغومره کوشش به کوی اوپه دې کی به هیڅکله کوتاهی نه کوی. په دنیا کی وگوره کله چی یولوی افسر موجود وی نو ترده لاندی خلګ په څومره احتیاط او هوښیاری باندی کار کوی او پرکم کار چی دا گمان وی چی دابه دلوړ حاکم تر نظر تیریږی نو هغه به په څومره ښه انداز سره ترسره کوی ، طالب العلم هم دأستاد په وړاندی ترخپله وسه کوشش کوی ترڅو عبارت صحیح ووایی، علی هذا القیاس، نوکله چی پریو چا باندی مراقبه خداوندی تردې اندازې غالبه سی چی خپل هرکار او هر عبادت گواکی خاص داحکم الحاکمین په حضور کی پر ځای راوړی نودهغه اخلاص دهغه خشوع دهغه احتیاط دهغه دآدابو او شرآئطو مراعات ته به بیا حد (پای) نه وی، دا ټولی خبری وسوې اودڅه وجی څخه وسوې ، ددې وجی چی هغه خبر دی او گوری، نوکه چیری دا عبادت کوونکی بنده هغه ونه وینی ، خوبیا هم هغه همدغسی شاهد اوحاضر او ناظر دی ، ددې وجی په دې حالت کی هم ده ته دزړه او دظاهر دادابو او تعظیماتو لحاظ ساتل ضروری دی، لکه په مخکنی حالت کی چی کیدل، لیکن اول حالت نهایتی لوړ مقام او اعلی درجه ده چی دحق ﷻ معرفت دومره غالبه سی اوپه زړه کی دهغه عظمت اوجلال او وجودِ باکمال تردې اندازی پوری یوځای سی چی گواکی هغه په سترگو سره په نظر راځی ، او دوهم حالت گواکی داول حالت په نسبت په دوهمه درجه کی او یو څه راکښته مقام دی، لیکن دا هم ډیر محمود او قابل دتمنّا او عالیقدر حالت دی چی دعلم اوقدرت اونورو صفاتو دباری جلّ وعلی شانه عقیده په دې اندازه په زړه کی محکمه سی چی بیشکه هغه زموږ ټول اعمال او افعال ارادې او خیالات وینی.

ketabton.com - The Digital Library



اَللّٰهُمَّ اَعْطِنَا احْدَى الْحَالَتَيْنِ بِحُرْمَةِ سَيِّدِ الثَّقَلَيْنِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَآلِه مَادَامَ تَطْرَفُ الْعَيْنُ .

۲. **پوښتنه** : اى نبى ﷺ زه كه دخپل مولى (بادار او آقا) دمال څخه بې له اجازته دهغه ، صدقه وركړم نو آيا جآئزه ده او كنه ؟

[سوال كوونكى: حضرتِ عمير آزاد كړل سوى مريى دحضرت ابى اللحم رضي الله عنهما ]

**جواب** : هو ! وركوه يې ، ثواب به يې تاسى دواړو (مالك او مريى) ته نيمايى نيمايى ورسيږى . (مسلم)

**شرح** : مريى او مزدور ته بې له اجازته دمالك او بادار دومره قدر شى وركول جآئز دى چى دهغه اجازه داصطلاح او عادت څخه معلومه وى او بادار دهغه په وركولو باندى رضا مند وى، كه بادار او مالك بالكل منع وكړى او دوركولو څخه هميشه ناراضه وى نو مريى او مزدور ته ډير لږه اندازه خيرات وركول هم ناجآئز دى. دثواب او اجر دنيمايى نيمايى كيدو مطلب دادى چى څومره اندازه چى مالك ته ثواب وى هغومره به تاته هم وى، دا مقصد نه دى چى دمالك دثواب څخه به نيمايى تاته ورسيږى، په بل حديث شريف كى دا خبره صافه ذكر ده چى داسى نه كول كيږى چى ديوه څخه اجر كم كړل سى بل ته وركول سى بلكه هغه ته به جلا ثواب رسيږى .

۳. **پوښتنه** : يا رسول الله ﷺ كه زه دابو سلمه پر اولاد باندى مال خرڅ كړم ، كم چى زما هم اولاد دى نو آيا ماته به اجر او ثواب حاصل سى او كه نه ؟

[سوال كوونكى : حضرتِ ام سلمه رضي الله عنها ]

**جواب** : هو ! پر هغه يې خرڅ كړه ، پر هغه باندى په خرڅولو سره به تاته هم ثواب ورسيږى . ( بخارى ، مسلم )

**شرح** : ام سلمه رضي الله عنها مخكى دحضرتِ ابو سلمه ؓ په نكاح كى وه ، دى درسول الله ﷺ دعمه زوى ورور اوډير لوى ځان قربانى كوونكى صحابى وو ، په سنه ۴ هجرى كى يې څو بچيان پاته سول او دى وفات سو، او څه وخت وروسته ام سلمه رضي الله عنها ته په ازواج مطهراتو رضي الله عنهن كى دداخليدو شرف حاصل سو او دآنحضرت ﷺ سره يې نكاح وسوه . دا پوښتنه هغې رضي الله عنها پر كوچنيانو باندى دمال خرڅولو په نسبت پيش كړيده ، كله چى دا په خپله ددې كوچنيانو مور وه نو دا شبه كيدى سوه چى شايد ددوى دپرورښت او نورو دپاره پردوى باندى دمال په مصرفولو كى ثواب نه وى ، ليكن دجناب سرور عالَم ﷺ دارشاد څخه معلومه

ketabton.com - The Digital Library



سوه چې په دې کې هم ثواب تر لاسه کیږي ، ځکه دخیر په نیت چې څوك دخپل اولاد په مصارفو کې مال خرڅوي ، هغه ته به تر عادي خیراتو هم زیات ثواب ورکول کیږي ، لیکن فرض صدقې او نور (لکه زکوٰة او یا سرسایه) پر خپل اولاد خرڅول اودوي ته ورکول جآئز نه دي.

۴. **پوښتنه** : یا رسول الله ﷺ دکمې صدقې ثواب او اجر ډیر لوی دی ؟

[سوال کوونکی : یوسړی چې غالبًا به ابو ذرِ غفاریؓ وو، په روایت دابو هریرة ؓ ]

**جواب** : افضله او بهتره هغه صدقه ده چې ته په داسې حالت کې صدقه وکې چې جوړ یې او بخل کوونکی یې او دمفلسۍ بیره وی درباندی ، او دمالداری طمع دی وی، دومره یې مه ځنډوه چې څه وخت دې روح ستونی ته را ورسیږي نو بیا وایې چې دومره فلانی ته ورکړه او دومره فلانی ته ، ځکه چې اوس خو ستا مال دبل سو. (بخاري ومسلم)

**شرح** : یعنې زیات ثواب او اجر دهغه صدقې دی کمه چې په حالت کې دصحت او ژوند ورکړل سی ، ولی چې په دې وخت کې دمال سره محبت وی او طمع وی چې دیوې خوا څخه مال پیدا سی او زیات غنی سم ، په دې وخت کې مال ورکول پر نفس باندی ډیر گرانه پریوزی ، شیطان وسوسې وراچوی چې مال ولی خرڅوی معلومه نه ده چې څومره عمر به می لا پاته وی اوپه کم کم ځای کې به ضرورت پیښیږي ، چاته چې دخدای ﷻ رضا مطلوبه وی او دآخرت اجر یې خوښ وی هغه یې په صحت او حیات کې خرڅوی اوکله چې روح ستونی ته راورسیږي او دمرگ وخت رانژدې سی په دې وخت کې د مال محبت کمیږي ، ددنیا دخوشحالیو څخه زړه پرې کیږي ، په دې پوهیږي چې اوس به زه رخصت کیږم په دې وخت کې زړه وخیرات او صدقې او وصیت کولو ته کیږي چې فلانی ته دومره ورکې او په فلانی مسجد کې دومره اوپه فلانی مدرسه کې دومره خرڅې کې ، په دې حالت کې وفلانی او فلانی ته په ویلو کې څه گټه ده ، ځکه اوس خو دامال دبل چا سو یعنې دوارثانو حق په دې پوری متعلق سی . په بل حدیث شریف کې راغلی دی چې کم سړی دمرگ په وخت کې خیر او خیرات کوی دهغه مثال داسې دی لکه چې یو سړی ترخپل نس ډکیدلو وروسته باقیمانده پاته سوی نورو ته ورکوی که څه هم چې په دې حالت کې ثواب بیخی کمیږي لیکن خالی دثوابه څخه داهم نه دی لکه آنحضرت ﷺ چې فرمایلی دی چې په خپل صحت او ژوند کې دیو درهم صدقه

ketabton.com - The Digital Library



کولـو ثـواب دمـرګ پـه وخـت کـې دسـلو ۱۰۰ درهمـو ترصـدقه کولـو زيـات دی (ابوداؤد)

**۵. پوښتنه** : يا رسول الله ﷺ دمحرم دپاره کمی کمی جامې (کالی) اغوستل جآئز دی ؟

[سوال کوونکی : يو سړی ، په روايت دعبد الله بن عمر رضي الله عنهما ]

**جواب** : نـه بـه قمـيص اغونـدی او نـه لنګوټـه او پايجامـه ، او نـه بـه دبـاران کـوټ اغوندی اونه به موزی اغوندی ، او که چا بوټو تـه لاس رسی نـه درلـودی نـو مـوزې دی واغوندی او هغه دې تـر بجلکو لاندی پـرې کـړی ، اونـه بـه هم داسـی يـو جامـه اغوندی چی هغه په زعفران يا ورس رنګيدلی وی . (بخاری)

**شرح** : پـه کـم وخـت کـی چـی رسـول الله ﷺ دحـج دپـاره روانيـدونکی وو پـه مدينـه منوره کی په مسجدِ نبوی کی يـو سـړی سـوال وړانـدی کـی چـی څـه وخـت چـی مـوږ محرم سو نوموږ ته کمی کمی جامې اغوستـل جآئز دی ؟ ددې سـوال کـوونکی نـوم وعلمـاوو تـه پـه تحقيـق کـی نـسو ثابـت چـی څـوك وو غالبًـا بـه دهغـو فرديـسو مسلمانانو څخه يو څوك وو چاچی دده ﷺ دحج دارادې خبر واوريدی نو دده ﷺ سره مکې مکرمې تـه ديوځـاى تللو دشـوق دوجـی مـدينې شـريفې تـه راغلـی وو ، سوال کوونکی هغه جامې پيدا کـړی وی دکمـو چـی اغوسـتل جآئز دی ، لـيکن کلـه چـی داسـی جـامې بـې شـماره او بـې تعـداده وی ددې وجـی جنـاب افـصح العـرب والعجـم رسول الله ﷺ پـه نهايتی مختـصرو او جامعو الفـاظو کـی پـه حکيمانـه او عالمانه ډول سره دناجآئزو شيانو ذکر ورته وکی ، چی ددې څخـه معلومـه سوه چـی ددې ماسوا چی کم شيان دی دهغو استعمال جآئز دی ، پـه دې کـی جـواب کـی چـی نبی ﷺ کم حکم فرمايلی دی هغه په اتفاق دعلماوو دنارينه وو دپـاره دی ، ښځوته په حالت داحرام کی ددې ټولو شيانو اغوستل جآئز دی ، البتـه پـه زعفـران يـا ورس سره رنګ سوی جامې ددوی دپاره هم نا جآئزی دی .

قميص: ګُرتـۍ تـه وايـی مګـر د انګيـا او عبـا (۱) او چپنـی او شـروانی (۲) او کـوټ ټولـو دغـه حکـم دی، او دکرتـۍ او پاجامې دبيـان کولـو څخـه مـراد دادی چـی هـره جامه چی ګنډل سوی وی هغه ناجآئزه ده . بُرنس : دباران کوټ ته وايی ، دبُرنس او

---

(۱). عبا : هغه اوږد کوټ ته ويل کيږی کم چی تر پښو پوری وی . حقانی"

(۲). دا هم يو ډول اوږده جامه ده چی دنامه څخه تر زنګنو پوری وی . حقانی"

ketabton.com - The Digital Library



لنګوټې دممانعت په حکم کی هغه ټولي جامې داخلی دی په کومو سره چی سر پټیږی برابره خبره ده که هغه ګنډل سوی وی او که نه وی . موزه : یعنی خف ، اغوستل منع دی لیکن که چیری چپلکی یا بوټونه نه رسیدل نو موزه دی دلوړی خوا څخه دومره پرې کړی چی بجلکی ښکاره سی او دچپلکو په ډول سی. په زعفران او رس سره رنګول سوی جامه اغوستل هم ناجآئزه دی ، لیکن که چیری په پرېولو سره داسی سی چی خوشبویی نه ورڅخه راځی نو بیا جآئز دی . ورس : یو قسم ژړ رنګه خوشبوی داره وابنه دی ، چی په بیابانو کی پیدا کیږی او ترشلو ۲۰ کالو ابښولو پوری هم نه خرابیږی، عربو به په دې سره جامې رنګولې .

**فآئده** : (یوازی دپاره دطالبانو) کله چی په اکثرو روایتو کی دسوال کوونکی سوال په لفظ سره د : ما یلبس المحرم ، ذکر دی ، ددې وجی ددې جواب په نسبت کی علماوو فرمایلی دی چی دا جواب پر طریقه دحکیم دی (ولی چی مناسب په جواب کی هغه جامه وه چی منع وی په احرام کی) لکه چی د يَسْئَلُوْنَكَ مَا ذَا يُنْفِقُوْنَ په جواب کی : قُلْ مَا أَنْفَقْتُمْ مِّنْ خَيْرٍ فَلِلْوَالِدَيْنِ فرمایل سویدی ، اود : يَسْأَلُوْنَكَ عَنِ الْأَهِلَّةِ په جواب کی : هِيَ مَوَاقِيتُ لِلنَّاسِ فرمایل سویدی ، لیکن ددې روایت په بعضو طریقو کی دسوال الفاظ : مَا يَتْرُكُ الْمُحْرِمُ روایت سویدی (رواه ابوداؤد وابو عوانة) ددې الفاظو موافق جواب ته دعلی اسلوب الحکیم (دحکیم دطریقې مطابق) ویلو ضروت نسته بلکه په دې صورت کی جواب علی ظاهر السوال دی.

**اړوند مسئلې**: که چپلکی یا بوټونه هم پیدا کیده لیکن ده موزه تربجلکو پوری څیری کړل بیا یې هم اغوستل جآئز دی مګر ښه نه دی ، ګنډل سوی پټو (څادر) په حالت کی داحرام استعمالول بې له شبهې جآئز دی، که دروپیو یا پیسو همیانۍ ګنډل سوی پر ملا باندی وتړی نو جآئز دی، پر سر باندی که یې چیری اسباب یا سایوان پورته کی نو هیڅ خبره نه ده .

۲. **پوښتنه** : ای شفیع المذنبین (ﷺ) ترټولو بهتره عمل کم یو دی ؟

[سوال کوونکی : صحابه ﷡ ، په روایت دام فروة ﷞ ]

**جواب** : په اول وخت کی لمونځ کول . (ترمذی)

**شرح** : جناب سرورِ عالَم ﷺ دترټولو بهتر عمل دسوال په جواب کی مختلفو خلګو ته مختلف جوابونه ورکړیدی ، چاته یې جواب ورکړیدی چی ایمان ترټولو بهتر

ketabton.com - The Digital Library



دی چاته يې ارشاد فرمايلی دی چې جهاد ترټولو ښه عمل دی ، ددې وجه داده چې هر يوه سوال کوونکی ته يې دمناسب او لائق عمل ارشاد فرمايلی دی چې ستا دپاره دا افضله ده ، ددې تفصيلی بحث په بل ځای کی ذکر دی.

لمونځ : په پوره پابندی سره دهغه په مستحب او سنت وخت کی ادا کول ډير لوی کار دی، دا ضروری نه ده چې څه وخت وخت داخل سو فوراً دی لمونځ شروع کوی بلکه په مسجد کی دلمونځ کوونکو دانتظار څخه وروسته په مستحبو وختوکی چې کم لمونځونه ادا کيږی هغه هم ګواکی په اول وخت کی ادا سويدی .

۷. **پوښتنه** : دمکې په لارو کی موږ تلو راتلو بعضی خلګ مُحرِم (احرام تړلی) وه او بعضی غيرِ محرم ، ابو قتادة رضی الله عنه په هغو خلګو کی وو چې محرم نه وه ، خلګو يو ځای دوحشی خرو ډلګۍ وليدل ليکن دخپل احرام په وجه دهغو دښکار کولو څخه منع سوه ، مګر ابو قتادة رضی الله عنه چې کله محرم نه وو نو پر خپل آس باندی (دښکار کولو په نيت) سپور سو اوخپلو ملګروته يې وويل چې زما ليندۍ راپورته کی نو هيچا نکړه ورپورته يايې نيزوه وغوښته نوهيچا نکړه ورپورته ، آخر خپله راکښته سو پورته يې کړه او پر وحشی خره باندی يې حمله وکړه په هغو کی يې يوه ماده ښکار او را غوځاره کړه ، دهغې غوښې بعضو ملګرو دناجآئز کيدو دوجی نه وخوړلی ، اوبعضو وخوړلی ليکن وروسته يې فکر وکی چې موږ خو محرم يو نو ښکار خوړل به څنګه راته جآئز وی ، ددې وجی پاته غوښې يې دځانه سره راوړی .

[سوال کوونکی : دمکې معظمې په سفر کی دابو قتادة رضی الله عنه ملګری]

**جواب** : کم چې ددې غوښو څخه پاته دی هغه (هم) وخوری ددې وجی چې هغه يو خوراك دی چې الله تعالی تاسی ته در وخوړی . (بخاری ومسلم شريف وغيرهما)

**شرح** : دهجرت په شپږم کال حضرتِ رسول مقبول ﷺ دعمرې کولو دپاره دمدينې منورې څخه دمکې معظمې طرف ته دپنځلس سوو ۱۵۰۰ مسلمانانو سره روان سو، تردې وخته پوری په مکه معظمه کی دکافرانو دخل (اختيار) وو ، څه وخت چې دی ﷺ حُديبيې ته ورسيدی (کم چې مکې ته نژدې ديوه ځاه په نامه کوچنۍ ځای دی) دمکی کفارو دی ﷺ دمخ ته تګ کولو او مکې ته دداخليدلو څخه را وګرځوی او دعمرې نکولو يې ورته وويل ، مسلمانان دجنګ دپاره آماده وه او په جنګ کی دثابت قدم پاته کيدو دپاره رسول مقبول ﷺ دصحابه وو رضی الله عنهم څخه

ketabton.com - The Digital Library



بیعت اوعهد هم اخیستی وو ، لیکن دآنحضرت ﷺ په مشورې سره پر ډیرو شرطو باندی صلح وسوه او دا قرار داد وسو چی په راتلونکی کال کی به دعمرې کولو دپاره راځی اودرې ورځی به په مکه کی پاتیږی بیرته به ځی، دې صلح ته صلح حدیبیه او دې سفر ته عمرۂ حدیبیه او غزوۂ حدیبیه وایی ، چی ددې ډیره اوږده ، په زړه پوری او داسرارو ډکه قصه دسیرت او حدیثو په کتابو کی ذکر ده .
په دې سفر کی ابو قتادة رضي الله عنه هم دمدینې منوری څخه دآنحضرت ﷺ سره ملګری وو کله چی دروحآء نومی ځای ته ورسیده (کم چی دمدینې څخه دیرش ۳۰ یا څلوېښت ۴۰ میله لیری دی) نو آنحضرت ﷺ ته خبر ورسیدی چی دمشرکینو یو لښکر دغیقه په ځنګل کی (کم چی دمکی په لار کی ستیا ته نژدی یوځای دی) مسلمانانو ته کمین نیولی دی چی موقع پیدا کی دده ﷺ پر ملګرو باندی چاپه او حمله وکی ، ده ﷺ دخپلو ملګرو مسلمانانو څخه یوه ټولۍ ددوی دسزرنشت ، ټکولو او دفاع کولو دپاره واستوله ، ابو قتادة رضي الله عنه هم په دوی کی وو ، هغه خلګ یې مات کړه او اطمینان یې حاصل کی ابو قتادة رضي الله عنه اودهغه ملګری صحابه کرام رضي الله عنهم دآنحضرت ﷺ دلښکر سره بیرته یوځای سوه ، او ټولو خلګو احرام تړلی وو ، لیکن ابو قتادة رضي الله عنه او دهغه ملګرو احرام نه وو تړلی (غالبًا ابو قتادة رضي الله عنه پر مقام دذو الحلیفة باندی نه وو تیر سوی، کم چی دمدینې څخه شپږ میله لیری دی چی ددې ځایه څخه اهلِ مدینه وو ته احرام تړل ضروری دی او کم ته چی میقات وایی ، بلکه دبلی لاری څخه راغلی دی، یا ترهغې زمانې پوری داحرام تړلو مواقیت او ځایونه نه وه متعین سوی) یوه ورځ دی دبعضو ملګرو سره پریوه منزل (تمهام قاحة) باندی کښنته سوی وو او جناب سرور عالَم ﷺ سره دنورو ملګرو صحابه وو رضي الله عنهم مخ ته تشریف وړی وو ، ابو قتادة رضي الله عنه کښېښستی په خپلو بوټونو کی یې پیوند لګوی دده ملګرو دیوه حمارِ وحشی ماده شاوخوا ګرځیدونکی ولیده مګر کله چی په حالت کی داحرام ښکار کول حرام دی ، ددې وجی یې نسوای ښکار کولای او یو او بل طرف ته یې کتل او خندل یې چی عجبه حالت دی چی ښکار موجود دی مګر دویشتلو اجازه یې نسته، زړه خو یې غوښته چی ابو قتادة رضي الله عنه دا ووینی او ښکار یې کړی لیکن کله چی هغه دخندا سبب وپوښتی او سر یې را پورته کی دلیری څخه یې هغه خر ولیدی او ویې پوښتل چی هغه چشی دی نو ټولو ملګرو یې غاړی کړې کړی او پټه خُله

ketabton.com - The Digital Library



کښېنسته او ویې ویل چې موږ ته معلومه نه ده چې چشې دی ، ولې چې دوی حضرات په دې پوهېده چې که چیرې موږ یوه ذره اشاره وکړه اوده ته مو وروښووی یا موپه یوه بله طریقه کومك ورسره وکی نودده ښکاربه زموږ په واسطه سره ناجآئزه سی . آخر ابو قتادة رضی الله عنه خپله ولاړ سو او پرخپل آس باندی یې زین اونور شیان کښېښوول اوپر سپور سو ، لیکن لیندۍ اخیستل یې ورسره هیر سوه، اندېوالانوته چې یې هر څو واره وویل مگر چا ورنکړه ، ولې چې دا هم یو قسم کومك دی ، په خپله را کښته سو اودخپل یوه ملگری لیندۍ یې ورسره واخیسته او دهغه وحشی خره په شا پسی یې آس وځغلوی او هغه یې په نیزه سره وویشتی او راغلی ملگرو ته یې وویل چې راځئ اوس خو یې نو راسره پورته کی لیکن هغو داهم یو قسم کومك گڼی او دراپورته کولو دپاره هم نه ورسره ولاړه آخر ابو قتادة رضی الله عنه په خپله راوړه او په ټولو یې یوڅای غوښی سره وخوړلی ، مگر بیا بعضو خلگوته شبهه وسوه چې شاید دابه ناجآئزی وی او وې ویل چې درسول صلی الله علیه وسلم په موجود والی کی موږ بې له پوښتنی دا غوښی ولې وخوړلی، کله چې دصحابه وو رضی الله عنهم دا ډلگۍ کوچنۍ وه دديې وجه دا اندیښنه وه چې ددې خوا یا هغې خوا څخه کم دښمن ضرر را ونه رسوی اودمسئلې دپوښتلو هم ضرورت وو ، ددې وجې ابو قتادة رضی الله عنه آس وځغلوی دخلگو څخه یې دنبی صلی الله علیه وسلم داوسیدنی او قیام دځای پوښتنه وکړه دآنحضرت صلی الله علیه وسلم خدمت ته ورسیدی او عرض یې وکی چې یا رسول الله صلی الله علیه وسلم ستا بعضی خادمان شاته را روان دی تاته سلام وړاندی کوی هغوته بیره ده چې هسی نه پردوی باندی کم دښمن رانسی ددې دپاره تاسی لږ انتظار وکی ، تر لږ انتظار وروسته هغه خلگ هم راغله ، ابوقتادة رضی الله عنه او هغو دوحشی خره دښکار قصه وړاندی کړه نو ده صلی الله علیه وسلم وفرمایل چې په تاسی کی خوبه چا څه داشارې یا ددلالت (لارښوونی) کومك نه وی ورسره کړی ټولو عرض وکی چې نه ! نبی صلی الله علیه وسلم وفرمایل چې وې خوری حلال دی اودهغو دزړه دخوشحاله کولو او بالکل دشبهې لیری کولو دپاره یې وفرمایل : چې ماته هم په هغه کی یوه برخه را کړی .

۸. **پوښتنه** : یا رسول الله صلی الله علیه وسلم ترټولو بهتره سړی څوك دی ؟ او ترهغه بعده بیا څوك دی ؟ [سوال کوونکی: نامعلوم نامه شخص]

**جواب**: ترټولو ښه هغه سړی دی چې دخدای جل جلاله په لاره کی جهاد کوی ترده وروسته

ketabton.com - The Digital Library



هغـه مـومن ځـوك چې دغـره دغـارو څخـه کې پـه يـوه کې اوسـی دخدای ﷻ څخـه بيريږی او خلګوته تکليف نه ور رسوی (ترمذی) .

**شـرح** : دجهـاد نفـع اوګټـه چـی کلـه متعـدی وه يعنـی نوروتـه هـم رسـيده ، دالله ﷻ دمخلوق دپـاره هدايت وی ، دکفـر تـاريکی ايسـته کيـږی ، اودايمـان دروښـنايی پـه غوړيدو سره کلمة الله لوړيږی يعنی دالله ﷻ يادول لوړيږی ددې وجی يې جهـاد تـه افضله وفرمايـل اوپـه ګوښـه کښـښـستو او يـوازی والـی کـی چـی کلـه يـوازی دهغـه شخص نفع وی نوځکـه دايـې پـردوهم نمبر باندی راوړل مګر ددې هم ډير فضيلت دی ولی چی دين او ايمان په دې باندی سـالم او جوړ وی خلګوتـه دضرر رسـولو او نورو ګناهونو څخه محفوظه کيږی دالله ﷻ عبادت کوی .

۹. **پوښتنه** : يارسـول الله ﷺ مـا پـه دوولـس ۱۲ دينـاره يـو هـار رانيـولی دی چی پـه هغه کی پر سرو زرو باندی غميان لګيدلی وه ، ما غميان ورڅخه ليـری او جلا کـړه نوپه دې کی تر دوولسو ۱۲ دينـارو (۱) زيـات سره زر راووتـه ، پـه دې ډول رانيـول جآئز دی اوکه نه ؟ [سـوال کـوونکی : فـضاله بـن عبيـد رضی الله عنه ]

**جواب** : دا ډول بيع جآئزه نه ده ترڅو چی غمی او مال ( سره زر ) سره جلا جلا نـسی (ابوداؤد ومسلم ونسائی ) .

**شرح** : شرعی قاعده داده چی دسرو زرو او چاندی بيـع کـه چيـری دهغـه دجنس سره وی مثلا سره زر دسرو زرو پـه بدلـه کی خرڅوی يـا سـپين زر دسـپينو زرو پـه عـوض کـی خرڅـوی نـو دواړو طرفوتـه سره زر او سـپين زر برابريـدل غـواړی ، کـه چيـری درانيوونکی سره سپين زر کم او بل طرف تـه زيات وی نودا بيـع ناجآئزه او حرامـه ده، نوڅه وخت چی په دوولسو ۱۲ دينارو باندی هار يا اميل واخيستل سو پـه هغـه کـی سـره زر راووتـه او دواړو طرفوتـه سـره زر برابـر نـه وه بلکـه رانيـوونکی تـه

---

(۱). دينار او درهم پخوانۍ پيسی وی چی دينار بې دسرو زرو څخه او درهم بـه بې دسپينو زرو څخه جوړ کړی وو، نوځکه په دينار باندی سره زر اخيستل داسی سوه لکه سره زر چی پـه سرو زرو بدل کړل سی همدارنګه په درهم باندی سپين زر اخيستل داسی سوه لکه سپين زر چی پـه سپينو زرو بدل کړل سی ځکه چی پـه دې دواړو سوداوو کی دواړو طرفوتـه يوجنس دی او ديـوه جنس (شيږ) شيانو پـه بدلـه کی داشرط دی چی دواړه به سره مساوی وی، اوکه چيری يـوه طرف تـه پرسرو زرو سربيره غميان يانور څه هم وه نو دهغو دپاره جلا سره زر ياقيمت شرط دی. حقانی

ketabton.com - The Digital Library



ددوولسو دینارو په بدله کې تر دوولسو دینارو زیات سره زر ورسیدل او غمی او نور شیان مفت پاته سوه ځکه نو دداسې بیع دناجائز والي حکم آنحضرت ﷺ وفرمایی. اووې فرمایل چې دا ډول سره زر یا سپین زر ترڅو چې دغمي او نورو شیانو څخه جلا سوی نه وی نه خرڅول یې پکار دی ، دجلا کولو څخه به یې دا معلومه سي چې په زرو کې څومره قدر سره زر یا سپین زر دی ترڅو چې دخریدار څخه دومره قیمت واخیستل سي چې دسرو زرو په بدله کې سره زر وصول سي ، او یوڅه قیمت دغمي او نورو دپاره هم پاته سي ، او هر ځای دزرو ماتولو او پرې کولو ضرورت پیښ نسي بلکه که چیری دمخکې څخه دسرو زرو یا سپینو زرو اندازه معلومه وی یا داندازه کولو څخه یقیني معلومه سي چې دپیسو سره زر تر سپینو زرو زیات دی بیاهم بیع جائزه ده ، مقصد دادی چې درانیوونکي دسرو زرو یا سپینو زرو (یعنی قیمت دروپیو یا اشرفیو) دزرو ترموجودو سرو زرو یا سپینو زرو یوڅه زیاتیدل پکار دی ترڅو چې درانیوونکي سره زر یاسپین زر یوڅه دسرو زرو یا سپینو زرو په مقابله کې حساب کړل سي اوپاته دغمي او نورو په قیمت کې ولګول سي ، که چیری درانیوونکي دروپیو سره زر یا سپین زر دخرڅوونکي دسرو زرو یا سپینو زرو سره برابر یایوڅه کم سي یایې اندازه هم نه وی معلومه چې زیات دی که کم نوبیع به هیڅکله جائزه نسي ، البته که چیری جنس بدل سو یعنې یوه طرف ته سره زر وی بل طرف ته سپین زر ، یا درانیوونکي سره سپین زر وی اودخرڅوونکي سره سره زر نوبیا ددواړو طرفو دبرابریدلو شرط نسته بلکه که کم یا زیات هم وی نوبیع جائزه ده ، البته دا اوس هم ضروری ده چې نقده معامله وی دواړه شیان دی هغه وخت کې لاس په لاس ورکړل سي په قرض (پور) معامله دی نه وی .

۱۰ . **پوښتنه** : زما یوې مینځې پر سلع (کم چې په مدینه کې یوکوچنی غردی) بزې څرولې چې په هغو کې یې یوه بزه (دیوه مرض اویابل شي دوجې) مړه کیدونکې ولیده یوه ډبره یې ماته کړه (اودهغې په تیره اونری طرف باندی یې) هغه بزه ذبح کړه ، اوس په دې ډبری سره دذبح کړل سوی بزې خوراك جائز دی که نه ؟

[سوال کوونکی : کعب بن مالك رضي الله عنه ]

**جواب** : هغه وخوره (ولې چې په تیره اوتیز شي سره ذبح کړل سوی چې دهغه څخه

ketabton.com - The Digital Library



وینی وبهیږی حلال دی برابره خبره ده که هغه اوسپنه وی اوکه کاڼی یا دیوه لرگی ټوټه ) . ( بخاری شریف ومؤطا امام مالك وغیره ) .

**شرح** : سوال یې ددې وجې کړی وو چې په ډېره سره دذبح کړل سوی حیوان په حلالیدو کی شبه وه چی هغه ده ﷺ جآئز او حلاله وفرمایل اودخوړلو اجازت یې ورکی ، لیکن ددې څخه دوهمه مسئله دا هم معلومه سوه چی دښځی ذبیحه هم حلاله ده دجمهورو علماوو همدغه مذهب دی لیکن دامامِ شافعیؒ په مذهب کی یو روایت داهم دی چی دښځی ذبیحه مکروه ده ، ددې واقعې څخه دا هم معلومه سوه چی مزدور او امانت ساتونکی اونورو ته دبل چا په مِلك کی بې له اجازې دهغه داسی تصرف جائز دی چی په هغه کی دهغه خیرخواهی اوگټه وی اوپه تصرف نه کولو کی یې نقصان ښکاره وی ، لکه چی دې ښځی که دابزه نه وای حلاله کړی نو مړه کیده او ضآئع کیده .

۱۱. **پوښتنه** : یا رسول الله ﷺ (ددجال دراوتو په زمانه کی چی کله یوه ورځ دپوره یوه کال سره برابره سی نو) آیا موږ ته په دې پوره ورځ کی دعادی ورځو مطابق دیوې ورځی لمونځونه یعنی یوازی پنځه لمونځونه کافی او بس دی اوکه به زیات لمونځونه کوو ؟

[سوال کوونکی : صحابه رضی الله عنهم په وخت کی دذکر ددجال ]

**جواب** : دیوې ورځی لمونځونه کافی نه دی ، بلکه ددې دپاره به اندازه لگوی (او لمونځونه به کوی) یعنی څلورویشت ساعته به یوه ورځ گڼی اوپه هغه کی به پنځه لمونځونه په دومره دومره اندازه لیری لیری کوی لکه همیشه چی مو کول (ترمذی ومسلم شریف) .

**شرح** : آنحضرت ﷺ یو وخت ددجال حال بیانوی اوخپل صحابه رضی الله عنهم یې دهغه څخه بیرول ، تر ډیرو حالاتو بیانولو وروسته نبی ﷺ وفرمایل چی هغه ( دجال ) به دهغه لاری څخه راوزی کمه چی دشام او عراق په مابینځ کی واقع ده ، ای دخدای جل جلاله بندگانو په هغه وخت کی ثابت قدمه اوسئ ، صحابه وو رضی الله عنهم عرض وکی چی یارسول الله ﷺ هغه به ترڅه وخته پوری په دنیا کی پاته سی نبی ﷺ وفرمایل تر څلویښتو ۴۰ ورځو پوری ، چی په هغوکی به یوه ورځ دیوه کال په اندازه اوږده وی او یوه ورځ به دیوې میاشتی په اندازه اوږده وی او یوه ورځ به دیوې هفتې په اندازه اوږده وی اوپاته ورځی به یې ستاسی دعادی ورځو په شان وی ، داچی یې

ketabton.com - The Digital Library



واوریده نو صحابه وو رضي الله عنهم دا پوښتنه وړاندی کړه ، یعنی په دې اوږده ورځ کی به دلمر درفتار او راختو او لویدو په حساب باندی دقاعدې مطابق پنځه لمونځونه کافي وی اوکه نه ؟ نبی ﷺ وفرمایل چی نه ! کافی نه دی بلکه په اندازه او حساب سره به تر لږ لږ وخت جلا کولو وروسته دماپښین مازدیګر او ماښام لمونځونه کوی (که یوکال ۴۲۰ ورځی واخیستل سی نوپه دې ورځ کی به اته لس سوه ۱۸۰۰ لمونځونه وکړل سی) ، انشآء الله تعالی دجناب رسول الله ﷺ پیش ګویی به ضرور صادقیږی .

وګورئ الله ﷻ داوسه څخه دهغې ورځی دلمونځو داندازې کولو اسباب او سامان پیدا کړیدی ، ځای پرځای ګړیانی او ساعتونه موجود دی، دهرموسم دلمانځه وختونه دګنتهو په حساب سره خلګو لیکلی دی په هغه اوږده ورځ کی به هم دقاعدې مطابق پرعادی ګنتهو باندی لمونځونه کول کیږی په څلورویشت ۲۴ ساعتو کی به پنځه ۵ لمونځونه ادا کول کیږی .

**فآئده** : بلغار یو ښار دی چی هلته دماښام تر لمانځه وروسته دشفق لویدلو سره سم صبح صادق (سپیدې) را ښکاره کیږی ، دماخستن وخت ګرسره راځی نه بعضی علماء خو وایی چی پرهغو باندی دماخستن لمونځ فرض دی دهغه قضاء راوړل پکار دی که څه هم چی دهغه (دماخستن دلمانځه) وخت هم نه دی پیدا سوی لکه چی ددجال په اوږده ورځ کی نبی ﷺ دډیرو لمونځونو دکولو حکم ورکړیدی حال دا چی په دې ورځ کی به وخت صرف دپنځو لمونځو راسی ، او بعضی علماء وایی (لکه دعلمآء حنفیه وو قولِ راجح چی هم دغه دی) چی دبلغار اوسیدونکو چی کله دماخستن وخت نه ودرلودی ددې وجی پرهغو باندی دماخستن لمونځ فرض دی، دوی فرمایی چی په دې اوږده ورځ کی به هم چی کله دزیاتو لمونځو وخت نه ودرلودای سی ددې وجی که چیری موږ دقاعدې مطابق حکم ورکوو نوداسی به وایو چی دپنځو لمونځو څخه زیات په دې پوره ورځ کی نه دی فرض ، لیکن درسول مقبول ﷺ دوینا په وجه دقیاس او قانون څخه مخالف دا حکم منل سویدی چی په دې اوږده ورځ کی دی دپوره کال لمونځونه ادا کړل سی .

دوهمه وجه دفرق دا کیدی سی چی په بلغار کی په حقیقت کی دماخستن وخت راتللای نسی ځکه نو لمونځ یې نسو فرض او ددجال په ورځو کی به دلمر راختل او لویدل شپه او ورځ دقاعدې مطابق وی او دلمونځو وختونه به په عادی ډول

ketabton.com - The Digital Library



سره راتلونکی وی ، لیکن ددې بد بخته (دجال) په سحر او جادو او نظر بندی سره به (چی دهغه قدرت ده ته دالله ﷻ دطرفه ورکول سویدی) په زرهاوو نادرې او عجآئبی ښکاره سی ، اور به داوبو په شکل ښکاره سی ، اوبه به داور په شکل ښکاره سی ، دخلګو دنظر بنده کیدلو په وجه به دوخت تیریدل په سترګو نه معلومیږی اونه به محسوس کیږی، ددې وجی څخه لمونځونه ټول فرض سوه ، ولی چی لمونځونه خدای ﷻ په اصلی وختو پوری متعلق کړیدی ، دیوچا لیدلو او محسوس کیدلو یا نه کیدلو ته اعتبار نسته ، تاسی وګورئ پر ړندو او کڼو باندی ټول لمونځونه فرض دی حال داچی هغوته دلمر ختل او لویدل هیڅ نه معلومیږی .

۱۲. **پوښتنه** : یارسول الله ﷺ زه مریضه یم دتللو طاقت نلرم طواف څرنګه وکړم ؟
[سوال کوونکی : ام المؤمنین ام سلمه رضی الله عنها ]

**جواب** : څه وخت چی دسهار لمونځ شروع سی نوته پر خپل اوښه باندی سپره سه لمونځ کوه او دخلګو په شا پسې سه او طواف کوه . (بخاری ، مسلم ، ابوداؤد )

**شرح** : په حجّة الوادع کی دجناب رسول اکرم ﷺ سره ازواجی مطهّراتی هم ملګری وی ، دهغوی رضی الله عنهن څخه امّ سلمه رضی الله عنها مریضه سوه چی دخانهٔ کعبې دطواف کولو طاقت یې نسو پاته کم چی په حج کی ضروی دی، آنحضرت ﷺ ته یې عرض وکی نوده ﷺ دسهار دلمانځه پروخت دسپریدلو او طواف کولو اجازه ورکړه ، ددې ګټه دا وه چی په دې وخت کی نارینه په لمانځه کی اختـه وی او مطاف (یعنی دطواف ځای) خالی وی ، وخت هم دتاریکۍ دی په اطمینان سره طواف کولی سی، دیوچا نارینه به هم نظر نه پر لویږی ، دزیاتی پردې اونورو شیانو دترسره کولو تکلیف به هم نه وی . ددې حدیث شریف څخه په حالت کی دعذر دسپرتیا په ډول سره دطواف کولو اجازه معلومه سوه ، په خپله حضرت سرورِ عالَم ﷺ هم دخپل مزاجِ اقدس دمریضی په وجه پر سپرلی باندی دسپرتیا په حالت کی طواف کړیدی ، په دې کی یوه فآئده دا هم وه چی خلګو دده ﷺ څخه مسآئلی پوښتلی او دلیری څخه به یې لیدی او زیات ازدحام جوړولو ته به خبره نه رسیده ، اودا هم معلومه سوه چی په داسی ضرورت کی دکعبې صحن (غولی) ته داوښ ، آس او نورو چارپایانو داخلول جآئز دی .

۱۳. **پوښتنه** : ای فخر عالَم ﷺ کم سړی چی کښېنی او لمونځ کوی دهغه څه حکم دی ؟ [سوال کوونکی : عمران بن حصین رضی الله عنه]

ketabton.com - The Digital Library



**جواب** : کم سړی چې ودریږی او لمونځ وکی دا ترټولو ښه دی ، اوکم سړی چې یې په ناسته کوی هغه ته نیمایی ثواب رسیږی نسبت وثواب ته دولاړ سړی ، او کم سړی چې یې په پروتی کوی هغه ته دپه ناستی کوونکی دثواب نیمایی رسیږی . (ترمذی)

**شرح** : کله چې پوښتونکی بې له قیده دصحت او مرض عام سوال کړی وو ددې وجی آنحضرت ﷺ عامه قاعده وفرمایله ، دفرضو او نفلو ، صحت او مرض او نورو حالاتو تفصیل یې نه دی فرمایلی ، قاعده داده چې په ناستی کوونکی نیمایی او په پروتی کوونکی ته دهغه څخه لا نیمایی ثواب ورکول کیږی ، لیکن دمرض په حالت کی چې یې کله دمعذوری دوجی څخه په ناستی یاپه پروتی وکړی نو دالله ﷻ درحمت او فضله څخه پوره ثواب په ولاړی سره دلمونځ کوونکی په شان ورکول کیږی لیکن قاعده همدغه ده چې په ناستی کوونکی ته نیمایی ثواب دی، لکه بې له عذره چې په ناستی نفل کوونکو ته هم نیمایی ثواب ورکول کیږی ، او فرض بې له عذره په ناستی یا پروتی سره جآئز نه دی . بعضی علماوو ددې حدیث مطلب په بل ډول هم بیان کړیدی ، لیکن دا مخکنی بیان ترټولو عمده او واضح دی .

۱۴ . **پوښتنه** : یا رسول الله ﷺ زما سترګی خوږیږی آیا دروژې په حالت کی ماته رانجه لګول جآئز دی ؟ [سوال کوونکی: یوسړی، په روایت دانس رضی الله عنه]

**جواب** : هو! رانجه ولګوه (روا دی، روژې ته څه تاوان نه رسوی)، (ترمذی شریف)

**شرح** : په روژه کی په رانجو لګولو سره هیڅ تاوان نه کیږی برابره خبره ده که دکم ضرورت او عذر په وجه ولګول سی او که بې له ضرورته ، که چیری تر رانجو لګولو وروسته بلغم راووته اوپه هغو کی درنجو رنګ ښکاره وو بیا هم روژه نه ماتیږی ، ځکه دبدن دسوریو په ذریعه چې کم شی بدن ته دتنه ننوزی هغه روژه نه فاسدوی ، په بعضو ځایوکی په عوامو کی مشهوره ده چې په روژه کی تررانجه لګولو وروسته که چیری بیده سی نو روژه مکروه یا فاسدیږی دا بالکل غلط دی، دا رنګه پرږیره یا پر بریتو یاپر سر باندی تیل لګول روژه نه مکروه کوی .

۱۵ . **پوښتنه** : ای سیّد الاولین والآخرین دا دوه سورتونه قُلْ أَعُوْذُ بِرَبِّ الْفَلَقِ او قُلْ أَعُوْذُ بِرَبِّ النَّاسِ په قرآن کی داخل دی که نه دی ؟

[سوال کوونکی : ابی بن کعب رضی الله عنه ]

ketabton.com - The Digital Library



**جواب**: ماته دخدای تعالی ﷻ دطرفه څخه ویل سویدی چی قُلْ اَعُوْذُ (ترآخره پوری)، نو ما هغه داډول وویل (ددې څخه معلومه سوه چی داپه قرآن مجید کی داخل دی ، ولی کم کلام چی دالله ﷻ دطرفه څخه وفرمایل سی اورسول الله ﷺ هغه پر ژبه مبارکه باندی ادا کړی همدا قرآن مجید دی) . (بخاری شریف)

**شرح** : د قُلْ أَعُوْذُ بِرَبِّ الْفَلَقِ او قُلْ أَعُوْذُ بِرَبِّ النَّاسِ په نسبت کی په صحابه وو رضي الله عنهم کی دمخکی څخه یوڅه اختلاف وو چی آیا دا دواړه سورتونه په قرآن کی داخل دی او که نه ؟ ابن مسعود رضي الله عنه ویل چی داپه کتاب الله کی داخل نه دی او دقرآن مجید څخه یې دوی ایستلی شمارل ، زرّ بن حبیش رضي الله عنه وحضرت ابیّ بن کعب رضي الله عنه (دی هغه ثوك دی چی په صحابه وو رضي الله عنهم ترټولو لوی قاری او حافظ وو) ته ددې خبری یادونه وکړه او ورته وې ویل چی ابنِ مسعود رضي الله عنه داسی فرمایی ، ابیّ بن کعب رضي الله عنه خپله پوښتنه او درسول الله ﷺ جواب ورته واوروئ (کم چی لوړ ذکر سوه) چی دهغه مطلب دادی چی په کمه طریقه سره نور قرآن کریم راښوول سویدی په همهغه ډول دا سورتونه هم ماته راښوول سویدی ددې څخه معلومه سوه چی داهم په قرآن کی داخل دی ، دصحابه وو رضي الله عنه داولنی اختلاف څخه وروسته پردې خبره باندی اتفاق راغلی وو چی دا سورتونه په قرآن کریم داخل دی ، نو اوس که چیری یوشخص ددې دقرآن کیدلو څخه انکار وکړی نو کافر به سی ، دابنِ مسعود رضي الله عنه څخه داهم نقل سویدی چی هغه دخپل قول څخه رجوع وکړه او دا سورتونه یې په قرآن کی داخل وګڼل او بعضی علمآء فرمایی چی ابن مسعود رضي الله عنه ته ددې سورتو په قرآن کی دداخلیدلو څخه انکار نه وو ، بلکه په قرآن کی یې ددوی دلیکلو څخه منع فرمایلی وه ، دده رایه دا وه چی یوازی هغه سورتونه او آیتونه په قرآنِ مجید کی لیکل کیدی سی دکومو دلیکلوچی په خاص ډول په تصریح سره آنحضرت ﷺ اجازه ورکړی وی اوددې دوو سورتونو دلیکلو په اړوند دنبی ﷺ داجازې ورکولو خبر ده رضي الله عنه ته نه وو رسیدلی ځکه دی یې دلیکلو څخه منع کوونکی وو .

۱۲ . **پوښتنه** : ماته دومره اندازه حیض راځی چی هیڅکله پاکیږم نه ، همیشه لمونځ پریږدم اوکه یو بل تدبیر ورته جوړ کړم ؟

[سوال کوونکی : فاطمه بنت ابی حبیش رضي الله عنها ]

**جواب** : دا چی تا ته همیشه وینی راځی حیض نه دی (بلکه مرض دی) یورګ خلاص

ketabton.com - The Digital Library



سویدی دهغه څخه وینی راځی لهذا ددې وینو تر جاری کیدلو مخکې چې تاته څو ورځی حیض راتلی دهغومره مدې دپاره په هره میاشت کی لمونځ پریږده او څه وخت چې دهغه عادت موافق ورځی تیری سی نو غسل وکه او بیرته لمونځونه شروع که . (بخاری شریف)

**شرح** : دحیض وینی دعادت داختلاف سره سم ډیر وخته بعده راځی چې دهغه مده لږ تر لږه پنځلس ورځی ۱۵ ورځی ده ، اوس که چیری یوې ښځی ته همیشه وینی راځی نو دابه دحیض وینی نه وی بلکه دناجوړی وینی به ګڼل کیږی اوداسی ښځی ته مستحاضه ویل کیږی ، مستحاضې ته دحیض احکام نه ورکول کیږی بلکه مسجد ته داخلیدل ، قرآن شریف ویل ، میړه ته ددې سره نژدیکت کول ، مطلب کم شیان چې حآئضې ته حرام دی هغه دې ته جآئز دی، روژه او لمونځ ادا کول هم وربادی ضروری دی ، لیکن تردې جاری کیدلو دوینی اوتر دې ناجوړی دمخه په هره میاشت کی چې څو ورځی دحیض وینه راتله ، په همدې اندازه باندی به په همدغو تاریخو کی خپل ځان دحیض په حالت کی وبولی او لمونځ او روژه به پریږدی ، څه وخت چې دعادت موافق دحیض ورځی تیری سوې نوغسل به وکی ، لکه دحیض ترپاکیدلو وروسته چې به یې غسل کوی ، اوپه پاته ورځو کی به همیشه لمونځ کوی ، لیکن دداسی ښځی دپاره مستحب دی چې دهر یوه لمانځه دپاره غسل وکړی یادې ددوو لمونځو دپاره یوغسل وکړی مثلا دماپښین او مازدیګر دپاره یو غسل او دماښام او ماخستن دپاره دوهم غسل ، لیکن دا غسل ضروری نه دی ځکه چې په طور دعلاج کولو ده ﷺ اختیار ورکړیدی ، ددې دپاره چې دغسل خونك والی اویخ والی بدن ته ورسیږی او دوینی جوش کم سی او راوتل اوروانیدل به یې بند سی اوپه اطمینان سره به لمونځ وکړی .

۱۷ . **پوښتنه** : یو سړی (بیده سو ترپورته کیدو وروسته پرکالو او یا بل شی باندی) لوندوالی ووینی (یعنی منی یا مذی) مګر احتلام (خوب) نه وی ورته یاد پرهغه باندی غسل واجب دی که نه او کم سړی چې (دا ډول) خوب ووینی لیکن پرکالو باندی یې لوندوالی نکی پیدا ، ده ته څه حکم دی ؟

[سوال کوونکی : صحابه رضي الله عنهم په روایت دعآئشې رضي الله عنها ]

**جواب** : کم سړی چې لوندوالی پیدا کی اوخوب یې نه وی په یاد پر هغه باندی غسل لازم او فرض دی او دکم سړی چې خوب په یاد وی او لوندوالی نکی پیدا پر

ketabton.com - The Digital Library



هغه باندې غسل نه دی واجب (ترمذی شریف) .
**شرح** : په خوب کی په احتلام کیدلو یعنی منی وتلو سره غسل واجبیږی دخوب یادیدلو یا نه یادیدلو ته اعتبار نسته ، که یې چیری خوب په یاد وو او اوپر کالو باندی کم ځای لوندوالی او نښان نه وو نو غسل نه دی واجب ، که یې چیری پرجامو باندی نښان او داغ او تپله پیدا کړه لیکن یقین یې نه وو چی منی دی بلکه شاید مذی وی په داسی حالت کی غسل واجب دی که یې یقین سو چی منی نه دی مذی دی نو غسل نه دی واجب مګر خوښه خبره او احتیاط دا دی چی غسل وکی . (دا ډول بیان بل ځای دام سلیم رضي الله عنها دپوښتنی په جواب کی تیر سویدی ) .
۱۸ . **پوښتنه** : یا نبی ﷺ زما او دعآئشې رضي الله عنهما روژه وه مونږ ته داسی خوراك پیدا سو چی خوړلو ته مو زړه کیدی مونږ دواړو هغه وخوړی ، اوس ارشاد راته وفرمایه چی څه وکو ؟
[سوال کوونکی : حضرت حفصه او عآئشه رضي الله عنهما ]
**جواب** : ددې په بدله کی یوه بله ورځ روژه ونیسی . (ترمذی شریف)
**شرح** : دنفلی روژې ماتوالی بې له ضرورته هم جآئز دی ، او دمیلمستیا یا بل عذر په وجه یې هم ما تول جآئز بلکه مستحب دی ، لیکن په هر صورت کی قضا واجبیږی ، لکه ده ﷺ چی دبلی روژې دنیولو ارشاد ورته وفرمایی ، البته که یې دبلی ماتی سوی روژې قضایی روژه نیولی وه یا یې یو معین نذر ادا کوی نو بیا یې ماتول نه دی جآئز ، دا مضمون دنورو حدیثو څخه معلومیږی ، نذرِ معیّن دې ته وایی چی یوڅوك دیوې معلومی ورځی یا میاشتی روژه نیول پرخپله ذمه باندی واحب کړی .
۱۹ . **پوښتنه** : یارسول الله ﷺ ما خپلی ښځی ته په خور ویلی دی هغه اوس پرما باندی حلاله ده او که نه ؟
[سوال کوونکی : یو شخص په روایت دابو تمیمه عجمی رضي الله عنه ]
**جواب** : هغه خو ستا خور ده ، مګر داسی ویل نه دی پکار . (ابو داؤد)
**شرح** : یعنی داسلام ددین دلحاظ څخه هغه بیشکه ستا خور ده ، لیکن کله چی زوجه (ماندینه) ده ددې وجی داسی لفظ ویل نه دی پکار چی دهغه څخه دحرامیدو شبهه وسی ، ددې څخه معلومه سوه چی خپلی ښځی ته ددې لفظ ویلو چی ( ته

ketabton.com - The Digital Library



زما خور یې) یا ددارنګه ناری وروهلو چی ( ای خور! ) ښځه نکاح نه ماتیږی ، مګر بیا هم ویل یې مکروه دی .

**مسئله** : که یې ښځی ته وویل چی ته زما دمور په مثل یې یایې ورته وویل چی ته زما دخور په مثل یې او دطلاق یا ظهار نیت یې وکی نوهمدغه طلاق یا ظهار سو اوکه یې دا نیت وو چی په بزرګی او عزت یا نورو شیانو کی زما دمور په مثل یې یا زما دخور په مثل یې نوطلاق یا ظهار هیڅ هم نه واقع کیږی ، دظهار معنی په عربی کتابو کی یا په پښتو ( بهشتی زیور ) کی وګوری .

۲۰. **پوښتنه** : یارسول الله ﷺ کله کله انسان په ځنګل کی وی او اوبه ډیری کمی وی په دې حالت کی که دیو چا ښځه لږ څه باد ووزی (نو په اوداسه کولو کی ډیر تکلیف وی، ولی چی اوبه نه وی) ددې په اړوند ستاسی څه ارشاد دی ؟

[سوال کوونکی : یو اعرابی (دصحرا سړی) په روایت دعلی بن طلق رضی الله عنه ]

**جواب** : کله چی ستاسی ښځه یو دباد ایستل وکړی نو ورته پکار دی چی اودس وکړی . (ترمذی)

**شرح** : دسوال کوونکی مقصد دا وو چی که دضرورت په وخت کی لږ او سپك باد وتل معاف وای نو ښه به وای اوپه دې سره شاید اودس نه ماتیږی لیکن ده ﷺ وفرمایل چی عامه قاعده داده چی په باد وتلو سره اودس روغ نه پاته کیږی بل اودس واجب دی برابره خبره ده که لږ باد ووزی اوکه ډیر او داوبو لږ والی وی که نه وی ، البته که چیری اوبه بالکل نه وی ، یایې دچینلو دضرورت دپاره ایښی وی، نوبیا تیمم جآئز دی چی دهغه حکم په نورو ځایو کی په قرآن او حدیث کی موجود دی .

۲۱. **پوښتنه** : یا رسول الله ﷺ کله کله ماته یو رانیوونکی راسی داسی شی غواړی چی هغه زما سره نه وی آیا دا روا ده چی زه دهغه دپاره هغه شی دبازار څخه رانیسم . [سوال کوونکی: فضاله بن عبید رضی الله عنه ]

**جواب** : کم شی چی ستاسره موجود نه وی دهغه خرڅول مه کوه (ترمذی ومسلم شریف) .

**شرح** : دبازاره څخه درانیولو یو ۱. صورت دادی چی دلال جوړ سی دهغه دپاره یې رانیسی او یوڅه دلالی یا کمیشن خپل هم ورڅخه ترلاسه کړی ، ۲. یادا سی چی درانیوونکی سره وعده وکړی او عقد بیع (سودا) او معامله ونکړی بلکه دبازار

ketabton.com - The Digital Library



څخه يې رانيسي او تر راوړلو وروسته دخپل خريدار سره عقدِ بيع (سودا) وکړي هغه ته هغه شي ورکړي او خپله ګټه ورڅخه تر لاسه کړي دا دواړه صورتونه جآئز دي، دريم صورت دادي چې دخريدار څخه دمطلوبه شي بيع (سودا) وکړي او بيا يې دبازار څخه رانيسي هغه ته يې ورکړي دا نا روا ده ، ولي چې دسودا په وخت کې هغه شي چې سودا ورباندي سويده دخرڅوونکي په ملك کې نه وو موجود ، جناب رسول الله ﷺ ته ددې بيع ممانعت منظور وو ، ليکن ده ﷺ دا ديوې نهايتي عامې قاعدې په صورت کې په دومره مفيد ډول سره بيان کې چې ددې څخه دنورو ډيرو ناروا سوداوو ( خريد او فروخت ) او ناجآئزو بيعو حکم معلوم سو ، مثلا زمونږ مريې (غلام) آبق يعني تښتيدلی دی ترڅوچې هغه زمونږ په قبضه او واك کې نسي را بيع يې نا روا ده .

**فآئده** : بيع سلم چې هغه ته بدهنی هم وايي په وجه سره داجازې درسول مقبول ﷺ په غيرِ موجود شي کی هم جآئزه ده ، مثلاً مونږ يوچاته لس ۱۰ روپۍ ورکړي چې دوې مياشتي وروسته غنم راکه ، حال داچې غنم ددې شخص په ملك کې بالفعل نه دي موجود ، مګر ددې دروا والی دپاره ډير شرطونه دي چې دفقهي شريفی په کتابو کې ليکلي دي ، په پښتو بهشتي زيور کې يې مطالعه کی .

**مسئله** : که ديوبل سړي شي دهغه داجازې څخه پرته خرڅ کړل شي نو بيع کيږي ليکن دمالك پر اجازې باندي موقوفه ده که هغه اجازه ورکړه نو بيع يې وسوه او که نه وي نو ماته سوه .

۲۲. **پوښتنه** : ای جناب رسول الله ﷺ کله کله زما دروازې ته مسکين راسی سوال کوي اودورکولو دپاره په کور کی هيڅ هم نه وي نوپه دې صورت کی څه کول پکار دي ؟ [سوال کوونکی: درسول الله ﷺ شاګرده ام هند رضي الله عنها ]

**جواب** : که بل دورکولو لائق شي نه وو نودهغه په لاس کی دبزې سوځول سوی ښنګُری ورکښېږده . (مسندِ احمد وابوداؤد وترمذی) .

**شرح** : پوښتنه داوه چې کله ناکله دفقير دوار وار سوال کولو څخه شرم راځي او دورکولو دپاره هيڅ هم موجود نه وي په دې حالت کی څه کول پکار دي ؟ ده ﷺ وفرمايل چې تر خوار لا خوار او ترکم لا کم شي چې موجود وي ورکوه تردې پوري چې که دبزې سوځول سوی ښنګری وي نوهم يې په ورکولو کی فکر مه کوه ، دهوسۍ او بزې او غوايي او نورو پښې ته په عربی کی ظِلف وايي د هغه ترجمه

ketabton.com - The Digital Library



موړ په ښنګوری ولیکل .

**تنبیه** : دا حکم دهغه سوال کوونکی دی چی مسکین او محتاجه وی ، قوی ، جوړ ، مالداره ، کسب کاره فقر کوونکو ته دمحققینو علماوو په نزد باندی څه ورکول نه دی جآئز .

**۲۳ . پوښتنه** : یا رسول الله ﷺ زما یوه بنه ده که چیری زه (دهغې دخښمولو او نا آرامه کولو) دپاره دداسی شیانو ښکاره کول کړم چی هغه په حقیقت کی ماته زوج نه وی راکړی نو پرما باندی به کمه ګناه وی اوکه نه ؟

[سوال کوونکی : یوه نامعلوم نامی ښځه ، په روایت داسمآء رضي الله عنها ]

**جواب** : کم څوك چی داسی څه ښکاره کړی چی هغه ته نه وی ورکول سوی هغه داسی دی لکه دمکر (فریب او چم) جامې اغوستونکی (یعنی هغه هم چل بازه اومکار دی او هغه ته به هم داسی ګناه وی لکه دمکاری دجامې اغوستونکی ته ، نوتاسی ته هیڅکله جآئز نه دی چی کم شیان زوج نه دی درکړی هغه په چم سره ښکاره کی او بنه په خپه کی (بخاری شریف ومسندِ احمد وابوداؤد ومسلم بروایتِ عآئشه رضي الله عنها )

**شرح** : دفریب اومکر جامې اغستونکی هغه شخص دی څوك چی خلګوته ددوکې ورکولو دپاره دیوې خاصی ډلی یا پارتۍ لباس واغوندی اوپه حقیقت کی دی دهغه ډلی څخه نه وی ، مثلاً صوفی نه وی او دصوفیانو چپنه او نور واغوندی او مخلوق ته فریب ورکړی ، یا عالِم نه وی مګر دعالمانو چپنه او لنګوټه وتړی دځانه عالِم جوړ کړی اوبعضی خلګ یوه جامه یا ګرتۍ واغوندی دهغو تر لستوڼو کښته نور لستوڼی ولګوی ددې دپاره چی خلګ فکر وکړی چی تردې لاندی یې بله جوړه هم اغوستیده ، داسی شخص ته هم دمکر دجامو اغوستونکۍ ویل کیږی ، او هغه شخص ته هم وایی څوك چی دشاهدی ورکولو دپاره عدالت ته دتګ پر وخت ددې سړی او هغه سړی څخه عمده جامې په خواست غواړی او اغوندی یې ددې دپاره چی په عدالت کی خاوند ددبدبې او صالح وګڼل سی او شاهدی یې مقبوله سی .

آنحضرت ﷺ چی کم ارشاد فرمایلی دی دهغه څخه ښځی ته هم دواقع او حقیقت خلاف ځان ښکاره کولو ممانعت سویدی ، او عام حکم هم معلوم سو چی خپل په نسبت دداسی فضآئلو او کمالاتو اظهار کول ناجآئز دی کم چی په حقیقت کی موجود نه وی ، عالِم نه وی او اشارةً خپل ځان عالِم ښکاره کوی ، صوفی او

ketabton.com - The Digital Library



درویش نه وی خو دتصوّف او درویشی درواغ او ریشتیا خبری سره ګډوی ، غریب او مفلسه وی مګر دریاست او امیری ناری وهی ، البته خپله لوړه ، مسکینی او محتاجی پټول او دچا څخه سوال نه کول نهایتی ستایل سوی او خوښ کړل سوی خاصیت دی .

۲۴ . **پوښتنه** : یا سرورِ عالَم ﷺ یوه شخص ته مذی په نهایت کثرت سره راځی په ډیرو غسلو کولو کولو سره دهغه نس ته ډیر تکلیف رسیدلی دی دهغه دپاره څه حکم دی ؟ [سوال کوونکی: علی په واسطه دمقداد رضی الله عنهما ]

**جواب** : غسل دی نه کوی ، هروخت چی مذی ووزی استنجاء دی ووهی ، لکه څنګه چی دلمانځه دپاره اودس کول کیږی دغه رنګه اودس دی وکړی (ابوداؤد ، بخاری ، مسلم) .

**شرح** : مذی هغه برېښیدونکی نرمی سپینی اوبه دی چی دشهوت پروخت دمباشرت دارادې کولو یا ددې دبیان کولو سره راوزی ، جناب علی کرم الله وجهه نهایتی قوی ځوان وو ، ده کرم الله وجهه ته مذی ډیر راتله او کله چی مسئله معلومه نه وه ورته ددې وجی لکه څنګه چی دمنیو تر وتلو وروسته غسل واجبیږی په مذیو باندی یې هم غسل واجب وګڼی او وار وار به یې غسل کوی ، چی دهغه څخه به نهایتی ډیر تکلیف ورته رسیدی او په وار وار اوبه اچولو سره به یې په یخ موسم کی نس چاودلی وو ، کله چی دجناب سرورِ عالم ﷺ مبارکه لور بی بی فاطمه رضی الله عنها دده په نکاح کی وه ، ددې وجی څخه دشرم او حیا په وجه یې دآنحضرت ﷺ څخه په خپله ددې قسم مسئلې پوښتنه کول مناسب نه ګڼل ، یوه ورځ ده کرم الله وجهه وخپلو دوستانو مقداد (۱) او عمّار رضی الله عنهما ته ددې یادونه وکړه او ورته وې فرمایل چی

---

(۱). عمار او مقداد رضی الله عنهما ډیر لوی اوعالی قدره صحابه دی ، داسلام په اوله زمانه کی یې اسلام راوړی او دمکی دمشرکانو دطرفه څخه یې قسم قسم عذابونه او تکلیفونه پورته کړیدی ، دا دواړه صاحبان نهایتی مسکینان او مفلس وه ، دخلګو په ویلو سره آنحضرت ﷺ ددې اراده کړی وه چی دوی دخپل مجلس څخه ولاړ کی او لیری یې کښېنوی ددې دپاره چی دمکی رئیس او سردار راسی ده ﷺ ته نژدی کښېنی او ایمان راوړی ولی چی هغه خلګ ددې غریبو او مسکینانو حضراتو سره په برابر کښېنستلو سره شرمیده خدای تعالی ﷻ دا آیت نازل کی چی : لاَ تَطْرُدِ الَّذِيْنَ يَدْعُوْنَ رَبَّهُمْ بِالْغَدَاةِ وَالْعَشِيِّ يُرِيْدُوْنَ وَجْهَهُ او ارشاد یې وفرمایې چی داسی کار دی هیڅکله ونکړل سی که نه نو ښه به نه وی ، ته دچا دایمان راوړلو یانه راوړلو ذمه وار نه یې ستا کار پوهول او وینا کول دی ورته ، آنحضرت ﷺ ددې ارادې څخه راوګرځیدی او تردې =

ketabton.com - The Digital Library



تاسی یو وخت ددې مسئلې پوښتنه دآنحضرت ﷺ څخه وکی ، یوه ورځ مقداد رضی الله عنه جناب رسول الله ﷺ تـه نژدی ناست وو چی حضرت علی رضی الله عنه اشاره ورته وکړه نو مقداد رضی الله عنه مسئله وړاندی کړه نونبی ﷺ وفرمایل چی په مذیو باندی غسل نه واجبیږی بلکه پرکم ځای باندی چی مذی لګیدلی وی هغه پرېوله او اودس وکه او لمونځ ادا که .

**مسئله** : په خوب کی که چیری مذی ووته او یقیناً معلوم سی چی مذی دی منی نه دی نوبیا هم غسل نه واجبیږی لیکن احتیاطًا غسل کول پکار دی ځکه چی کله ناکله منی هم نرم وی او دمذیو سره مشابه کیږی چی بیا یې فرق ډیر ګران وی .

۲۵. **پوښتنه** : یا رسول الله ﷺ که چیری موږ په یوه جامه کی لمونځ ادا کوو نو روا دی که نه ؟ [سوال کوونکی: صحابه په روایت دابو هریرة رضی الله عنهم ]

**جواب** : دهرسړی سره خو دوې دوې جامې (کالی) نه وی (نوپه یوه جامه کی لمونځ روا دی) ابوداؤد .

**شرح** : بل ځای دا معلوم سویدی چی دنارینه دپاره صرف دنو (ناف) څخه تر زنګنو پوری بدن پټول فرض دی، نوکه چیری یوازی په یوه لنګ (یا یوه ګُرتی) کی لمونځ ادا کړل سی نو بې له شکه جآئز دی ، لکه چی ډیرو صحابه وو رضی الله عنهم په دې وجه چی جامې به یې نه درلودی یا ورته مهیّا او برابری نه وی نوبه یې یوازی لنګ وتړی او لمونځ به یې ادا کوی او ده ﷺ هم جواب همدغسی ورکی چی که چیری دلمانځه دپاره دوې جامې ضروری وی نوهر سړی به دوې جامې دکمی خوا کوی لیکن کله چی جامې مهیّا او برابری وی نو یوازی په یوه جامه کی لمونځ کول ښه نه دی او مستحب داده چی لنګوټه او ګُرتیۍ او پایجامه واغوندی او لمونځ ادا کړی .

۲۶. **پوښتنه** : یا رسول الله ﷺ داسی کم شی دی چی دهغه بندول اونه ورکول صحیح نه دی ؟ [سوال کوونکی : پلار دبُهیه رضی الله عنه ]

**جواب** : داسی شی مالګه ده (دهغې نه ورکول دنهایتی بخل اودبدوالی خبره ده) . ابوداؤد

---

= وروسته یې دا خلګ ډیر نژدې کښېنول ، عمّار دحضرت علی رضی الله عنهما سره اوسیدی په جنګِ صفین سنه ۳۷ هجری کی ددرې نوی ۹۳ کالو په عمر شهید سو او مقداد رضی الله عنه په سنه ۳۳ هَجری کی داویا ۷۰ کالو په عمر مدینې ته نژدی دجرف نومی په ځای کی وفات سو او مدینه منوره ته یې جنازه راوړل سو اوپه جنة البقیع کی دفن کړل سو .

ketabton.com - The Digital Library



**شرح** : اول وار هغه دا سوال وکی نو آنحضرت ﷺ ورته وفرمایل چی اوبه داسی شی دی چی دهغه منع کول مناسب نه دی ، بیایې سوال وکی چی تر اوبو وروسته بیا داسی کم شی دی ؟ نو ده ﷺ مالګه ورته وفرمایل کم چی دلته ذکر دی ، دده ﷺ دارشاد مطلب دادی چی دا شیان دعام ضرورت او ګټی دی او نهایتی کم قیمته او ارزانه دی ، ترخپل ضروت په زیات موجود کیدلو نوروته نه ورکول یا په وخت کی دسوال انکار کول نهایتی نامناسبه کار دی ګواکی دخپل ضرورت او حاجت دخیال څخه یا دیوې بلی فائدې څخه انکار کول او نه ورکول هم جآئز دی ، دغه ډول اور یا ستن اونور لږ قیمت والا او دضرورت شیان په وخت کی دحاجت غوښتونکی ته نه ورکول نهایتی نا خوښه کار دی .

۲۷. **پوښتنه** : ما خپله لور ورکړې وه اوس هغه ناوی ده (دیوه مرض په وجه سره) دهغې دسر وربښتان ورژیده ، دهغې زوج ماته وایی چی ددې په وریښتانو کی نور وربښتان ور ګډ کړه ، آیا داسی کول جآئز دی اوکه نه ؟

[سوال کوونکی : یوه ښځه دانصارو رضي الله عنهم څخه ]

**جواب** : پر وربښتانو ګډوونکو ښځو باندی دخدای تعالی لعنت فرمایل سویدی ، ددې وجی هیڅکله وربښتان مه ګډوی . (بخاری)

**شرح** : ددې ښځی دلور وربښتان دچیچك دناجوړی داملـه دبیخه څخه وتلی او ختلی وه ، او وربښتان یې کم سوی وه ، درخصتیدو ورځ یې نژدی راغلی وه اوددې پرسر باندی وربښتان نه وه زوج یې خپل کورته په بیولو کی تلوار کوی او ویل یې چی دې ته مصنوعی وربښتان ورولګوی ، په عربو کی دستور او قانون وو چی دداسی ضرورت په ځای کی اوکله ناکله بی له ضرورته یوازی دښایست په وجه دنارینه وربښتان ورسره ملګری کړی او دښځو وربښتان په غټ او ښایسته په جوړ کړی ، رسولِ مقبول ﷺ ددې سخت ممانعت وفرمایی چی داسبب دلعنت دی، که چیری دنارینه څخه ما سوا دیوه بل شی وربښتان دزوج په اجازې سره ورسره یوځای او غټ کړی نو دامامِ ابوحنیفه رحمه الله علیه او دبعضی علمآوو په نزد جآئز (۱) دی دارنګه دوربښمو دتار او نرې رسۍ څخه دچوټی لګولو پر سر باندی اجازه دحدیثو څخه ثابته ده ، لکه څرنګه چی پرسر باندی دنارینه وربښتان لګول حرام دی ، دغه رنګه ښځی ته خپل سر خریل هم حرام دی .

---

(۱). داکثرو علماوو په نزد دهر قسم وربښتانو دیو ځای کولو او ګډولو ممانعت سویدی . منه

ketabton.com - The Digital Library



۲۸. **پوښتنه** : ای فخرِ عالم ﷺ موږ ته دښځو سره په حالت کی دحیض څه معامله کول پکار دی ؟ [سوال کوونکی: صحابه په روایت دانس رضی الله عنهم ]

**جواب** : دصحبت (جماع) څخه ما سوا هرڅه کوی . (مسلم شریف)

**شرح** : په یهودیانو کی قانون وو چی کله به ښځه حآئضه کیدل نو هغه به یې په جلا ځای کی پرېښوول ، دهغې سره به یې یوځای خوراك او چیښاك او په کور کی اوسیدل ناجآئزه ګڼل او ویل به یې چی ددې ټولو خبرو نهایتی ضرر رسیږی نارینه ته ، دجناب سرورِ عالم ﷺ صحابه وو رضی الله عنهم آنحضرت ﷺ ته عرض وکی چی موږ ته څه حکم دی ددې په جواب کی دخدای ﷻ دطرفه څخه دا آیت نازل سو چی: يَسۡأَلُونَكَ عَنِ الۡمَحِيۡضِ قُلۡ هُوَ أَذًى فَاعۡتَزِلُوا النِّسَآءَ فِي الۡمَحِيۡضِ (یعنی صحابه رضی الله عنهم ستا څخه دحیض دحالت حکم پوښتی ته ورته وفرمایه چی هغه دناپاکی زمانه ده په دې کی دښځو څخه جلا اوسئ ) ، او ده ﷺ ددې آیت شرح وفرمایل چی دښځو څخه دجلا اوسیدلو دا معنی ده چی دهغو سره صحبت مکوی نوری ټولی خبری ورسره جآئزی دی یعنی ورسره پرېوتل، کښېنستل، په یوه کورکی ورسره اوسیدل، په یوه ځای کی ورسره خوراك او چیښاك کول ټول روا دی. یهودیانو چی دا حکم واوریدی نوبې وویل چی دا شخص (یعنی رسول الله ﷺ) خوهم عجبه خبری کوی ، یوه خبره لاهم داسی نه پرېږدی چی په هغه کی زموږ مخالفت ونکړی . دوه صحابیان (١) رضی الله عنهما دده ﷺ په خدمت کی حاضر سوه عرض یې وکی چی یا رسول الله ﷺ یهودیان وایی چی ددې خبرو څخه نارینه ته ډیر ضرر رسیږی اوس که چیری ته وفرمایی نو موږ به هم په حیض کی دښځو سره یوځای اوسیدل، خوراك اوچیښاك او نور ورسره پریږدو (ترڅو چی یهودیان زموږ ددې موافقت څخه داسلام وطرفته مآئله سی ، اوموږ دضرر او نقصان څخه محفوظ سو) ، رسول الله ﷺ چی دا واوریده دغصې او درد دوجی څخه دآنحضرت ﷺ مخ مبارك متغیر

(١). ددواړو صحابه وو رضی الله عنهما دکلام یو مطلب خو ولیکل سو ، دوهم مطلب ددوی دکلام (کم چی دبعضو روایاتو څخه معلومیږی) دادی چی یا رسول الله ﷺ کله چی یهود پردې حکم باندی او پر خپل مخالفت باندی ویلیږی او سوځی نوکه چیری ستا اجازه وی نو موږ به ددوی دښه سوځیدو دپاره دخپلو بیبانو څخه په حالت کی دحیض صحبت هم کوو ددې دپاره چی پوره مخالفت راسی ، مګر کله چی داسی کول دخدای تعالی ﷻ دحکم صریح خلاف او نهایتی سخت حرام وو نوځکه دی ﷺ ددې سوال څخه ډیر خفه سو . منه رحمه الله تعالی وبرّد الله مضجعه

ketabton.com - The Digital Library



سو تردې چې خلګو داسې وګڼل چې دی ﷺ ددې دوو صحابه وو رضي الله عنهما څخه ډېر خفه سو هغه دواړه صحابه رضي الله عنهما دده ﷺ ددرد او غصې دبیرې دوجې دده ﷺ دمخامخ ځای څخه ولاړه او ووته ، په دې وخت کې آنحضرت ﷺ ته دیوه ځای څخه شیدې راغلی ده ﷺ یو سړی واستوی او هغه دواړه صحابه رضي الله عنهما یې را وغوښتل اوشیدې یې په وڅښلې ، نودوی پوه سوه چې دده ﷺ غصه او درد تلونکی دی.

۲۹. **پوښتنه** : یا حضرت ﷺ کم خلګ چې مالداره دی هغه پوره ثواب وړی ولې چې لمونځ او روژې لکه څنګه چې یې موږ ادا کوو دوی یې هم ادا کوی او ددوی سره ډېر مال دی چې د هغه څخه دوی صدقه او خیرات ورکوی او ثواب تر لاسه کوی او زموږ سره مال نسته چې موږ هم صدقه ورکړو او د دوی سره برابر سو ، اوس راته وفرمایه چې موږ څه وکړو ؟

[سوال کوونکی : دمهاجرینو مسکینان او ابو ذرِ غفاری رضي الله عنهم ]

**جواب** : ای ابوذره رضي الله عنه موږ تاته داسې کلمې درښیو او درکوو چې کم خلګ (په ثواب کی) ترتاسی مخکی دی هغه ته به ورسیږی یعنی دهغوی برابر به سی او کم خلګ چې په ثواب او عمل کی ترتاسی شاته دی هغه به ستاسی برابری ونکړای سی ، البته کم سړی چې همدغه عمل وکړی (کم چې تاسی ته درښیم هغه به ستاسی سره برابر سی ، هغه عمل دادی چې) دلمانځه بعده درې دیرش ۳۳ واره اَللهُ اَکْبَرُ او درې دیرش ۳۳ واره اَلْحَمْدُ لله او درې دیرش ۳۳ واره سُبْحَانَ الله اوپه آخر کی یو وار وَحْدَهُ لاَ شَرِیْكَ لَهُ لَهُ الْمُلْكُ وَلَهُ الْحَمْدُ وَهُوَ عَلَی کُلِّ شَيْءٍ قَدِیْرٌ ، وایه ، (ابو داؤد وبخاری ومسلم)

**شرح** : ده ﷺ وفرمایل چې تر فرضو لمونځو وروسته دا کلمې وایاست ، کم خلګ چې دخیر په کارو کی یا داسلام په راوړلو کی ترتاسی مخکی تللی دی تاسی به هم دهغو سره برابر سی اوکم خلګ چې په درجه کی ترتاسی وروسته دی یعنی په نورو اعمالو کی دخیر شاته دی یا هغه خلګ کم چې دا کلمې نه وایی ترهغو به لوړ سی ، کله چې ده ﷺ مهاجرینو فقراوو ته دا کلمې وروښوولې نو غنیانو او مالدارو صحابه وو رضي الله عنهم هم دثواب او اجر په شوق ددې ویل شروع کړه ، فقراوو بیا عرض وکی چې یا رسول الله ﷺ مالداره خلګ خو دا وظیفه هم وایی نو هغه به بیا ترموږ لوړ سی نوده ﷺ ورته وفرمایل چې دا خو دالله جل جلاله عنایت او

ketabton.com - The Digital Library



ورکړه ده چاته چې وغواړې فضیلت ورکوی ، او په بعضو روایاتو کی راغلی دی چې ده ﷺ دفقراوو دارنګه علاج ورو کی چې تاسی ته درې داسی شیان حاصل دی چې هغه غنیانوته هیڅکله نه دی حاصل سوی ، اول : دا چې په جنت کی داسی لوړی بالاخانې دی چې جنتیان خلګ به هغه ته داسی ګوری لکه دمځکی اوسیدونکی چې دآسمان وستوروته ګوری ، هغه ته به نبی فقیر داخلیږی یا شهید فقیر یا مومن فقیر ، بل څوك نه . دوهم داچې فقیران به جنت ته تر مالدارانو پنځه سوه کاله مخکی داخلیږی . دریم دا چې غنی او فقیر دواړه چې کله سبحان الله والحمد لله ولآ الٰه الا الله والله اکبر وایی نوغنی په ثواب کی هیڅکله دفقیر سره نسی برابریدی ، اودارنګه په نورو اعمالو کی دخیر فقیرته زیات ثواب وی مالداره دهغه سره نسی برابریدی.

۳۰. **پوښتنه** : یا رسول الله ﷺ دحق خبری په پوښتلو کی خدای تعالی ﷻ دشرم او لحاظ حکم نه دی فرمایلی ، ځکه نو زه عرض کوم چې که چیری ښځه په خوب کی هغه حالت ووینی کم چې سړی یې وینی (یعنی احتلام یې وسی) نو پرښځی باندی به غسل واجب وی او که نه ؟

[سوال کوونکی : ام سلیم مور دانس رضی الله عنه او خوله بنت حکیم رضی الله عنهن ]

**جواب** : هو ! په دې حالت کی غسل واجب دی که چیری اوبه ولیدل سی (بخاری ومسلم وابوداؤد ونسائی )

**شرح** : یعنی تر خواب وروسته که چیری پرجامو باندی منی په نظر راسی نو غسل واجب دی اوکه چیری یوازی داډول خوب ولیدل سی منی نه وی وتلی نوغسل نه دی واجب ، پردې مسئله باندی دټولو علماءِ اسلام اتفاق دی ، او دنارینه وو دپاره هم دا حکم دی کم چې دښځو په ځواب کی وفرمایل سو ، ددې حدیث څخه معلومه سوه چې ښځوته هم احتلام راځی ، که څه هم چې بعضو ته نه راځی ، لکه څنګه چې کله ده ﷺ ددې ذکر سوی پوښتنی لوړ جواب وفرمایی نو دجناب رسول الله ﷺ زوجې مبارکی حضرت ام سلمه رضی الله عنها په تعجب سره عرض وکی چې یا رسول الله ﷺ ښځوته هم احتلام راځی ؟ نوده ﷺ په جواب کی ارشاد وفرمایی چې هغه خو هم دنارینه وو جوړه دی . که چیری په دوی کی هغه ماده منویه نه وای دکم په وجه چې احتلام کیږی نو بیا به کوچنیان ددوی سره څنګه مشابه کیدی .

اودا هم معلومه سوه چې کم ځای چې دفتنې اندیښنه نه وی که چیری ښځه په خپله

ketabton.com - The Digital Library



ولاړه سی دعالِم څخه دمسئلو پوښتنه وکړی نو هیڅ منع نسته پکښی ، کله چی دشرم مسئله وه ددې وجی ام سلمه رضي الله عنها دسوال په شروع کی په طریقه دعذر دا عرض وکی چی الله تعالی دضروری او دحق دخبری په پوښتلو کی دشرم حکم نه دی فرمایلی . حیا نهایتی ښه خوی دی ، جناب سید الکونین ﷺ فرمایلی دی چی حیا هم ایمانی خوی دی او ارشاد یې فرمایلی دی چی حیا چی هر څومره وی ټوله ښه ده لیکن حیا او لحاظ تر هغه ځایه ښه ګڼل کیږی چی دهغه څخه ددین په ضروری شیانو کی خلل او تاوان پیښ نسی ، مثلاً دحیا خبره داده چی دجنابت غسل دا ډول وکړه چی خلګ درخبر نسی ، لیکن که ددې دوجی څخه لمونځ قضا کیدی نو حیا بیا جلا پریږده غسل وکه او لمونځ ادا که ، یا یوه ضروری مسئله دشرم او لحاظ دوجی څخه معلومه نه ده درته نودهغه په وجه سره په دین کی تاوان مه اچوه بلکه ویې لیکه یا یې په ژبه باندی په خپله یا دیو بل چا په ذریعه په ښه ډول باندی دیو عالِم څخه وپوښته ، پرداسی ځایو باندی شرم کولو ته شرعًا حیا نه ویل کیږی ، مجاهد رحمة الله علیه چی ډیر لوی تابعی دی فرمایی چی کم شخص حیا (او تکبر) کوی هغه علم نسی زده کولای .

**اړوند مسئلې** : که چیری څوك بیده سو او ترپورته کیدلو وروسته یې پرکالو یا بدن باندی لوندوالی یا ټپله پیدا کړه او دا یقین یې نه وو چی منی دی بلکه شاید چی مذی وی په دې حالت کی هم غسل واجب دی که یې لوندوالی پیدا کی لیکن خوب نه وو ورته یاد بیا هم غسل واجب دی .

۳۱. **پوښتنه** : یا رسول الله ﷺ یو سړی دغیرت (او دلوړ عزت) دوجی څخه جهاد کوی او یوڅوك دشجاعت ښکاره کولو دپاره او یوڅوك دریا په وجه (یعنی خلګو ته دځان ښکاره کولو او لوی مجاهد مشهور کیدلو په نیت باندی) جهاد کوی نوپه دې مجاهدو خلګوکی دچا جهاد فی سبیل الله سو ؟

[سوال کوونکی : لاحق بن ضمیره رضي الله عنه ]

**جواب** : کم سړی چی ددې دپاره جهاد کوی چی دالله جل جلاله کلمه لوړه وی (یعنی دتوحید کلمه جاری وی او اسلام غالب وی) دهغه جهاد فی سبیل الله دی (بخاری)

**شرح** : دآنحضرت ﷺ دجواب څخه معلومه سوه چی دعمل مدار دخیر نیت دی ، چی هرڅومره ښه عمل وی په بد نیت سره دهغه ثواب باطلیږی ، تردې پوری چی جهاد هم چی دمال او نورو په نیت وی دالله تعالی دپاره نه ګڼل کیږی او ثواب نه

ketabton.com - The Digital Library



پـر ورکـول کیـږي او هغـه فـضیلتونه او بزرګـۍ چې کـم دشـهید پـه حق کـې وارد سویدی دهغو مستحق بـه نـه وی او پـه آخرت کـې بـه لوړی مرتبې او عـالی درجې دشهیدانو پـه ډول نکی پیدا کـه څـه هم چی پـه دنیا کـی دده دکفن او دفن معاملـه دشهیدانو پـه مثل سره وکړل سی ، اصلی او حقیقی شـهید هغـه دی چی دکلمـة الله دلوړ والی دپاره سر پریکړی او دالله تعـالی دیـادونی او ذکـر دلوړیـدو دپـاره خپلـه وینه وبهوی . اَللّٰهُمَّ ارْزُقْنَا شَهَادَةً فِیْ سَبِیْلِكَ

۳۲. **پوښتنه** : یا رسول الله ﷺ دمحرم دپاره دکومو جامو پرېښوول ضروری دی ؟
[سوال کوونکی: یو شخص په روایت عبد الله بن عمر رضی الله عنهما ]

**جـواب** : کرتـۍ دی نـه اغونـدی ، بـاران کـوټ (۱) دی نـه اغونـدی ، پـایجامـه دی نـه اغوندی، لنګوټه دی نه تړی ، اونه دی داسی جامې اغوندی چی په رس یا زعفرانو باندی رنګ کړل سوی وی اونـه دی موزې اغونـدی مګر هو! دکـم سړی سره چی چپلکی یا بوټونه نه وی هغـه دی موزې دارنګه پـرې کړی او وادې غوندی چی تـر بجلکو یې کښته سی (ابوداؤد) .

**شرح** : دباران کوټ او لنګوټی په ممانعت کی هغـه ټولی جامې داخلی دی چی پـه هغـه سره سر پټیـږی ، دزعفـران پـه رنـګ رنـګ کـړل سوی جامـه ښځوته یـوازی پـه حالت کی داحرام منع ده او نارینه وو ته هیڅکله جآئز نه دی ، نه په احرام کی اونـه بې له احرامه ، دا پوښتنه سره دشرحی پـه بـل ځای کـی ذکـر سویده ، لـیکن دسوال الفاظ یې مختلف دی ددې وجی دوباره ذکر سوه .

۳۳. **پوښتنه** : یا رسول الله ﷺ ددې سړی په اړوند څه ارشاد دی څوك چی دیوقوم (یعنی جماعت اوګروپ) سره محبت او دوستی لـری لـیکن دهغـه سره یوځای نـسی (یعنی عملِ صالح او فضیلت دومره حاصل نکړی چی په درجه کی دهغـه سره برابـر سی) ؟ [سوال کوونکی : یو شخص نا معلوم نامی ]

**جواب** : انسان به دهغه چا سره وی دچا سره چی یې دوستی وی (یعنی پـه قیامـت کی به دهغو خلګو پـه ټولۍ کی داخل ګڼل کیږی ) بخاری شریف .

**شرح** : ددې حدیث څخه دصالحو بندګانو یعنی انبیآء او اولیآء علیهم السلام دمحبت نهایتی فضیلت او ډیره لویه خوبی او ګټه ښکاره سوه ، چی کـم سړی ددوی محبت

(۱). په احادیثو کی لفظ دبُرنس ذکر دی ، بُرنس : یو قسم ټوپی ته هم وایی او دباران کوټ او نورو ته هم وایی . منه رحمه الله تعالی

ketabton.com - The Digital Library



ساتونکې وي هغه ته به هم ددې قسم مرتبې او اخروي درجې ورکول سي لکه څنګه چې هغوی ته ورکول سويدي سره ددې چې هغه ددوی سره برابر عمل نه دی کړی ، ليکن يوازې په ژبه سره دمحبت نوم اخيستل او دا خيال کول بې ځايه دی چې موږ به خامخا دخدای ﷻ ددربار په نژدې کسانو او دلوړو درجو په خلګو کې شامل يو برابره خبره ده که مو عمل هر ډول ولې نه وي .

حق دادی چې دفسق او فجور شرك او بدعت سره سره ددې پاکو حضراتو محبت نسې يوځای کيدلای ، ددې مقبولو خلګو دمحبت نور ظاهري او باطني تاريکې ايسته کوي اودانسان اعمال او عقآئد پاك او صفا کوي ، ريشتيا محبت دادی چې دخپل وس تر اندازې پورې ددوی په ارشاد باندې عمل وکړای سې ، عقآيد او اعمال طرز او طريقه ددوی اختيار کړل سي .

**فآئده** : امام بخاري رحمة الله عليه ددې حديث يو بل مطلب هم بيان کړيدی چې هر سړی په دنيا کې اکثره دهغو خلګو سره اوسي دچاچې دوست وي که يې داهل علمو سره محبت وي نودهغوی په مجلس کې حاضر اوسي او دهغوی طريقه اختياروي ، که يې دفقيرانو سره مناسبت وي نوهغه رنګ اختياروي ، ددولت دخاوندانو يا درئيسانو يابد معاشانو سره يې که محبت وي نودهغو په خبرو کې ډوب اوسي وعلی هذا القياس ، مقصد دا چې ديوچا طرز او طريقه اختيار کول او يا يوځای ورسره اوسيدل دمحبت علامه ده .

۳۴. **پوښتنه** : يا رسول الله ﷺ زه ښکار کوم زياتې جامې اغوستل او ورسره اوسيدل تکليفي وي ، که چيرې يوازې په لنګ کې لمونځ وکم نو جآئز دی که نه ؟
[سوال کوونکی : سلمه بن اکوع رضي الله عنه ]

**جواب** : هو ! کوه يې ، ليکن هغه په ګريبان پورې مښلوه (ددې دپاره چې دننه بدن نسې معلوم ) اوکه هيڅ نسوه پيدا نو په يوه ځوز يې ورپورې مښلوه . (ابوداؤد)

**شرح** : دنارينه دپاره په لمانځه کې صرف دنو څخه تر زنګنو پورې بدن پټول فرض دی نوکه يې چيرې لنګ دومره کښته وي چې په رکوع او سجوده کې يې زنګنونه او نورنه خلاصيږي نوپه دې لمونځ کيږي ، پرتوګ يا يايجامه خاص ضروري او لازمي نه ده لکه چې دعربو اکثره صحرايي اوسيدونکی صرف يو لنګ لري ليکن که چيرې دګرته ګريبان لوی وي نو غوټه ، صدف يا بټن ورلګول پکار دی که نه وي نوکښته طرف ته که نظر وکړل سي نوخپل بدن به په نظر ورسي، که يې چيرې

ketabton.com - The Digital Library



غوټه یا بټن هیڅ ونه لګول او ګریبان یې خلاص پاته پرېښووی نوهم لمونځ صحیح دی لیکن مکروه دی ، ددې وجه څخه جناب رسول الله ﷺ وفرمایل چی که چیری دګریبان دچاك دبندولو دپاره بل شی پیدا نسو نو ځوز دی ورپوری ولګوی کم چی په ځنګله کی هرځای پیدا کیږی .

**مسئله** : که چیری ګرتی. یا پاجامه دکښتی خوا څخه دومره خلاصه وی چی که چیری یو سړی دکښتی خوا څخه ورته وګوری نو دده بدن معلومیږی لیکن دلوړی خوا څخه بالکل پټ وی نوپه لمانځه بالکل تاوان نه راځی .

**۳۵. پوښتنه** : یا رسول الله ﷺ دحائضې ښځی سره خوراك کول جآئز دی که نه ؟

[سوال کوونکی: عبد الله بن سعد ورور دحکیم بن سعد انصاری رضي الله عنهما ]

**جواب** : هو ! جآئز دی ، ورسره خوراك کوه . (ترمذی وابوداؤد) .

**شرح** : کله چی په حیض کی ښکاره نجاست پر ټوله بدن باندی نه وی ددې وجی دحآئضې لاس او خُله هم پاك وی، ددې وجی ددې سره یوځای په خوراك کی یا ددې څخه دپاته سوی خوراك یا اوبو په خوړلو او چیښلو کی هیڅ ممانعت نسته او نه هیڅ قسم کراهیت پکښی سته ، په حدیث شریف کی وارد دی چی دیوه هډوکی دیوه طرفه څخه اول وار حضرت عآئشې رضي الله عنها خوراك وکی اوبیا دهمدغه طرف څخه آنحضرت ﷺ هم خوراك وکی اوپه پیاله کی حضرتِ عآئشې رضي الله عنها اوبه چیښلی وی ، اوبیا آنحضرت ﷺ هم پرپیالې باندی ددې دخُلې پرځای خپله خُله مبارکه کښېښول او پاته سوی اوبه یې وچیښلې .

**۳۶. پوښتنه** : یا رسول الله ﷺ موږ داهلِ کتابو خلګو (یهودو او نصاراوو) په ملك کی اوسو آیا موږ ددوی په لوښو کی خوراك وکو او موږ دښکار په ځای کی اوسو (یعنی په هغه ځای کی چی دښکار قابل حیوانان پکښی ډیر وی) په خپله لیندۍ سره هم ښکار کوو اوپه خپلو غیرِ تعلیم یافته سپیانو سره هم ښکار کوو ، په دې کی کم شیان زما دپاره صحیح دی او کم نه دی صحیح ؟

[سوال کوونکی: حضرت ابی ثعلبه خشنی رضي الله عنه ]

**جواب** : داهلِ کتابو دلوښو کم چی تا ذکر وکی دهغو په اړوند دا حکم دی چی که چیری تاسی دهغه څخه ما سوا بل لوښی پیدا کی نوددوی په لوښی کی خوراك مه کوی اوکه بل لوښی نه وو نو هغه پرېولی اوپه هغه کی خوراك وکی ، او هغه چی تاسی دلیندۍ څخه په غشی غورځولو سره ښکار کړیدی او (دغشی غورځولو پر

ketabton.com - The Digital Library



وخت مو) دخدای ﷻ نوم اخیستی دی هغه هم خوری (برابره خبره ده که ترغشی غورځولو وروسته ژوندی په لاس درسی او که مړ) ، اوکم چی په تعلیم یافته سپیانو سره ښکار کوی او (دسپیانو دایله کولو پروخت) دالله ﷻ نوم یې اخیستی وی هغه هم خورئ (برابره خبره ده که ژوندی په لاس درسی اوکه مړ) اوکم چی په غیرِ تعلیم یافته سپیانو باندی ښکار کول کیږی هغه ته مو که چیری دحلالولو موقع پیدا کړه (یعنی ژوندی پیدا سی او ذبح کړل سی) نو خوری یې اوکه مړ پیدا کړل سی او ذبح نکړل سی نوبیا یې مه خوری . (بخاری شریف)

**شرح** : ابو ثعلبه خشنی رضی الله عنه چی دهغه نوم داکثرو علماوو په نزد باندی جرثوم وو دشام په ملك کی اوسیدی چی هلته دعربو بعضی هغه قبیلې هم آبادی وی کمی چی نصرانی سوی وی دې خلګو چی کله په خپلو لوښو کی دخنزیر غوښی هم پخولی او شرابونه یې پکښی اچول او مسلمانانوته به کله کله دهمسایګی په وجه یا کله په سفر کی ددوی دلوښو داستعمال ضرورت پیښیدی ، ددې وجی ددې په اړوند ابو ثعلبه رضی الله عنه پوښتنه وکړه ، ده ﷺ وفرمایل چی په وخت کی دضرورت دالوښی ښه پرېولی اوپاك یې کی اوبیا یې استعمال کړی اوکه نور لوښی پیدا سی نوبیا دا مه استعمالوی ، په دې لوښو کی چی کله دنجاست شبه بلکه یقین وو ددې وجی پرېول یې واجب سوه او بې له ضرورته استعمال یې ناجآئز سو ، لیکن داهلِ کتابو او هنودو او نورو داسی لوښی چی په هغه کی دنجاست شبه نه وی بې له ضرورته هم استعمالول روا دی او دهغو پرېول صرف مستحب دی واجب او ضروری نه دی ، په بِسْمِ الله ویلو اوبیا غشی غرځولو سره چی کم حیوان مړسی دهغه خوړل حلال او صحیح دی او که تر زخمی کیدو وروسته ژوندی پیدا سی نوبیا یې ذبح کول واجب دی .

**تعلیم یافته** هغه سپی دی چی دهغه دا عادت جوړل کړل سی چی ښکار وکی او سیده یې راوړی او په خپله یې ونخوری ، څه وخت چی درې واره ښکار وکی اوپه خپله یې ونخوری نو شرعًا ورته معلّم یعنی تعلیم یافته ویل کیږی ، پر هغه باندی که چیری بسم الله وویل سی او ایله کړل سی او هغه یو حیوان مړ کی او رایې وړی نو حلال او طیب دی ، بیا هم که چیری یو وخت دهغه څخه دی په خپله خوراك وکړی نو معلم کیدل به یې باطل سی او څه وخت چی دهغه څخه وروسته بیا درې واره په امتحان کی کامیابه سی (یعنی ښکار راوړی اوپه خپله یې ونخوری ) نوبیا

ketabton.com - The Digital Library



به معلّم سی .
باز اونورو مرغانو ته هم که چیری دښکار په واسطه تعلیم ورکړل سی نو دهغه مړ کړل سوی ښکار چی راوړی جآئز دی، په دې کی دا شرط هم نسته چی په خپله به یې نخوری ، که یې چیری مړکی اوپه خپله یې هم وخوری بیا هم هغه حلال دی ، په دې شرط چی بسم الله پر ویل سوی وی او دی ایله سوی وی ، دهغه دمعلم کیدو دپاره فقط دا کافی ده چی ایله کوونکی یې په کم وخت کی چی (درابللو په اشارې یا آواز سره) راوبولی نودی بیرته راسی مگر شرط دا دی چی سپی یا باز او نورو چی کم حیوان مړ کړی وی په هغه کی یې زخم کړی وی که یې بېله زخمه مړ کړی وو نوبیا نه دی حلال .
غیرِ تعلیم یافته سپی که په ښکار پسی ایله کړل سی او ژوندی یې راوړی نو چی حلال کړل سی خوړل یې جآئز دی لیکن که یې چیری مړ کړی او رایې وړی نودهغه خوړل نه دی جآئز .
**مسئلې** : که چیری سپی یو حیوان مړ کی دهغه څخه یې یوڅه قدر وخوړل اوبیا هم هغه تاته ژوندی ورسیدی نو په ذبح کولو سره یې خوراك جآئز دی مگر سپی لا تراوسه پوری معلم نه دی ترڅو چی درې واره یې بیا امتحان ونکړل سی او په هغه کی کامیاب نسی ، که چیری سپی فقط دښکار وینی وڅیښلی غوښی یې نه وی خوړلی نو هغه ښکار بالکل حلال دی ، او دسپی معلم کیدل هم ددې څخه نه باطلیږی ، که چیری سپی یا باز یا نورو ښکار کوونکو حیوانانو یو ښکار زخمی کی او ژوندی یې راوړی نودهغه ذبح کول ضروری دی که چیری ذبح نکړل سی نو حرامیږی ، او دغشی دښکار همدا مسئله ده ، که چیری پریوه سپی بسم الله وویل سوه او دهغه سره بل سپی یوځای سو چی بسم الله نه وه پر ویل سوی یا معلم نه وو اوبیا یې په گډه یوښکار وکی نو هغه ښکار حرام دی .
ناپاکه لوښی په پرېوللو سره پاکیږی ، که څه هم چی په هغه کی نجس شی پوخ سوی وی ، که چیری بسم الله وویل سی اوپه ځنگله کی داسی یو دام واچول سی چی په هغه کی په لویدو سره حیوان زخمی سی او یو حیوان چی زخمی سوی وو بیا دهغه زخمه څخه پسی مړ سو نو نه دی حلال البته که چیری ژوندی لاس ته درسی نو چی ذبح یې کړی خوړلای یې سی .
۳۷. **پوښتنه** : ای سیدِ عالَم ﷺ زه یو داسی سړی یم چی ښایست ( او صفائی او

ketabton.com - The Digital Library



نفاست) ماته ډیر خوښ دی اولکه څنګه چی ته ﷺ راته ګوری الله تعالی ماته دا نعمت را عطا کړی هم دی ، اوس زما داصلیت او پاکیزګی تردې اندازې پوری خیال دی چی ماته دا هم خوښه نه ده چی دیوچا دبوټو تسمه هم زما ترهغې لوړه سی (یعنی دا غواړم چی زما هر شی ترټولو ښه او لوی وی تردې اندازی چی دچپلکو او بوټو تسمه هم) آیا دا خبری هم په تکبّر کی داخلی او ممنوع دی اوکه ددې څخه کمه منع نسته ؟

[سوال کوونکی: یوشخص په خپله په روایت دابن مسعود اوابی هریرة رضی الله عنهما ]

**جواب** : الله تعالی جمیل دی ، جمال ( ښایست او صفآئی ) خوښوی ، (نو داشیان تکبّر نه ګڼل پکار دی) بلکه دحق دخبری څخه (په زور سره دپاره دنحوست) انکار کول او خلګ حقیر او خوار ګڼل تکبّر دی . (بخاری ومسلم وترمذی وابوداؤد بالفاظ مختلفة)

**شرح** : د الله تعالی دجمیل کیدو څخه دا مراد دی چی د هغه جل جلاله صفات ، افعال ، اسمآء او اغراض مقصد ټول شیان بهتر او عمده دی ، نو هغه جل جلاله دهرشی دښایست اوعمدګی خوښوونکی دی، نفیسی او ښې جامې اونور درلودل کم بد کار نه دی، بلکه په صورت کی دقدرت او پراخی همدا خوښ او مستحب دی لکه چی حضرت سید الکونین ﷺ چی کله یو شخص چی مالدار او خاوند دپراخۍ وو په کمزوری حالت او مفلسانه جامه کی ولیدی نو وې فرمایل چی کله خدای جل جلاله تاته نعمت درکړیدی نوپکار دی چی دهغه اثر پر تا باندی ښکاره وی البته نور خلګ خوار او یا د هغوی جامې او نور ذلیل ګڼل او په خپل زړه کی د لوړوالی او بهتر والی خیال راوړل نهایتی عیبجن کار او حرام دی ، دارنګه تر حد زیات په زینت او ښایست کی مصروفه کیدل او اسراف کول هم په ګناه کی داخل دی .

حاصل داچی کبر یو دزړه کار دی چی دهغه تاثیر داهم دی چی دخپلی رایی یا عقیدې په مقابله کی دحق خبری دقبلولو څخه نفرت کول کیږی دنورو عقیده، خیال رایه ، قیاس ، صورت او لباس خوار او حقیر ګڼل کیږی ، کله کله سره دښکاره عزته او وجاهته او سامانه په زړه کی دا فکر او مضمون نه وی او کله کله سره دبی سر او سامانۍ او دقّت (دِغت) او حیرانتیا دکبر فکر او مضمون اودخپل ځان ښه ګڼلو چرت په زړه کی وی ، لکه چی روایت کړل سویدی چی حضرت سیّد عالَم ﷺ تشریف وړی په لار کی یو نهایتی مفلس او محتاجه فقیر ولاړ وو ، خلګو وویل

ketabton.com - The Digital Library



چی لږ دلاری څخه لیری سه آنحضرت ﷺ تشریف راوړی ، نوده وویل چی لار خو لا ډیره خالی ولاړه ده ، اوهم هلته دریدلی پاته سو ، نبی ﷺ صحابه وو رضی الله عنهم ته وفرمایل چی په ده کی تکبّر دی ، هغوی رضی الله عنهم عرض وکی چی ای حضور ﷺ ! په دومره ذلت او خواری ، بیکسی او مفلسی کی څنګه تکبّر کیدلای سی ؟ نبی ﷺ وفرمایل : چی دا (تکبّر) خو دزړه سره تعلق لرونکی شی دی (پر سامان او ثروت باندی موقوف نه دی) البته ددبدبې او حشمت په موجود والی کی دهغه زړه دکبر دمضمون ښکاره کیدل ډیر ښکاره کیږی . اَللّٰهُمَّ طَهِّرْ قُلُوْبَنَا مِنْ دَنَسِ الْكِبْرِ وَالْكُفْرِ

۳۸. **پوښتنه** : یا رسول الله ﷺ موږ سبا ددښمن دمقابلې دپاره روانیدونکی یو او زموږ سره چاقو نسته نو آیا موږ دبانس په تیره څوکه اونورو داسی شیانو سره ذبح کولای سو ؟ [سوال کوونکی: رافع بن خدیج رضی الله عنه]

**جواب** : داسی یوشی درسره واخله چی دهغه څخه وینه وبهیږی اودخدای جل جلاله نوم واخله او ذبح وکه او هغه غوښی وخوره ، البته په کم شی سره چی ذبح کوی هغه باید چی غاښ او نوك نه وی ، اوددې وجه هم درته ښیم ، په غاښ باندی ددې وجی ذبح کول روا نه دی چی هغه هډوکی دی او په نوك سره ددې وجی روا نه دی چی هغه دحبشیانو چاقو دی . (بخاری وابوداؤد ومسلم)

**شرح** : کله چی دا خلګ ددښمن مقابلې ته تلونکی وه اوهلته په غنیمت کی دداسی حیوانانو دنیول کیدو امید وو چی هغه ذبح کړل سی اووخوړل سی او په تورو سره ذبح کول دې حضراتو نه خوښول ولی چی تیزوالی یې ځی ، ددې وجی یې سوال وکی چی آیا په بل شی هم ذبح جآئز ده او که نه ؟ نبی ﷺ په هر داسی شی سره دذبح کولو اجازه ورته وفرمایله چی تیز او څوکه لرونکی وی چی په هغه سره رګونه پرې کړل سی او وینه وبهیږی ، لیکن کله چی بعضی حبشی او ځنګلی خلګو به یوشی په نوك او غاښ باندی پرې کی اوذبح به یې کی ددې وجی یې منع ورڅخه وفرمایله چی په غاښ سره ذبح مه کوی ځکه چی هغه هډوکی دی اوپه هډوکی سره ذبح جآئز نه ده ، ولی چی په دې سره په ذبح کولو سره به هغه نجس سی ، اوپه نوك سره ذبح کول دحبشیانو طریقه ده ددې څخه پرهیز لازم دی ، لیکن دعلمآء حنفیه وو په نزد په هغه نوك او غاښ سره ذبح کول حرام دی چی هغه پر خپل ځای لګیدلی وی ، که چیری په راکښل سوی غاښ یا پرې سوی نوك سره ذبح وکړل سی نوکه څه هم چی سخت مکروه دی مګر حلال دی، دآنحضرت ﷺ دجواب

ketabton.com - The Digital Library



څخه معلومه سوه چي دذبح دپاره وینه بهوونکی اوپرې کوونکی شی ضروری دی نوکه چیری بسم الله وویل سی په لکړه یا ربړ (غُلیل) یا ډبری سره ووهل او مړسی نونه دی حلال .

**۳۹. پوښتنه** : یا رسول الله ﷺ خلګو لره ترټولو زیات جنت ته داخلوونکی کم شی دی او ترټولو زیات دوزخ ته داخلوونکی کم شی دی ؟

[سوال کوونکی : صحابه رضي الله عنهم په روایت دابو هریرة رضي الله عنه ]

**جواب** : خلګوته ترټولو زیات جنت ته داخلوونکی دالله ﷻ څخه بیره ده (تقوٰی) او ښه اخلاق دی اوپه اور کی ترټولو زیات داخلوونکی خُله او شرمګاه (عورت) دی .
(ترمذی وابن ماجه) .

**شرح** : اصلی او حقیقی سبب ددخول فضل او رحمتِ خداوندی دی ، لیکن په ظاهر کی لوی سبب چی دهغه څخه خلګ په جنت کی داخل سی دالله تعالی څخه تقوٰی کول او بیریدل دی ولی چی ادنٰی (ډیره کښته) درجه دتقوٰی دشرك څخه ځان ساتل دی اوبې له دې جنت ته داخلیدل نسی کیدی او دګناهونو څخه محفوظه کیدل هم تقوٰی ده په دې سره هم انسان ددوزخ څخه لیری کیږی او دجنت مستحق ګرځی ، داعلٰی درجې تقوٰی داده چی دغیر الله خیال هم په زړه کی نه راوړی ، وَذٰلِكَ فَضْلُ اللهِ يُؤْتِيْهِ مَنْ يَّشَآءُ ، او ښه اخلاق هم لوی سبب دی ، ولی دکم سړی چی دزړه اخلاق او ملکې ښې وی دهغه څخه اعمال او افعال هم خوښ صادریږی او دنورو خلګو سره هم په احسان او ښه سلوك سره پیش کیږی ، چاته ضرر نه رسوی ، بلکه په ښو اخلاقوکی ترقی کیږی ، اوبیا خپلو ضرر رسوونکو ته هم راحت او ګټه رسوی او دهغو سره احسان کوی .

اوپه دوزخ کی دداخلیدو لوی سبب خُله او شرمګاه (عورت) دی ولی چی ددې دوو دوجی څخه خدای تعالی ﷻ ناراضه کیږی ، اودده ﷻ نارضایی دوزخ ته دتللو اصلی سبب دی او دهمدې وجی څخه ښه معامله پرېږدی او دخلګو سره مخالفتونه او نزاع کوی او دهغوی حقوق تلفوی ، جناب رسول الله ﷺ ته الله تعالی جوامع الکلم ورکړی وی یعنی داسی کلامونه او ویناوی ډك دقدرت او ملکې چی الفاظ یې نهایتی مختصر او لږ وی او معانی یې نهایتی ډیری وی ، لکه چی په دې ځای کی جنت دداخلیدلو په اسبابو کی یې تقوٰی دالله ﷻ څخه بیره وفرمایل چی ددې څخه دې طرف ته اشاره ده چی دالله ﷻ سره معامله صحیح کوه دهغه ﷻ دټولو

ketabton.com - The Digital Library



**احکامو تعمیل** (پرځای کول) کوه دکومو خبرو دکولو چې یې ارشاد فرمایلی دی هغه پرځای راوړه او کم شیان چې یې منع کړیدی هغه مه کوه ، او دوهم سبب یې ښه اخلاق وفرمایل چې ددې طرف ته اشاره ده چې دخدای ﷻ دمخلوق سره معامله صافه ساته او ښکاره ده چې دا خبری دټول شریعت خلاصه او په جنت کی دداخیدلو داعلی اسبابو څخه دی ، هلته یې دوږخ ته دداخیدلو په اسبابو کی خُله بیان کړه ، ولی چې په مطابق دارشادِ نبوی ﷺ دژبې ساتنه ددین اصل دی او حلال خوراك دپرهیزگاری مغز دی ، دژبې دناجآئزو اونا مشروعو کلمو څخه دنه محفوظ کیدو په سبب او دحرامی گولې څخه دپرهیز نه کولو په وجه باندی انسان ددوږخ مستحق گرځی.

دوهم سبب یې فرج (شرمگاه) وفرمایل ځکه چې دهغه شهوت په نهایتی تیزی سره پر انسان باندی حمله کوی او هغه مغلوبه کوی اودده عقل ړندوی اوپه دې سره دانسان څخه ددوږخ کنده جوړوی ، ددې دشر څخه محفوظ اوسیدل دلویو دیندارو خلگو کاردی ، اوپه وَالَّذِيْنَ لِفُرُوْجِهِمْ حٰفِظُوْنَ سره الله تعالی ددوی تعریف فرمایلی دی ، حاصل دادی چې اکثره اسباب دهمیشنی نیکبختی اواُخروی کامیابی دتقوٰی او ښو اخلاقو څخه تر لاسه کیږی او اکثره اسباب دهمیشنی بدبختۍ او اُخروی غمونو دخُلې او فرج په واسطه پرذمه باندی لویږی .

۴۰. **پوښتنه** : یا رسول الله ﷺ بعضی خلگ (کم چې نوی نوی مسلمانان دی) موږ ته غوښی دخرڅولو دپاره راوړی ، معلومه نه وی چې هغوی پردې باندی دذبح پر وخت دخدای ﷻ نوم اخیستی وی اوکه نه ؟ (ولی چې هغوی داسلامی قواعدو څخه پوره نه وی خبر) دداسی غوښو خرڅول او خوړل جآئز دی او که نه ؟

[سوال کوونکی : یوقوم داهل عربو څخه ]

**جواب**: (هیڅ شبه مه کوی) تاسی پرهغه باندی دخدای ﷻ نوم واخلی او خوری یې .

(بخاری شریف)

**شرح** : دآنحضرت ﷺ دارشاد مطلب دادی چې کله هغه خلگ مسلمانان دی او ظاهر حال دمسلمان دادی چې هغه بسم الله وایی او ذبح کوی نوپه زړه کی شکو او شبهاتو ته ځای مه ورکوی چې شاید چې بسم الله یې پرې ایښی وی ، بلکه بې له تکلیفه دخدای ﷻ نوم واخله او خوره یې ، دا مقصود نه دی چې که چیری هغه دخدای ﷻ نوم نه وو اخیستی نوپه هغه وخت کی به ستا بسم الله ویل کافی سی او

ketabton.com - The Digital Library



نه هم دا منظوره (مقبوله) ده چی که چیری په یقین سره معلومه سی چی هغه دذبح په وخت کی دخدای ﷻ نوم نه دی اخیستی نوبیا یې هم خوره ، بلکه په داسی ځای کی پرغالب ګمان باندی حکم ورکول کیږی کله چی دهغه دحال او قرینې ښخه نسی معلومه او غالب ګمان سی چی دخدای ﷻ په نامه سره به یې ذبح کړی وی نوبیا یې خوړل جائز دی ، لکه چی په بعضو روایاتو کی دی چی نبی ﷺ وفرمایل چی دهغه ښخه ښه قسم واخلی چی دخدای ﷻ په نامه یې ذبح کړیده ، بیا یې خوری ، که چیری غالب ګمان دالله ﷻ دنوم دپرېښوولو وو نو بیا یې خوراك حرام دی .

۴۱. **پوښتنه** : زما زوی عبد الله (رضی الله عنه) په حالت کی دحیض خپلی زوجې ته طلاق ورکړی دی ، جائز دی که ناجائز او اوس څه کول پکار دی ؟

[سوال کوونکی : حضرت عُمرِ فاروق رضی الله عنه ]

**جواب** : (طلاق لویدلی دی مګر) هغه ته حکم وکه چی رجوع وکړی اوپه خپله نکاح کی یې ولری ترڅو چی ددې حیضه ښخه پاکه سی او بیا حیض ورته راسی او بیا پاکه سی تردې وروسته که یې خوښه وی په نکاح کی دې یې ورسره پرېږدی اوکه یې خوښه وه (په همدې طهر کی دی) تر نژدیکت کولو دمخه طلاق ورکړی . (بخاری شریف)

**شرح** : دحیض په حالت کی طلاق ورکول ډیر بد او ناخوښه دی ، او آنحضرت ﷺ پردې باندی ناراضګی ښکاره کړه ، بیا هم په دې حالت کی چی کم طلاق ورکول سی هغه دجمهورو علماوو په نزد باندی واقع کیږی لیکن رجوع کول بیرته واجب دی لکه چی آنحضرت ﷺ په دې قصه کی درجوع کولو حکم فرمایلی دی او تر رجوع کولو وروسته چی کله هغه دحیض ښخه پاکه سی نو دوباره طلاق ورکول جائز کیږی ، لیکن آنحضرت ﷺ دا حکم وفرمایۀ چی یو وار پاکه سی بیا دوهم وار حیض راسی اوبیا پاکه سی نو بیا طلاق ورکول کیږی دا حکم په ډول داستحباب دی ، په دې کی یو حکمت داهم دی چی که چیری په اول طهر (۱) کی یعنی په اول وار دحیض پاکیدو ښخه طلاق ورکول سی نوداسی به معلومه سی چی ګواکی دطلاق ورکولو دپاره یې رجوع کړی وه او که چیری تر بل طهره پوری انتظار وسی نو داسی به نه وفهمول سی بلکه شاید چی په دومره زمانه کی یو دبل

(۱). په کمه زمانه کی چی ښځی ته حیض نه وی راغلی هغه ته طهر وایی چی دهغه لږ تر لږه موده پنځلس ۱۵ ورځی ده (او زیاته مودې ته یې اندازه نسته) . منه رحمه ربه جلّ وعلی

ketabton.com - The Digital Library



سره د اوسيدو الفت وسی او د طلاق خيال د زړه څخه ووزی ، او نبی ﷺ ارشاد وفرمايۍ چی دوباره په کم طهر کی طلاق ورکوی په هغه کی دی تر صحبت کولو مخکی طلاق ورکړی ولی چی په داسی طهر کی طلاق ورکول عمده او ډير ښه دی په کم کی چی صحبت او جماع نه وی واقع سوی ، تر طلاق تيريدلو ته او بيرته په نکاح کی پاته کولو ته رجعت وايی ترڅو پوری چی يې يو يا دوه طلاقه ورکړی وی نو تر عدې تيريدو دمخه دمخه زوجه بيرته په خپله نکاح کی ساتلی سی دوباره دنکاح کولو ضرورت نسته بلکه صحبت کول او په ژبه سره ويل يې کافی وی . تر عدې تيرېدو وروسته يا تر درو طلاقو ورکولو وروسته يې په خپله نکاح کی نسی ساتلی ، دعمر رضي الله عنه زوی يوازی يو طلاق ورکړی وو ددې وجی رجعت ورته جآئز وو ، دکمی ښځی سره چی تر اوسه صحبت لانه وی سوی هغې ته په حالت کی دحيض هم په طلاق ورکولو کی هيڅ ممانعت نسته .

۴۲. **پوښتنه** : يا رسول الله ﷺ موږ ته په حالت کی دجنابت بيديدل جآئز دی ؟

[سوال کوونکی : عمر بن الخطاب دپاره دخپل زوی عبد الله بن عمر رضي الله عنهما ]

**جواب** : هو ! اودس وکی او بيا بيديدل پکار دی بيا چی موکله وغوښتل غسل وکی ، (مسلم وبخاری)

**شرح** : دحضرت عمر رضي الله عنه زوی عبد الله بن عمر رضي الله عنهما ته دشپې په وخت اکثره دغسل کولو ضرورت کيدی اوپه دې وخت کی ورته غسل کول دشوار او سخت وو هغه دخپل پلار حضرت عُمر رضي الله عنه څخه دا مسئله وپوښتله ، عمر رضي الله عنه دا دجناب سرورِ عالَم رسول الله ﷺ په خدمت کی پيش کړه ، ده ﷺ دذکر پريولو او په عادی طريقه سره داودس کولو او بيا بيده کيدلو اجازه ورته وکړه ، ليکن داوداسه او استنجا کولو حکم يوازی دصفائی او پاکيزګی دپاره ده ﷺ په طريقه داستحباب فرمايلی دی ، که نه وی استنجا کول او اودس کول واجب او ضروری نه دی ، بې له دې هم بيده کيدل جآئز دی ، دا مضمون دنورو حديثو څخه معلوم سويدی ، په دې اوداسه سره که څه هم چی ټوله جنابت نه ليری کيږی ليکن په جنابت کی يو څه قسم تخفيف کيدلی سی ، ددې حديث څخه معلومه سوه چی چی په حالت کی دجنابت اوسيدل او بيديدل جآئز دی ، په بعضو احاديثو کی چی کم ددې ممانعت معلوميږی او فرمايل سويدی چی په کم ځای کی تصوير يا سپی يا جنابت والا شخص وی هلته ملايکه نه داخليږی ، هغه په هغه وخت کی چی

ketabton.com - The Digital Library



سُستی کوی او پروت وی او دلمانځه وخت پر تیر سی .

**۴۳. پوښتنه** : یا رسول الله ﷺ مؤذن چی اذان وکی په ثواب کی تر موږ لوړیږی ، یو داسی چل راته وښیه چی موږ تر دوی کم نسو ؟

[سوال کوونکی : یو شخص په روایت دعبد الله بن عمر رضي الله عنهما ]

**جواب** : لکه څنګه چی هغه اذان کوی تاسی هم په ژبه هغه کلمې وایاست (په ثواب کی به ددوی سره برابر سی) بیا چی کله دا کلمې وویل سی فارغه سی نودخدای ﷻ څخه دیوشی سوال وکی الله تعالی به یې در کړی . (ابو داؤد وابن حبان ونسایی فی الیوم واللیلة) .

**شرح** : دمؤذن څخه چی دآذان کلمې واورول سی جواب ورکول یې لازمی دی یعنی کمه کلمه چی مؤذن وایی هغه دې په خپله هم وایی ، لیکن کله چی مؤذن حَیَّ عَلَی الصَّلاَةِ او حَیَّ عَلَی الْفَلاَحِ وایی نوبیا ددې په جواب کی لاَ حَوْلَ وَلاَ قُوَّةَ اِلاَّ بِــاللهِ ویل پکار دی ، او دسهار په آذان کی چی اَلصَّلٰوةُ خَیْرٌ مِّنَ النَّوْمِ واوری صَدَقْتَ وَبَرَرْتَ ویل پکار دی ، دا خبره دنورو حدیثو څخه ثابته ده ، که چیری بالکل همدغه کلمې ووایی بیابه هم ثواب ور ورسیږی او جواب به اداء کړل سی ، ترجواب ختم کولو وروسته دی یوه ضروری دعا وکی او درود شریف دی ووایی ، د آذان جواب ورکوونکی ته دجنت خوشخبری ورکول سویده ، او تر آذان وروسته د اَللّٰهُمَّ رَبَّ هٰذِهِ الدَّعْوَةِ التَّآمَّةِ الخ دعا تر آخره پوری ویونکی ته دخاص شفاعت کولو آنحضرت ﷺ وعده فرمایلی ده (د اذان تفصیلی حال او مسئلې او دعاوی او نور شیان ددې کمزوری مؤلِّف (رحمة الله علیه) په رساله القول المتین کی لیکلی دی) .

**۴۴. پوښتنه** : زما دزوج (سعد بن خوله رضي الله عنه ) وفات وسو په داسی حال کی چی زه حامله وم تروفات څو ورځی وروسته ما حمل کښېښووی ، اوس می بله نکاح کول غوښتل چی ابو السنابل راغی او راته وې ویل چی ترڅو پوری دی دزوج دوفات څخه څلور ۴ میاشتی او لس ۱۰ ورځی نه وی تیری سوی تاته نکاح کول نه دی روا ، اوس زما دپاره څه حکم دی ؟

[سوال کوونکی : سبیعه اسلمیه رضي الله عنها ]

**جواب** : تاچی کله حمل کښېښووی په هم هغه وخت کی دعدې څخه ووتی ، اوس که ستا زړه وغواړی نو نکاح وکه (ابوداؤد ومسلم وبخاری) .

ketabton.com - The Digital Library



**شرح** : سبیعه رضي الله عنها دبنی اسلم دقبیلې اوسیدونکی وه ، دهغې زوج سعد بن خوله رضي الله عنه دبنی عامر دقبیلې ځخه وو ، او دهغو مقدسو حضراتو صحابه کرامو رضي الله عنهم ځخه وو چاته چې دبدر په غزا کی دحاضریدلو شرافت حاصل سوی وو ، کله چې آنحضرت ﷺ په حجة الوداع کی مکی معظمې ته تشریف راوړی نو دهغه وفات سوی وو (دبعضو روایاتو ځخه معلومیږی چې هغه دبل چا دلاسه وژل سوی وو) سبیعه رضي الله عنها حامله وه ، شل ۲۰ ورځی وروسته یې کوچنی پیدا سو ، کله چې دحاملې عده دکوچنی ترپیدا کیدو پوری ده نوځکه سبیعې رضي الله عنها ددوهمی نکاح اراده وکړه اوپه زیب او زینت سره اوسیده ، ابو السنابل رضي الله عنه (چې نوم یې عمر یا عامر وو اوډیر ښه شاعر وو) هم ددې سره نکاح کول غوښتل مګر کله چې دده عمر زیات وو ددې وجی سبیعه رضي الله عنها دده ځخه نه وه راضی او دخپل قوم دیو ځوان شخص سره یې نکاح کول غوښتل ، یوه روځ ابو السنابل ددې پرکور باندی راغی نویې ولیدل چې په نکریزو یې لاسونه سره کړی رانجه یې لګولی او ښه سینګار یې کړی ناسته ده او دنکاح دپاره تیاره ده ، ورته وې ویل په خدای قسم چې ته نکاح کولای نسی ، ترځو چې دمخکنی زوج دوفات ځخه ځلور ۴ میاشتی او لس ۱۰ شپې نه وی تیری سوی ، ده ته مسئله نه وه معلومه دا ګمان یې وو چې په قرآنِ مجید کی چې کم دلسو ۱۰ ورځو او ځلورو ۴ میاشتو دعدې حکم دی هغه دټولو هغو ښځو دپاره دی چې زوج یې مړ سی برابره خبره ده که هغه حامله وی اوکه نه وی ، او ددې تاخیر داهم فائده وه چې دسبیعې رضي الله عنها بعضی قریبان چې ابو السنابل یې پیژندی اودده په ښو خویونو خبروه اوسبیعې رضي الله عنها ته یې دده سره دنکاح کولو ترغیب ورکړی وو او راضی کړی یې وه هغه په دې ورځو کی په مدینه منوره کی نه وه موجود ، ابو السنابل رضي الله عنه فکر وکی چې که چیری دهغو په نه موجودګی کی ددې نکاح دبل چا سره وسوه نو موقع به می دلاسه ځخه ووزی اوکه چیری دعدې دمجبوری له امله په نکاح کی تاخیر او ځنډ راغی نوپه دومره وخت کی به هغوی هم را ورسیږی اوزما سره به یې نکاح راوکی، سبیعې رضي الله عنها لس ۱۰ ورځی دده په ویلو سره صبروکی لس ۱۰ ورځی وروسته دماښام تر لمانځه وروسته چې کله تاریکه سوه نوپه ښه پوره ډول یې ځادر پرځان را تاو کی او دمحتاجانو کومکی ، دبیچارګانو چاره ګر ، سردار دعالمو ﷺ په خدمت کی حاضره سوه خپل حال یې ورته بیان کی، نبی ﷺ ورته وفرمایل چې

ketabton.com - The Digital Library



دکوچنی تر زیږیدو سره سم ستا عده تیره سوه، اوس که ستا زړه غواړی اوښه زوج پیدا سی چی دهغه ځخه ته راضی یې نو نکاح وکړه ، سبیعي رضي الله عنها تر اجازې اخیستلو وروسته دخپل قوم دهغه ځوان سره نکاح وکړه او ابو السنابل رضي الله عنه بیچاره ورته کتل ، لیکن دده رضي الله عنه دنیك بخت ځخه یوڅه زمانه وروسته هغه ځوان دې رضي الله عنها ته طلاق ورکی او آخر ابو السنابل ددې رضي الله عنها سره نکاح وکړه او دډیر وخت آرزو یې پوره سوه . په صحابه وو رضي الله عنهم کی چی به هرکله دحاملې دعدې په باره کی اختلاف راغی نو سبیعي رضي الله عنها ته به ورغله اودهغې دنکاح قصې به یې پوښتله . ددې واقعې ځخه معلومه سوه چی دلسو ۱۰ ورځو او ځلورو ۴ میاشتو حکم دهغه ښځی دپاره دی چی دهغې زوج مړ سی او هغه حامله نه وی او دحاملې عده اېښوول دی دحمل ، برابره خبره ده که دطلاق ځخه عده وی اوکه دمرګ ځخه ، اوداهم معلومه سوه چی ترعدې تیریدو وروسته ښځی ته زینت جآئز دی په دې شرط چی په بد نیت سره نه وی ، اودا هم معلومه سوه چی دشپې ښځوته دضروری کار دپاره چی پرځان باندی چادری وپیچی وتل جآئز دی ، که ځه هم چی دحقی لاری علمآء دفتنې دبیری او دشر داندیښنې دوجی ځخه دا وتل نه خوښوی .

**۴۵. پوښتنه** : ای جناب مصطفٰی ﷺ ! ماته زما دزوجې سره په حالت کی دحیض کمی کمی خبری حلالی دی ؟

[سوال کوونکی : یوشخص په روایت دزید بن اسلم رضي الله عنه ]

**جواب** : دهغې پایجامه وتړه دلوړ بدن ځخه یې تاته (دنفع اخیستلو) اختیار دی . (موطا ودارمی) .

**شرح** : دحیض په حالت کی دزنګنو ځخه تر نامه پوری ماسوا دنور بدن ځخه نفع اخیستل پریوتل ، کښېنستل ، بدن ورسره یوځای کول جآئز دی ، که ځه هم چی په مابینځ کی یې کمه جامه ، ټوکر او پرده نه وی ، البته دنامه ځخه تر زنګنو پوری جامه او پرده ضروری ده ، اوکمی خبری چی دپاکۍ په حالت کی جآئزی وی هغه اوس هم جآئزی دی لیکن صحبت بالکل حرام دی ، په دې حالت کی ښځه دخپلی بسترې ځخه جلا کول مناسب نه دی ځکه چی په دې کی دیهودیانو سره مشابهت دی، په حآئضه باندی خوراك پخول یا دهغې چی لاس پر لګیدلی وی دهغو شیانو استعمالول (مثلاً ددې په لاس میشته سوی وړه یا پاته سوی اوبه) نه دی مکروه ،

ketabton.com - The Digital Library



دحائضې مسجد ته دا خليدل ، قرآنِ مجيد ويل ، روژه نيول ، لمونځ كول ، قرآن مجيد بې له غلافه مسح كول دا ټول حرام دی ، كلمه ويل ، درود شريف ويل ، او سبحان الله او الحمد لله او نور دالله ﷻ ذكرونه كول بې له شبهې جآئز دی .

**۴۲. پوښتنه** : يا رسول الله ﷺ زما زوج ابو سفيان يو بخيل سړی دی داهل او عيال په خوراك او چيښاك كی تنگی كوی اوماته دومره څه نه راكوی چی ماته او زما اولاد ته كافی سی ، نو كه چيری زه دده دمال څخه بې له اجازته دده ، دده په عيال څه خرڅ كړم نو آيا جآئز دی او كه نه ؟

[سوال كوونكی : نامداره په هند سره ، زوجه دابو سفيان رضي الله عنهما ]

**جواب** : دده پر عيال باندی (په اندازه دضرورت) په اصلی اندازه خرڅ كولو باندی هيڅ منع نسته ، ته دومره اندازه اخله چی تاته او ستا اولاد ته كافی وی (مسلم وبخاری شريف)

**شرح** : داولاد او دزوجې نفقه پر پلار او زوج باندی واجب ده ، كه په دې كه چيری هغه بخل او تنگی كوی نو ښځی ته په پټه باندی په اندازه دضرورت خرڅ كول جآئز دی يعنی غله او نور دخوراك او چيښاك شيان دی په اندازه دضرورت واخلی او په ځان او اولاد باندی دی خرڅ كړی، لكه نبی ﷺ چی ددې پوښتنی په جواب كی داسی ارشاد وفرمايې ، ليكن دا جآئز نه دی چی بې ځايه خرچی وكړی او دهغه مال ضائع كړی اودا هم جآئز نه دی چی نقدی پيسې او روپيې په پټه باندی واخلی په هغه غله او شيان رانيسی او په اهل او عيال باندی يې خرڅ كړی بلكه عادی او معمولی شيان دخوراك او چيښاك بې له خبرولو دزوج خرڅولی سی ، په هند سره نامداری ښځی چی دا سوال كړيدی دحضرت معاوية رضي الله عنه مور او دابو سفيان رضي الله عنه زوجه ده ، مخكی تراسلام راوړلو دې ته تر اسلام او مسلمانانو زيات په ټوله دنيا كی بل څوك مبغوض او بد نه معلوميدی ليكن دكمی ورځی څخه چی مسلمانه سوه تر اسلام او اهلِ اسلام زيات دې ته بل هيڅ نه وو محبوب .

سبحان الله مقلب القلوب

**مسئله** : كه ديوچا قرض يا يوبل حق دبل چا پرذمه باندی واجب سو اونه يې وركوی او اتفاقا دهغه يوڅه مال دحق دخاوند په لاس ورغی نوده ته بې له كمی اجازې په اندازه دخپل حق ورڅخه اخيستل جآئز دی ، په دې شرط چی دا مال به دهغه قسم څخه وی كم چی دده پر هغه باندی واجب دی ، مثلاً غله دده پرذمه

ketabton.com - The Digital Library



باندی واجب وه او غله يې پيدا کړه ، يا جامې پر واجب وی جامې يې پيدا کړی ، يا سپين زر پر واجب وه سپين زر يې پيدا کړه ، اوکه چيری دبل قسم څخه وه نوبې له اجازته دهغه څخه اخيستل جآئز نه دی مثلاً روپی واجب وی او غله په لاس ورغله يا جامې واجب وی او سپين زر په لاس ورغله ، البته په دوو نقدو (يعنی سرو او سپينو زرو) کی دا قيد نسته ، نوکه چيری ديوچا پرذمه دبل روپی (دسپينو زرو) واجب وی او هغه نه ورکولی او دهغه دسرو زرو روپی دحق خاوند ته په لاس ورغلی يا دسرو زرو روپی واجب وی او دسپينو زرو روپی په لاس ورغلی نودلته سره ددې چی دجنس اختلاف يې ترما بينځ وجود لری بيا هم دخپل حق په اندازه اخيستل او ورسره اېښوول جآئز دی .

**فآئده** : (دطالبانو دپاره) ددې سوال او جواب څخه اکثره علمآء شافعيه وو دليل نيولی دی پر روا والی باندی دقضآء علی الغآئب کم چی دحنفيه وو په نزد ناجآئز دی ، ليکن په خپله شوافعو محققينو پر رواياتو باندی په نظر کولو سره ويلی دی چی ددې څخه استدلال صحيح نه دی ولی چی ابو سفيان رضی الله عنه په دې وخت کی په مکه کی بلکه خاص په خدمت شريف کی دنبی ﷺ دپوښتنی پروخت موجود وو .

۴۷. **پوښتنه** : يا رسول الله ﷺ موږ اوښ او غوايی او بزه ذبح کوو نوبعضی وخت دهغه دنس څخه بچی راوزی، دابچی حرام وګڼو وې غورځوو اوکه هغه حلال دی وې خورو ؟ [سوال کوونکی : حضرت ابو سعيد رضی الله عنه ]

**جواب** : که چيری مو زړه غواړی نو (ذبح يې کی) وې خورئ ولی چی ددې دذبح کولو هم هغه طريقه ده کمه چی دده دمور دذبح کولو ده (ابوداؤد وترمذی) .

**شرح** : که چيری دنس څخه مړ بچی راووزی نو بالکل حرام (١) دی او که چيری ژوندی راووتی نو ذبح دی کړی او دهغه خوراك جآئز او حلال دی ، لکه څنګه چی ددې پوښتنی په جواب کی ارشاد فرمايل سويدی ، او که چيری تر ذبح کولو مخکی مړ سوی وو نو حرام دی ، صحابه وو رضی الله عنهم ته دا شبهه وه چی شايد ددومره ضعيف او دبالکل نوی را ايستل سوی بچی ذبح کول جآئز نه وی ولی چی

---

(١). دامام شافعی رحمة الله عليه په نزد که چيری ژوندی راووتی نو دذبح کولو ضرورت يې نسته ، او که چيری مړ راووتی نوهم حلال دی او دامام ابو يوسف او امام محمد رحمة الله عليهما په نزد هم چی مړ را وايستل سی حلال دی په دې شرط چی اعضآء (اندامونه) يې پوره جوړ سوی وی. شامی او مرقاة جلد خامس . منه رحمه الله تعالی

ketabton.com - The Digital Library



دا یوځه درحم خلاف معلومیږی ، دجواب حاصل دادی چی دذبح په وخت کی درا ایستل سوی بچی او دنورو حیوانانو په ذبح کی هیڅ فرق نسته .

**مسئله** : دحمل لرونکی حیوان ذبح کول جآئز دی ، البته دکم حیوان چی دبچی پیدا کیدو مُده ډیره نژدی راغلی وی دهغه ذبح کول مکروه دی .

**مسئله** : دشیدی لرونکی حیوان ذبح کول جآئز دی ، لیکن بې له ضرورته داسی کول ښه نه دی .

۴۸. **پوښتنه** : زما پر پلار باندی حج فرض کړل سویدی او هغه اوس دومره ضعیف او سپین ږیری دی چی پر اوښ باندی نسی سپریدی ، که چیری زه دهغه دطرفه ځخه حج وکړم نو دهغه دذمې ځخه به ادا سی او که نه ؟

[سوال کوونکی : یوه ښځه دخثعم دقبیلې ځخه ]

**جواب** : هو ! که یې ته دهغه دطرفه ځخه ادا کړی نو ادا کیږی .

۴۹. **پوښتنه** : زما مور نذر ایښی وو چی حج به کوی ، حج یې لا نه وو کړی چی وفات سوه ، اوس که چیری زه دهغې دطرف ځخه حج اداکم نوصحیح دی اوکه نه ؟

[سوال کوونکی : یو سړی دجهانه قبیلې ځخه]

**جواب** : ته دهغې دطرفه ځخه حج ادا که دهغې دذمې ځخه حج ادا کیږی ، وګوره ! که چیری ستا دمور پر ذمه باندی قرض وای نوتا ادا کولای سوای دارنګه دخدای ﷻ حق هم ادا کړه ځکه چی دهغه ﷻ حق پوره کول زیات ضروری دی (بخاری شریف) .

**شرح** : ترڅو پوری چی په خپله دحج کولو قدرت او طاقت وی ، یوڅوك خپل فرضی حج دبل چا ځخه نسی ادا کولی ، لیکن که یوڅوك په حالت کی دصحت او قوت دحج تر فرض (۱) کیدو وروسته نهایتی ضعیف او دسفر ناقابله سو یا سره دوجوده دقدرت او طاقت دحج تر ادا کولو مخکی مړ سو یایې نذر کړی وو چی حج به کوم او تر ادا کولو مخکی ضعیف او ناطاقته سو یامړ سو نوپه دی ټولو صورتو کی بل سړی دهغه دطرفه ځخه حج ادا کولی سی ، دحج تر فرض کیدو وروسته یا دحج تر نذر کولو وروسته او ترادا کولو مخکی که یوڅوك مړ سو او مال یې پرې ښوی او وصیت یې وکی چی زما دطرفه ځخه فرضی حج ادا کی یا

(۱). دامام ابو یوسف او امام محمد رحمهما الله دا قول دی چی که چیری په حالت کی دعجز او عذر هم حج فرض سی ، بیاهم بل څوك نائب کول او دحج ادا کول لازم دی . منه

ketabton.com - The Digital Library



زما نذر پوره کې نو دوارثانو پر ذمه باندې دده دطرفه څخه فرضي حج ادا کول او دنذر پوره کول لازم دي (برابره خبره ده که دحج نذر وي اوکه دبل عبادت) اوکه يې مال نه پريې ښووی یا یې وصیت نه وو کړی نو پروارثانو باندې ددې شیانو ادا کول لازمي نه دي البته مستحب دي چې دده دطرفه څخه فرضي حج یا نذر ادا کړي او دده غاړې او ذمه په خلاصه کړي . لکه چې دپوښتنې وړاندې کوونکې ښځې مور هم په ظاهره وصیت نه وو کړی مگر دهغې دمحبت جوش او نیکبختي دا دې ته تیاره کړه چې دمور دسره څخه دنذر بار لیرې کړي او هغه په راحت کړي او آنحضرت ﷺ دقرض مثال ورکې اوپه دې یې وپوهول چې لکه څنگه چې حقوق العباد دمړي دطرفه څخه ادا کولی سی داغه رنگه دحق الله ادا کول هم ممکن دي .

**مسئله** : که چیری یو سړی خپل فرضي حج ادا کړی وي یاپرده باندې فرض سوی نه وي او هغه دخپل طرف څخه نفلي حج ادا کول غواړي نوسره دوجوده دخپل صحت او طاقت يې هم په بل سړي سره ادا کولی سي .

**مسئله** : دخپل مور او پلار او نورو قریبانو او نورو خلگو دطرفه څخه دهغوی تر مرگ وروسته حج ادا کولی سي. برابره خبره ده که په ژوندکې پرهغوی باندې فرض وي او که نه وي او برابره خبره ده که هغوی دحج وصیت کړی وي اوکه نه وي .

**مسئله** : دبل چا دطرفه څخه چې کم حج کیږي دې ته حج بدل وایي په دې کې مناسب او بهتره داده چې داسي سړی ولاړ سي چې مخکې يې خپل حج کړی وي ، او حج بدل که چیرې دنارینه دطرفه څخه ښځه وکې یا دښځې دطرفه څخه یې نارینه وکړي بیا هم جائز دي ، دا ضروري نه ده چې دنارینه حج بدل دې نارینه کړي او دښځې حج بدل دې ښځه .

**مسئله** : دبل چا دطرفه څخه دحج کوونکې دسفر خرڅه او مصرف دحج کوونکې پر ذمه باندې وي ، لیکن که يې چیرې ددې سره سره څه أجرت او مزدوري هم مقرره کړه نو بیا حج نه ادا کیږي .

**۵۰**. **پوښتنه** : یوشی که چیرې په لار کې پروت وي یاپه لار کې پیدا کړل سي نو په هغه باندې څه کول پکار دي ؟

[سوال کوونکی : یو اعرابي چې نوم يې عقبه بن سوید رَضِيَ اللهُ عَنْهُ ذکر سویدی ]

**جواب** : دهغه لوښی (یعنې هغه کپړه او ټوکر یاچمړه اونور چې په هغه کې هغه شی تړل سویدی) او سربند (یعنې سر تړونکې چې په هغه باندې هغه شی تړل سویدی)

ketabton.com - The Digital Library



معلوم كه ، او بيا ترپوه كاله پورې دهغه اعلان او پيژندنه كوه ، په دې موده كې كه يې څېرى مالك راغى او علامه او پته او نښانه يې درته وويل نو هغه ته يې وركړه او كه نه وو نوته يې په خپله خرڅ كړه (بخارى شريف) .

**۵۱. پوښتنه** : ما په لار كې يو پرته (ايله سوې) تيلۍ راپورته كړېده چې په هغه كې سل ۱۰۰ ديناره دي اوس په هغه باندې څه وكړم ؟

[سوال كوونكى : ابيّ بن كعب رضي الله عنه ]

**جواب** : ترپوه كاله پورې دهغه پيژندنه په خلكو كې وكړه ، په يوه كال كې كه يې څېرى مالك راغى نو هغه ته يې وركړه او كه نه وو نوته يې په خپله خرڅ كړه (بخارى) .

**شرح** : دايله سوې شى را پورته كول په نيت دحفاظت سره جائز دي، اوپه كم ځاى كې چې دا انديښنه وي چې ضآئع به كړل سي يا يو بل سړى به يې په خپله پورته كړي او خپله به يې واخلي هلته يې بيا پورته كول واجب دي ، دپورته كولو پروخت بهتره داده چې يوڅوك شاهد جوړ كړي چې مالك ته دوركولو دپاره يې پورته كوم ترڅو چې دتهمت او يا الزام لګولو موقع چاته په لاس ورنسي او ددې شي څخه دده دنفس طمع هم قطع سي ولې چې كله يو سړى شاهد جوړ كړل سي نو خپل ځان ته داپښوولو او خيانت كولو موقع به بيا په لاس كې نه وي . دپورته كولو وروسته دې دهغه علامې ، پته او نښانې په ښه ډول سره يادې كړي او دكم ځاى څخه چې يې راپورته كړي وو هلته ، دمسجدو په دروازو ، بازارو اونورو عامو ځايو كې دې دهغه شهرت يعنى عامه پيژندنه او خبريدل وكړي چې داسې يو شى موږ پيدا كړيدى كه ديو چا دا ورك سوى وي نو يودې سى ، ليكن پوره حال دې دهغه شي نه بيانوي ترڅو چې چاته ددرواغو ددعوې كولو موقع په لاس ورنسي ، دهر شي تعريف او شهرت دې دهغه شي دقدر اوقيمت سره مناسب وكړي ، تردې پورې چې دا خيال وسي چې اوس ددې مالك ددې طلب پرې ايښى دى او اوس يې هغه پلټنه نه كوي ، مثلاً ډير قيمتي شي وي نو پوره كال دې دهغه شهرت وكي او كه چيرى ددوو څلورو روپو شي وي نو لس پنځلس ورځې مياشت دوې مياشتې دې دهغه شهرت وكړي په دې موده كې كه چيرى يو سړى راغى او دعوه يې وكړه او صحيح صحيح علامې او نښانې يې بيان كړې چې دهغه څخه يقين راسي چې دايې مالك دى نو پر پورته كوونكي باندې لازم او واجب دي چې هغه شى بيرته وركړي ، او

ketabton.com - The Digital Library



که چیری په دومره موده کې هیڅوك نه راغی او داسې خیال او فکر وسو چې اوس مالك ددې پلټنه او تلاښ نه کوي نو داشی دی داصلي مالك دطرفه څخه صدقه او خیرات کړی او که چیری پورته کوونکی په خپله فقیر او مفلسه وي نو تردې وخته پوری دشهرت کولو څخه وروسته هغه دخپل ځان سره اېښوول اوپه خپل استعمال او مصرف کې لګول هم جائز دی ، اوس که چیری بیا وروسته مالك راغی او دهغه شی پر صدقه کولو یا استعمالولو باندی راضی سو نو ددې مالك ته به نهایتي ډیر ثواب ورسیږی او که چیری هغه په دې باندی راضی نه وي نو پورته کوونکی شخص ته دتاوان ورکول لازمی دی او ټوله ثواب به دی تر لاسه کې ولې چې دتاوان تر ادا کولو وروسته ګواکی هغه شی دده دطرفه څخه صدقه سو .

ددې دواړو پوښتنو دپوښتونکو مفلسه او بې ماله کیدل چې کله وجناب سرورِ عالَم ﷺ ته معلوم وه او دراپورته کړل سوی شی ګران قیمته کیدل هم ورته معلوم وه ځکه یې نو دپوره کال دشهرت کولو حکم ورته وکی او ترکال تیریدو وروسته یې په خپله دخرڅ کولو اجازه ورته وفرمایله .

دلته دا شبهه کیږی چې ددوهم سوال پوښتونکی یعنی اُبیّ بن کعب رضی الله عنه (۱) دمالدارو صحابه وو رضی الله عنهم څخه وو بیا هم ده ته نبی ﷺ په خپل استعمال او مصرف کې دراوړلو اجازه کړی وه . جواب دادی چې دده په ملك کې په دې وخت کې کم مال وو ، دومره لانه وو مالدار سوی چې لقطه خرڅول ورته نه وو روا .

**مسئله** : که چیری پیدا کړل سوی شی یو داسی شی وو چې بدبویه او ورستیدی، نو تریوڅه وخته پوری دی تعریف او شهرت وکړی کله چې یې دخرابیدو اندیښنه سوه نو بیا دی خیرات کړی .

**مسئله** : که چیری یو داسی شی وی چې مالك دهغه پروا نه کوي اونه په عادت کې دهغه شی پلټنه کیږی (لکه دخرما یا آم مندکه یا دانارو پوستکی اونور) نو پورته کوونکی ته یې بې له تعریف اوشهرته په خپل مصرف او استعمال کې راوستل جائز دی .

---

(۱). دی رضی الله عنه په صحابه وو رضی الله عنهم کې ترټولو لوی حافظ او دومره جلیل القدر عالِم وو چې دحضور ﷺ په ژوند کې یې هم فتواوی ورکولی اودی رضی الله عنه دوحی په کاتبانو کې داخل وو ، آنحضرت ﷺ ده ته سیّد الانصار ویله او عمر رضی الله عنه ته یې سید المسلمین یې ویله ، په کال ۱۹ هجری په مدینه منوره کې وفات سو . لوی الله جل جلاله دې ورڅخه راضی سی ، رضی الله عنه

ketabton.com - The Digital Library



**۵۲. پوښتنه** : یا رسول الله ﷺ که څونګښه مړه کم او هغه په دواکی استعمال کم نو روا ده او که نه ؟ [سوال کوونکی : یو طبیب ]

**جواب** : دهغې مړه کول نه دی پکار ، اوپه دوا کی یې اچول نه دی پکار ، ځکه چی دهغې خوراك جآئز نه دی . (ابوداؤد)

**شرح** : بې له ضرورته دیوه حیوان وژل نه دی روا خصوصًا دچنګوښی چی دهغې په اړوند په نورو ځایو کی نبی کریم ﷺ فرمایلی دی چی دا مه وژنئ ولی چی دا تسبیح وایی اوکله چی دنجاست او حراموالی دوجی دهغې خوړل اوپه دواکی اچول جآئز نه وه ددې وجی ده ﷺ ددې دقتل څخه منع وکړه چی بې له ضرورته یې ووژنی نو ګناهګار به سی .

**۵۳. پوښتنه** : یا رسول الله ﷺ پر موږ نارینه وو باندی زموږ دزوجو څه حق دی ؟ [سوال کوونکی : معاویة القشیری رَضِيَ اللهُ عَنْهُ ]

**جواب** : دزوجې حق پرتا باندی دادی چی کله ته خوراك خوری نوپه هغې باندی یې هم خوره اوکله چی کالی اغوندی نوپه هغې باندی یې هم اغونده اوپر مخ باندی یې مه وهه او کمه بده او قبیحه خبره مه ورته کوه او هغه دځانه څخه مه جلا کوه مګرنه یوازی په ځای کی . (مسند احمد، ابوداؤد ، ابن ماجة) .

**شرح** : دمیړه پر ذمه باندی دزوجی نفقه یعنی خوراك ، جامه او داوسیدنی کور او ځای ددواړو (زوج او زوجی) دحال او وسعت سره موافق واجب دی ، که چیری زوج هم مفلس او تنګ لاسی وی او زوجه هم داسی وی نو دخاوند پرذمه باندی غریبانه اومفلسانه خوراك اوجامه او داوسیدنی ځای واجب دی، او که چیری زوج نهایتی مالداره اوامیر وی اوښځه مسکینه اومفلسه وی یا زوج مفلس وی او ښځه خاونده دعزت اومال وی نوبیا دمیانه درجې نفقه واجب ده ، که څه هم چی دامیر او مالدار زوج دپاره هم دا مناسبه ده چی کم څه خپله خوری هغه په ښځی باندی هم وخوری مګر داسی کولورباندی واجب نه دی، اوکه چیری دواړه مالداره وی نوبیا امیرانه نفقه واجب ده ، زوج که څه هم چی هرڅومره مفلسه او فقیر وی لیکن دزوجی نفقه دده پر ذمه باندی ده که یې په ناحقه نه ورکوله یا دده سره موجوده نه وه نوپر ذمه باندی به یې په جبر سره لازمه کړل سی ، یا دی قاضی او حاکم دده مال خرخ کړی او ښځی ته دی نفقه ورڅخه ورکړی ، که چیری زوجه کم عمره وه چی دصحبت کولو قابله نه وه یا بې له اجازې دشوهر یو ځای ولاړه نوبیا یې نفقه نه ده واجب .

ketabton.com - The Digital Library



که چیری زوج کم عمره او دصحبت کولو قابل نه وو او دده په ملك کی مال وو نو دزوجې نفقه پر واجب ده ، دخوراك اسباب او ضروری لوښی اونور ټوله دزوج پر ذمه باندی دی او که چیری دمریضی یا بلی وجی څخه زوجی دپخولو طاقت نه درلودی نو پخ سوی خوراك ورکول زوج ته لازم دی ، جامه دهر موسم مطابقه په اندازه دضرورت دهر ملك دعادت اودستور سره مناسبه واجب ده ، او داسی داوسیدنی کور واجب دی چی په هغه کی بل څوك نه وی ورسره شریك (که چیری دزوج کوچنی اولاد هلته اوسی نوهیڅ ممانعت پکښی نسته) اوپه هغه کی به داسی دقلف ځای وی چی قلف او کیلی یې دزوجې په لاس کی وی ، مګر دا ټوله شیان ددواړو دامیری اوغریبی او ددوی دحیثیت او حال سره مناسب واجب دی ، لکه چی په شروع کی هم دا لیکل سویدی .

پر مخ باندی دوهلو څخه ممانعت سویدی ، برابره خبره ده که اولاد وی اوکه زوجه او که غلام یا خادم . دمخ څخه ماسوا پر نورو ځایو باندی وهل دضرورت په وخت کی جآئز دی مثلاً زوج دزینت او سنګار کولو وزوجې ته وایی او زوجه یې نه منی یا یې زوج دمباشرت دپاره راوبولی او هغه بې له شرعی وجی انکار وکړی یا لمونځ نه کوی ، دحیض او جنابت غسل نه کوی ، یا دکومی بدکارۍ فعل وکی .

دبدو کلماتو ویل ، ښکنځل کول ، بد رد ویل هم نه دی جآئز . په ځای کی دجلا کولو مطلب دادی چی که چیری دسختی ناراضۍ په وجه په ډول دآګاهی ورکولو دجلا کولو اراده وکړی نو په همدغه کور کی دی جلا پرې باسی دانه چی په کوم جلا ځای کی دی یې واچوی او ودې بیروی یا دی یوځای ورڅخه ولاړ سی ، همدا مضمون په قرآن کریم کی په دې الفاظو بیان سویدی چی: وَاهْجُرُوْهُنَّ فِي الْمَضَاجِعِ، لیکن پرلویی خطا او زیات ناراضه کیدو باندی په جلا کور کی پرېښوول یې هم جآئز دی کم چی دنورو حدیثو څخه معلومیږی .

**مسئله** : دکوچنی هلك پر پلار باندی دده دښځی نفقه نه ده واجب ، البته که چیری دهلك په ملك کی څه مال وی نو دهغه څخه دی دزوجې نفقه ورکړل سی ، که چیری دزوج په اجازې دپلار په کور کی اوسی بیایې هم نفقه پر زوج باندی واجب ده ، دمریضۍ په حالت کی یې هم نفقه واجب ده ، لیکن دوا او علاج یې دزوج پرذمه باندی نه دی واجب البته مناسبه ده چی علاج او معالجه هم وروکړی ، دکوچنی دپیداینښت ددایی مزدوری دزوج پرذمې باندی هغه وخت واجب ده چی هغه دایې

ketabton.com - The Digital Library



په خپله راوبولي او ورته مقرره يې کړي . دکوچنۍ خطا په وجه پريوه بستره باندی دزوجې دطرف څخه مخ اړول او بيا بيدېدل پکار دی .

**۵۴. پوښتنه** : يا رسول الله ﷺ دا دوې انجونی دسعد بن ربيع رضي الله عنه لونی دی ، ددوی پلار ستا په ملګرتيا کی دأُحُد په ورځ شهيد سويدی ، ددوی اکا پرټوله مال باندی قبضه کړيده نه يې ددوی دپاره ميراث پرې ايښی دی نه څه مال ، اوترڅو پوری چی مال نه وی ددوی نکاح نسی کيدی . اوس تاسی ﷺ ددوی حصه او حق ورڅخه واخلۍ اوکم څه چی اکا اخيستی دی هغه دوی ته ورکی .

[سوال کوونکی : دسعد بن الربيع رضي الله عنه زوجه رضي الله عنها ]

**جواب** : (دټول مال) څخه دانجونو حق دوې دريمی حصې او ددوی دمور (يعنی دسعد رضي الله عنه دزوجې) اتمه حصه ده اوکم څه چی پاته سوه هغه ددوی داکا دی . (ابوداؤد وترمذی) .

**شرح** : سعد بن ربيعه رضي الله عنه دخزرج دقبيلې څخه جليل القدر انصاری صحابی دی، تر هجرت کولو وروسته چی کله رسول الله ﷺ دمهاجرينو او انصارو په مابينځ کی ورور والۍ وکی يعنی يو يو مهاجر يې ديوه يوه انصاری ورور جوړ کی او په خوراك او چيښاك کی يې ورسره شريك کی ، عبد الرحمٰن بن عوف مهاجر يې دده ورور جوړ کی، ده ورته وويل چی ته زما سم نيمايی مال او اولاد ټوله شيان واخله ، دخپلو دوو ښځو څخه چی کمه يوه ته غواړی زه طلاق ورکوم ته يې په نکاح کړه ، مګر عبد الرحمٰن بن عوف رضي الله عنه دشکريې دادا کولو سره هغه ته دبرکت دعا وکړه او دا (دنکاح خبره) يې ونه منله ، اودکوچنيو او لويو شيانو تجارت يې شروع کی دډير لوی مال خاوند او مالدار سو ، سعد رضي الله عنه دکوچنی اختر په مياشت په کال ۳ هجری کی دغزوهٔ أُحُد په مشهور جنګ کی ددولسو ۱۲ زخمو دلاسه شهيد سو ، او تر آخری سلګۍ پوری يې خپل قوم ته درسول الله ﷺ سره دوفادارۍ او دخدمت او ځان قربانولو وصيت کوی ، رضی الله تعالی عنه ، دده تر شهيد کيدو وروسته دجاهليت دزمانې دقانون په مطابق دسعد رضي الله عنه ورور پر ټوله مال قبضه وکړه ، ځکه چی دجاهليت په زمانه کی ښځوته ميراث نه ورکول کيدی ، دده رضي الله عنه زوجه رضي الله عنها درسول الله ﷺ په خدمت کی حاضره سوه ، ځکه چی دی ﷺ دمسلمانانو دپاره ځای دپناه اورجوع او دبيکسو دپاره فريادرس وو ، او خپل حال يې ورته بيان کی او ورته وې ويل چی ترڅو پوری دانجونو دپاره

ketabton.com - The Digital Library



مال نه وی اودقانون مطابق ډیر څه ولور ورنکړل سی، په عزت سره یې نکاح نسی کیدی ، نبی ﷺ وفرمایل چی خدای ﷻ به ددې فیصله وفرمایی او دسعد رَضِيَ اللهُ عَنْهُ زوجه یې رخصت کړه، تردې وروسته د: يُوْصِيْكُمُ اللهُ فِيْ اَوْلَادِكُمْ څخه ترآخری رکوع (پاره ۴ سورة النسآء رکوع ۳) پوری دمیراث حکم نازل سو او دزامنو حصه هم مقرره کړل سوه ، بیا رسول الله ﷺ ددې انجونو اکا دسعد رَضِيَ اللهُ عَنْهُ ورور ته حال ور واستوی چی دټوله مال څخه انجونو ته دوې ثلثې ورکړه او اتمه حصه ددوی مور یعنی دحضرت سعد رَضِيَ اللهُ عَنْهُ زوجې ته ورکه او کم څه چی پاته سوه هغه ستا دی، په دې صورت کی دعلم الفرآئض (علمِ میراث) دقاعدې مطابق (ټوله ترکه او پاته سوی مال) څلوریشت **۲۴** حصې سو چی په هغه کی به **۱۶** دوارو انجونو ته ورکول کیږی او دریمه حصه یې زوجې ته اوپا ته پنځه حصې دمړی ورورته ، صورت دمسئلې دادی :

**مسئله ۲۴**

| ورور | دختر | دختر | زوجه |
|---|---|---|---|
| **۵** | **۸** | **۸** | **۳** |

په اسلام کی دا تر ټولو لومړنی میراث دی چی تقسیم سو .

**۵۵. پوښتنه** : یا رسول الله ﷺ فال څه ته وایی ؟ [سوال کوونکی: صحابه رضی الله عنهم ]

**جواب** : فال هغه صالحه او نیکه کلمه ده چی په تاسی کی یې څوك واوری (یعنی انسان چی کمه ښه خبره یا ښه نوم واوری او خوشحاله سی همدغه فال دی ، مثلاً یوچا په یو ضروری کار پسی ځغستل ، په لار کی یې دیوه شخص سره ملاقات وسو دهغه نوم چی یې وپوښتی نووې ویل چی زما نوم واجد (پیدا کولو والا) دی، داچی یې واوریدی نوخوشحاله سو چی خدای ﷻ به دا کار را پوره کی. (بخاری ومسلم)

**شرح** : یو وخت آنحضرت ﷺ وفرمایل چی بد فالی نیول جائز نه دی ، اونیك فال نیول بهتر دی صحابه وو رضی الله عنهم عرض وکی چی یا حضرت ﷺ ! فال څه ته وایی؟ نبی ﷺ وفرمایل چی هغه عمده او خوښه سوی خبره او لفظ دی چی څوك یې واوری نو خوشحاله سی ، چی دهغه څخه یوه داسی اشاره را ووزی چی زما مراد به پوره سی اوپه مرام او مقصد کی به فآئز (کامیاب) سم ، یا زما غم به لیری سی ، په عربو کی قانون وو چی داضطراب او شك په وخت کی به یې پر درختو

ketabton.com - The Digital Library



باندی ډبری ویشتلی او مرغان به یې الوزول ، که به مرغان رسته طرف ته والوتل نودا به یې نیك فال بلی اوکه به چپه طرف ته والوتل نودابه یې منحوس ، بد او دضرر نښانه بلل او بد فالی به یې ورڅخه کول ، اسلام ددې ممانعت وکی او دیو عمده او اصلی لفظ یا کلمې څخه یې نیك فال اخیستل جآئز وفرمایل اوبد فال نیول یې ددې څخه هم جآئز نکی ، ځکه چی دبدفال نیولو څخه هیڅ قسم نفع نه وی، کم امور چی په مقدر کی وی هغه نسی خرابیدی خامخا به انسان په رنځ او غم باندی مبتلا او حیران کیږی ، دنیك فال تر نیولو وروسته زړه خوشحاله سی او په عمده او اصلی تدبیرونو کی مصروف کیږی تردې وروسته بیا هغه مخ ته راځی کم چی نیك یا بد مقدر کړل سویدی ، په زړه کی دبد فالی په خیال راتلو سره هیڅ ګناه نسته ، لیکن ددې دوجی څخه کار پرېښوول او دکمې ګټی یا نقصان رسیدو عقیده درلودل ګناه ده ، که چیری یو وخت دیوې خبری څخه دبد فالی خیال راسی نو دا دعا دې ووایی او پر الله تعالی دی توکل وکی انشآء الله هیڅکله به نقصان نه ور ورسیږی : اَللّٰهُمَّ لاَ یَاْتِیْ بِالْحَسَنَاتِ اِلاَّ اَنْتَ وَلاَ یَدْفَعُ السَّیِّاٰتِ اِلاَّ اَنْتَ وَلاَ حَوْلَ وَلاَ قُوَّةَ اِلاَّ بِكَ .

**۵۲. پوښتنه** : که چیری یو چاته ښکارپه لاس ورسی او چاقو په دې وخت کی موجود نه وی نو په (تیره او تیزه څُله لرونکی) ډبری باندی یا دلرګی په څوکه سره ذبح کول جآئز دی او که نه ؟ [سوال کوونکی: عدی بن حاتم رضي الله عنه ]

**جواب** : په هرشی سره چی دی زړه غواړی وینه وبهوه او دخدای جل جلاله نوم واخله او ذبح وکړه (ابوداؤد ونسآئی) .

**شرح** : کم شی چی پرې کوونکی او زخمی کوونکی وی په هغه سره ذبح جآئزه ده ، په پنډ او درانه شی سره که ووهل سی او زخمی کړل سی نو ذبح نه ده جآئزه ، پرې کوونکې شی برابره خبره ده که تیره ډبره وی اوکه لرګې یا یو بوټې وی ، په نوك او غاښ سره دذبح کولو ممانعت په بل ځای کی معلوم سویدی .

**مسئله** : کله چی دټوپك ګولۍ پرې کوونکی نه ده ځکه نوپه ټوپك سره ویشتل سوی حیوان نه دی حلال ، دټوپك ګولۍ دتیزی او زور دوجی څخه په بدن کی سرې کوی او ننوزی دچاقو او توری په ډول پرې کول نه کوی .

**۵۷. پوښتنه** : یا رسول الله صلی الله علیه وسلم آیا ذبح په حلق او لبّه کی کول کیږی په بل ځای کی نه ده جآئزه ؟ [سوال کوونکی : وامد ابو العشرآء ]

ketabton.com - The Digital Library



**جواب** : که ته هغه په ورون کی هم په نیزه ووهی نو کافی ده (ابوداؤد ، ترمذی ، نسائی ، ابنِ ماجة)

**شرح** : په ورون یا نورو ځایو کی په نیزه وهلو سره ذبح کول یوازی په هغه صورت کی جآئز دی چی دحیوان دنیولو اوپه حلق کی دحلالولو طاقت او قدرت نه وی مثلاً یو حیوان ایله سو او وتښتیدی هرڅومره کوشش چی وکی په لاس نه ورځی ، یا همدارنګه په یوه غار یا څاه کی دارنګه ولویدی چی اوس یې ژوندی راکښل ممکن نه دی ، په داسی صورت کی په بسم الله ویلو سره دنیزې یا غشی په غورځولو سره چی پرهر ځای هم زخم ولګیږی حلالیږی ، لبّه (١) وایی دسینې سر ته یعنی ترغاړی کښته چی کمه غار او ډب وی . په اُردو کی بعضی خلګ دې ته نرخره وایی .

**۵۸. پوښتنه** : یا رسول الله ﷺ زموږ یوه اوښه هریا (٢) ده هغه دیوه سړی باغ ته ورغله او ډیر تاوان یې وروړسوی ، پرموږ باندی ددې تاوان واجب دی که نه ؟
[سوال کوونکی : برآء بن عازب رضی الله عنه ]

**جواب** : دباغ حفاظت دورځی دخوا دهغه دمالکانو پر ذمه باندی دی (نو که چیری په ورځ کی یوحیوان ورغی او تاوان یې وروړسوی نو دڅړیدونکو حیوانانو پر مالك باندی یې تاوان نه دی واجب اودشپې دپاره مالك ته ضروری ده چی خپل حیوانان تړلی وساتی، ځکه نو) دشپې چی حیوانانو کم نقصان اړولی دی ددې تاوان دحیوانانو دمالك پر ذمه باندی دی . (ابوداؤد)

**شرح** : که چیری دحیوان سره یوڅوك ځروونکی او ساتونکی نه وو اوپه ورځ کی دیوچا څه نقصان وسو نوپه اتفاق سره دعلماوو دحیوانانو پرمالك باندی تاوان نسته اوکه یوڅوك ځروونکی یا ساتونکی ورسره وو یایو څوكورباندی سپور وو نوبیا ددې شخص پرذمه باندی تاوان لازم دی برابره خبره ده کـه دورځی تاوان ورسوی او که دشپې پردې باندی هم اتفاق دی، لیکن که یې دشپې تاوان ورسوی اویو څوك نه وو ورسره نوبیا هم امامِ ابوحنیفه صاحب رحمة الله علیه دنورو احادیثو

(١). قال الرازی فی مختار الصحاح ص ٢٧٠ عمود ١ (طبع : المکتبة التجاریة بالمکة المکرمة): اللَّبَّةُ بِوَزْنِ الْحَبَّةِ : الْمَنْحَرُ آه وهو موضع النحر من الابل . حقّانی عفی الله عنه جمیع ذنوبه. آمین

(٢). هریا : هغه غویی اوښ اونورو ته ویل کیږی چی هغه دشنو واښو خوړلو عادت لری .

ketabton.com - The Digital Library



لکه : اَلْعَجْمَآءُ جُرْحُهَا جَبَّار او نورو دوجی ښځه فرمایی چی په دې صورت کی هم تاوان نه لازمیږی ، اوامام شافعی صاحب رحمة الله علیه او نور امامان فرمایی چی په دې صورت کی تاوان واجبیږی ، تفصیل او دلیل یې په عربی کتابو کی موجود دی.

**۵۹**. **پوښتنه** : یا رسول الله ﷺ ما خپلی مور ته یوه مینځه ورکړی وه اوس می مور وفات سوه او مینځه ماته په میراث کی پاته سوه ددې اخیستل جائز دی او که نه ؟ اوپه اخیستلو سره خوبه یې زما ثواب نه باطلیږی او یا رسول الله ﷺ پر هغې باندی دیوې میاشتی روژې هم واجب وی آیا دهغې دطرفه ښځه چی یې ادا کړم نو ادا به سی اوکه نه ؟ او یا رسول الله ﷺ هغې حج هم نه وو ادا کړی که دهغې دطرفه ښځه زه حج ادا کم نو کیدلای سی او که نه ؟

[سوال کوونکی : یوه ښځه په روایت دبریده رضی الله عنه ]

**جواب** : دمینځی دورکولو ثواب تاته حاصلیږی ، او اوس په میراث کی بیرته تاته راغله (ددې اخیستل جائز دی ثواب دی نه باطلیږی) روژې چی ته دهغې دطرفه ښځه ونیسی وبه سی اوته دهغې دطرفه ښځه حج وکړه . (ترمذی ، ابوداؤد ، مسلم)

**شرح** : کله چی مینځه دوصله رحمی اوثواب په نیت ورکول سوی وه نوکامل ثواب حاصل سو ، اوس په ذریعه دمیراث که چیری دورکوونکی وطرف ته بیرته راسی په ثواب کی کمی نه راځی ، ددې ښځه دا قاعده معلومه سوه چی خپله ورکړل سوی صدقه او نور که چیری دکومی حلالی طریقې ښځه بیرته ورکوونکی ته ورسیږی نو اخیستل یې جائز دی ، مثلاً یوچا لس ۱۰ روپۍ دزکوة خپل ورور یا اکا ته ورکړی نوزکوة ادا سو ، اوس یوڅو ورځی بعده ورور یا اکا مړسو او لس روپۍ ۱۰ هغه ورکوونکی وراره یا ورورته بیرته په میراث کی ورسیدی نو اخیستلای یې سی ، یا مثلاً دزید یوه قریب ته دیوه ځای ښځه دصدقې او زکوة مال ورسیدی ددې قریب پرمړ کیدو باندی که هغه مال په میراث کی زید ته ورسیږی نو اخیستل یې جائز دی برابره خبره ده که هرڅومره مالدار ولی نه وی او که چیری په خپل ژوند کی هم هغه مفلسه قریب دخپل طرفه ښځه هغه په صدقه کی ترلاسه کړی مال زید ته ورکړی نو هم جائز دی . نفلی روژه که ونیول سی یا لمونځ وکړل سی اویو څوك یې ثواب ویوچاته وروبخښی نو ور رسیږی لیکن فرضی او واجب روژه یا لمونځ کم چی دیو چا پرذمه باندی وی هغه دبل چا په نیولو او ادا

ketabton.com - The Digital Library



کولو نه ادا کیږی ، دهغه دادا کولو صورت دادی چی دهری روژې اوهر لمونځ په عوض کی نیمه کاسه غنم (په انګریزی وزن سره دوه ۲ سیره (۱) چی هغه ۱۲۰ تولې کیږی) دې مسکنینانو ته ورکړل سی ، یا دې ددومره غلې قیمت ورکړل سی . آنحضرت ﷺ چی دپوښتنی په جواب کی کم دروژې دادا کولو حکم فرمایلی دی دهغه همدغه مطلب دی چی دهغې دروژې په عوض کی فدیه او صدقه ادا که . که چیری یو شخص بې له حج کولو څخه مړ سوی وی یا عاجزه سو چی قدرت او طاقت دسفر یې نه درلودی نوبل شخص ته دهغه دطرف څخه حج ادا کول جائز دی، لکه ده ﷺ چی ارشاد وفرمایه چی دخپل مور دطرفه څخه حج وکه .

۷۰. **پوښتنه** : یا رسول الله ﷺ زه مسلمان سوی یم او زما په نکاح کی داسی دوې ۲ ښځی دی چی هغوی خپل په مابینځ کی سره خوندی دی هغوی اوس په نکاح کی ساتلای سم او که نه ؟ [سوال کوونکی: فیروز رضی الله عنه ]

**جواب** : ددوی څخه چی دې هره یوه زړه غواړی هغه طلاقه کړه . (ابوداؤد ، ترمذی، ابن ماجة)

**شرح** : که یې چیری ددوو خوندو سره په یوه عقد کی نکاح کړی وه نو تر اسلام وروسته ددواړو پرېښوول ضروری دی ، ترعدې تیریدو وروسته یې چی دچا سره زړه غواړی نکاح دی ورسره وکړی ، اوکه یې جلا جلا ددواړو سره نکاح کړی وه نو دهغه یوې پاته کول جائز (۲) دی دکمی یوې سره چی یې اول نکاح کړی وه ځکه چی ددوو خوندو دیوه سړی په نکاح کی راتلل دقرآن او حدیث په تصریح سره ناجآئز دی .

**مسئله** : کمی ښځی چی یو دبله خورزه او خاله وی یا عمه او وریره وی دوی په نکاح کی جمع کول نه دی جآئز .

**مسئله** : که یې چیری ښځی ته طلاق ورکی نو ترڅو پوری چی عده نه وی تمامه سوی ددې دخور سره نکاح نه ده جآئز .

(۱). دبعضو علماوو دتحقیق مطابق په انګریزی وزن سره یوسیر درې چیټانګه یعنی **۹۵** تولې غله کافی ده مګر احتیاط په هغه مقدار کی دی کم چی احقر لیکلی دی ، او داکثرو معتبرو علماوو همدغه قول دی . منه

(۲). داقید یوازی دامام ابو حنیفة رحمه الله علیه په نزد باندی دی چی دچا سره اول نکاح سوی وی هغه دی پرېږدی نور علمآء فرمایی چی هره یوه چی یې خوښه وی هغه دی پرېږدی . منه

ketabton.com - The Digital Library



۲۱. **پوښتنه** : قیامت به کله راسی ؟ [سوال کوونکی: یو اعرابی یعنی صحرائی ]
**جواب** : کله چې امانت ضائع کړل سی نوبیا دقیامت انتظار کوه او دامانت دضآئع کیدلو صورت دادی چې کار داسی خلګوته وسپارل سی چې دوی یې لائق نه وی . (بخاری)

**شرح** : مثلا حکومت داسی چاته ورکول سی چې هغه عادل او لائق نه وی، نصیحت هغه څوك کوی چې لائق یې نه وی ، مقتدا او مفتی هغه عالِم سی چې هغه ددې لائق نه وی ، درویش او مرشد هغه جاهل او فاسق وګنل سی چې دهغه دتصوّف سره هیڅ رابطه نه وی ، مصنف او مؤلف هغه کم استعداده خلګ جوړ سی چې په هغوی کی ددې اهلیت نه وی ، ومنهم هذا الفقیر غفر له الکبیر ، په دې حدیث کی دامر دلفظ څخه خاص حکومت او سلطنت هم مرادیدلای سی ، والاول اولٰی کما لا یخفٰی علی العلمآء .

۲۲. **پوښتنه** : دعقیقې حکم څه دی ؟ (یعنی دهلك او انجلۍ دپاره چشی ذبح کول پکار دی ؟) . [سوال کوونکی : ام کرز رضی الله عنها ]
**جواب** : دهلك دعقیقې دپاره دوې بزې او دانجلۍ دپاره یوه بزه ، که نروی او که ماده په دې کی هیڅ منع نسته . (یعنی که چیری دهلك دطرفه څخه ماده بزه ذبح کی یا دانجلۍ په عقیقه کی بُز نر ذبح کړی بیا هم هیڅ حرج نسته پکښی . (ترمذی)

**شرح** : آنحضرت ﷺ داعمده اومستحبه طریقه دتعلیم فرمایلی ده ، که چیری دهلك په عقیقه کی هم یوه بزه ذبح کړل سی نو دعقیقې سنت په ادا کیږی ، په نر او ماده کی هیڅ فرق نسته ، یعنی دهلك په عقیقه کی برابره خبره ده که نر حیوان ذبح کړی او که ماده دارنګه دانجلۍ په عقیقه کی هم ، دا قید نسته چې دهلك دپاره به نر وی او دانجلۍ دپاره به ماده وی .

**مسئلې** : دکم شخص کره چې کوچنۍ پیدا سو دهغه دپاره مسنون او مستحب ده چې په اوومه ورځ دهغه نوم کښېږدی او دهغه سر ور وخروی او دهغه دسر دوریښتانو دوزن په اندازه سپین زر یا سره زر خیرات کړی او یو بُز یا یوه بزه حلاله کړی ، دهلك په عقیقه کی که دوه وی نو بهتره ده دهغه غوښی دی پخی کړی یادې همداسی اومې تقسیم کړی دهغه دغوښو دهډوکو دماتولو او نه ماتولو ورته اختیار دی ، دا څه ضروری نه ده چې هډوکی به یې نه ماتیږی ، داچې کمه مشهوره ده چې آنا او نیکه اونورو بعضو قریبانو ته دعقیقې غوښی نه خوړل پکار دی ، بې

ketabton.com - The Digital Library



اصله ده . که په اوومه ۷ ورځ باندی دیوي وجی څخه داسی ونکړل سی نوپه څوار لسمه ۱۴ ورځ یا په یو ویشتمه ۲۱ ورځ باندی دې عقیقه وکړی ، که چیری نور هم ناوخته سی نو داوو ۷ هفتو یا داوو ۷ میاشتو حساب دی ولګوی ، دعقیقې په حیوان کی هغه ټوله شرطونه دی کم چی دقربانۍ په حیوان کی دی او ددې اکثره مسئلې دقربانۍ په مثل سره دی ، که چیری په یوه غوایی کی شپږ کسه دقربانۍ په نیت شریك وی او اوم شخص دخپل کوچنی دعقیقې په نیت ورشریك سی نو جائز دی .

۲۳. **پوښتنه** : یا رسول الله ﷺ ماته خپله زوجه ډیره محبوبه ده او زما پلار (حضرت عمر رضی الله عنه) دهغې څخه ناخوښه دی او فرمایی چی دې ته طلاق ورکه اوس چی تا ثنګه وفرمایل هغسی به کوم . [سوال کوونکی: عبد الله بن عُمر رضی الله عنهما ]

**جواب** : ته هغې ته طلاق ورکه . (ابوداؤد ، ترمذی ، نسآئی ، ابن ماجة ، ابن حبان باختلاف الفاظ )

**شرح** : که چیری زوجه بې قصوره وی نو دمور او پلار په فرمایشت سره هغې ته طلاق ورکول واجب او لازمی نه دی اوپه دې صورت کی دمور او پلار اطاعت ضروری نه دی ، لیکن جناب رسول الله ﷺ فکر وکی چی عمر رضی الله عنه کم چی داعلی درجې عالِم ، عاقل ، مشفق او مهربانه پلار دی نودخپل زوی دزوجې څخه بې له وجی هیځکله نه ناراضه کیږی اوبې له کمی ګټی ، فآئدې او خیر خواهی خامخا دطلاق حکم نه ورته فرمایی لیکن دمحبّت او الفت دغلبې دوجی څخه هغه وجه او علت دده دزوی په خیال کی نه راځی ددې وجی ده ﷺ دطلاق ورکولو حکم ورته وفرمایۍ .

۲۴. **پوښتنه** : ای سیّد الاولین والآخرین موږ په سفر کی وو دعربو پریوې قبیلې باندی تیریدو هلته کښېنستو ، دهغو خلګو څخه مو مهمانی وغوښته نو هغو خلګو مهمانی نه راکړه ، دهغه ځای څخه یوه ښځه راغله اوراته وې ویل چی ستاسی څخه دیوچا دم نه دی ازده چی راسره ولاړ سی زموږ دقبیلې پرسردار باندی دم وکی ځکه چی هغه لړم خوړلی دی ، زموږ څخه یوه شخص وویل چی زما زده دی ، موږ دهغوی څخه یوڅه پسونه وغوښتل او هغه زموږ ملګری سورةِ فاتحه وویل پرده باندی یې دم اچول شروع کړل هغه ښه سو او دغه خلګو دوعدې مطابق پسونه راکړه دا ملګری دهغو دبېولو څخه انکار کوی لیکن ما ورته وویل چی دا

ketabton.com - The Digital Library



دځانه سره راروان کړي او ترڅو پوري چې مو درسولِ مقبول ﷺ څخه پوښتنه نه وی کړی دوی ته لاس مه وروړی ده ﷺ چې څنګه وفرمایل هغسی عمل به کوو .

**جواب** : دا تقسیم کړئ او زما دپاره هم پکښی حصه راکړی . (بخاری ، مسلم)

**شرح** : جناب سرورِ عالَم ﷺ خپل دیرش ۳۰ صحابه رضي الله عنهم چې په هغوکې یې ابو سعید رضي الله عنه سردار وو یوځای ددښمن دمقابلې دپاره استولی وه ، (غالبًا په بیرته راتلوکی) هغوی دعربو پر قبیلې باندی تیریده او دشپې هلته پاته سوه او دعربو دقانون مطابق یې دهغوی څخه میلمستیا وغوښته مګر هغوی دسخت زړه والی دوجی څخه انکار وکی ، هغو خلګوته ډیره ژر سزا ورسیده چې دقوم سردار یې لړم وچیچی ، هرقسم تدبیرونه او دوا ګانی یې دکومو چې هلته عادت وو په وکړی لیکن آرام نسو ، نویې په خپلو کی سره وویله چې دغه مسافرینو ته ورسی پوښتنه ورڅخه وکی شاید یو تدبیر یا دم ورته یاد وی ، په همدې ډول ددوی څخه یوه ښځه (دیوه سړی سره) دوی ته ورغله او ورته وې ویل چې زموږ دقبیلې سردار لړم چیچلی دی موږ هرډول منډی او ترنډی پسی وکړی لیکن هیڅ نفع یې ونه رسوله ، موږ اوریدلی دی چې ستاسی صاحب (یعنی رسول الله ﷺ) دخدای تعالی دطرفه څخه په نور او شفآء سره راغلی دی ، نو که چیری ستاسی څخه دیوه چا سره څه چل ول وی چې دهغه په وجه دې سردار ته آرام حاصل سی نوراته ویې ښیاست، ددوی څخه ابوسعید خدری رضي الله عنه وویل چې هو ! زموږ دم یاد دی ، لیکن ددې سره سره چې موږ درته وویل تاسی خلګو زموږ مهمانی نه وکړه لهذا ترڅو پوری چې مو څه معاوضه نه وی مقرره کړی موږ مفت علاج نه کوو ، آخر هغوی دیرش ۳۰ پسونه ورکول قبول کړل او ابو سعید خدری رضي الله عنه ولاړی پر هغه باندی یې دالحمد لله په ویلو سره دم اچول شروع کړل ، په اوه واره ویلو سره هغه سردار ښه سو ، په دې ټولو خلګو باندی یې خوراك وکی یا یې شیدې په وچښلی او دیرش ۳۰ پسونه یې هم ورکړه (ددې دپاره چې دنفر پرسر یو پسه راسی) تر را اخیستلو وروسته بعضو خلګو ته په وړلو کی شبه وه چې معلومه نه ده جآئز دی که ناجآئز ، ددې وجی ابو سعیدِ خدری رضي الله عنه وویل چې دا تر جناب رسول کریم ﷺ پوری را ورسوی څه چې هغه ﷺ وفرمایل هغسی به کوو ، جناب رسول الله ﷺ چې ټوله قصه واوریده نو مبارکه خندا یې وکړه او وې فرمایل چې: تاسی ته څه معلومه

ketabton.com - The Digital Library



سوه چی دا رُقیه یعنی دم دی ، تاسی چی څه کړیدی ښه مو کړیدی ، تقسیم یې کړی او دخپلو حصو سره زما حصه هم را مقرره کړی .
دصحابه وو رضي الله عنهم ډیر کرامت وسو کمو خلګو چی ددوی تعظیم نه وو کړی هغوی ته سزا ورسیده اودوی ته خوراك او نورڅه هم ورسیدل ، او سزا هم سردار ته ورکول سوه ولی چی دهغه ټول خلګ تابع دی او رئیس هم وو ددوی ، که چیری یو غریب وای نو دومره عوض ورڅخه اخیستل مشکل وو ، ددې حدیث څخه پر علاج او دم او نورو باندی دأجرت مقررول او اخیستل جآئز معلوم سول ، دا جآئز دی لیکن په تراویحو کی دقرآن پر اورولو یا دمیت دپاره پرویلو باندی اجرت مقررول ناجآئز او حرام دی .
**۲۵**. **پوښتنه** : ای سرورِ عالم ﷺ تاسی ارشاد وفرمایاست چی شهید کم کم خلګ دی ؟ [سوال کوونکی : صحابه رضي الله عنهم په روایت دابی هریرة رضي الله عنه ]
**جواب** : ۱. کم سړی چی دخدای تعالی په لاره کی (یعنی په جهاد کی) قتل کړل سی هغه شهید دی ۲. اوکم سړی چی دخدای تعالی په لاره کی (یعنی په جهاد کی، په خپل مرګ) سره مړ سی هغه هم شهید دی ۳. او کم سړی چی په طاعون کی مړسی هغه هم شهید دی ۴. اوکم سړی چی دنس دناجوړی (یعنی هیضه ، اسهال او نورو) څخه مړسی هغه هم شهید دی (مسلم) .
**شرح** : اول قسم اوداعلی درجې شهید خو هغه دی کم چی فی سبیل الله یعنی په جهاد کی قتل کړل سی ، دی ددنیا په احکامو کی هم شهید دی یعنی بې له غسله او کفنه په خپلو جامو کی دفن کړل کیږی اوپه آخرت کی هم دده دپاره په زرهاوو نعمتونه او راحتونه دی ، دهمداسی شهیدانو په اړوند خدای تعالی جل جلاله فرمایلی دی چی هغوی مړه مه ګڼۍ بلکه هغوی ژوندی دی دخدای دطرفه څخه رزق ورکول کیږی او خوشحاله دی . دوهم قسم شهید هغه دی چی ددنیا په احکامو کی شهید نه ګڼل کیږی بلکه غسل او کفن دعادی مړو په شان ورکول کیږی لیکن په آخرت کی هغه ته اجر او ثواب او حیات ورکول کیږی په مثال سره دهغه چاچی دالله جل جلاله په لاره کی قتل سوی وی ، که څه هم چی په درجه او مرتبه کی تر هغه چا یوڅه کم دی ، ددې قسم شهادت زیری په مختلفو احادیثو کی په څو قسمه مرګونو باندی ورکول سویدی ، لکه څلور قسمه خلګوته چی ددې پوښتنی په جواب کی شهید فرمایل سویدی او په نورو احادیثو کی ددې څخه ماسوا نورو ډولو مرګونو ته هم

ketabton.com - The Digital Library



شهادت فرمايل سويدی که څه هم چې دضعيف او قوی رواياتو مطابق داقسم شهادتونه اته شپيتو ۶۸ ته رسيدلی دی (وګورئ مظاهرِ حق ، شروع دباب الجنآئز) ليکن دنهايتی صحيح او قوی رواياتو څخه چې کومو خلګو ته شهيد کيدل ثابت دی هغه دادی :

۱. په جهاد کی چې په خپل مرګ سره يعنی بې له وژلو مړ سی.
۲. په طاعون (وبا) اخته سی او مړ سی.
۳. دنس دمريضۍ څخه مړسی .
۴. په اوبو کی ډوب سی مړ سی .
۵. وسوځی او مړسی .
۶. دذات الجنب (يعنی دبغل ددرده څخه) مړسی .
۷. تر ديواله ، کور اونورو لاندی سی مړسی .
۸. دمورپه نس کی کوچنۍ مړسی اوددې دغمه څخه يې بيا مور مړه سی يا دولادت دتکليف څخه په يو بل ډول مړه سی .
۹. دسل په ناروغۍ مړ سی .
۱۰. دمال په حفاظت کی مړ سی (مثلاً دغلو يا ډاکوګانو مقابله کوی مړ سی) .
۱۱. دخپل ځان دمحفوظ کولو دپاره مړ سی .
۱۲. دخپل اهل او عيال دمحفوظ کولو دپاره مړ سی .
۱۳. دسپرلۍ څخه را ولويږی مړ سی .
۱۴. دخپل حق په طلب کی او دهغه په غوښتنه او فرياد کی په ظلم سره مړ سی.
۱۵. په جهاد کی ديوه حيوان په چيچلو سره مړ سی .
۱۶. په غربت يعنی مسافرۍ کی مړ سی .
۱۷. داسلامی ممالکو پر سرحد باندی چوکيداری او پيره کوی مړ سی .
۱۸. په ستونی کی يې ګوله يا دانه ولويږی او بنده سی يا په زکام سره مړ سی چې هغه ته په ستونی کی پهندا لويدل (زکام) هم وايي .
۱۹. زمرۍ ، دغرو پسه يا يوبل درنده حيوان يې څيری او وشکوی اومړ سی .
۲۰. دزړه په اخلاص سره دشهادت فی سبيل الله تمنّا لری مګر ورنصيب نسی او داغسی مړ سی .
۲۱. دمار يا لړم دچيچلو څخه مړ سی .

ketabton.com - The Digital Library



۲۲. دطاعون په ځای کی صبر او شکر وکی او په همداسی ځای کی دیره سی او دمرګه څخه خلاص سی.

۲۳. دکور دبام ، غره یابل لوړ ځای څخه را ایله سی او مړ سی .

دا ټوله شهادتونه که څه هم چی ددوهمی درجې شهادت او شهادتِ صغرٰی دی لیکن په دوی کی هم خپل په مابینځ کی دمرتبو او درجو فرق ډیر څه دی .

یوبل شهید دریم قسم هم سته کم چی یوازی په احکامو کی ددنیا شهید دی ، په آخرت کی دهغه دپاره اجر او ثواب دشهیدانو نه دی هغه دادی چی صرف دغنیمت دمال په اراده یا دیوبل قسم فاسد نیت په وجه په جهاد فی سبیل الله کی مړ سی په ظاهره به دده سره هغه معامله کیږی کمه چی داول قسم دشهیدانو سره کیږی یعنی بې له غسله او کفنه په خپلو جامو کی دفن کړل کیږی لیکن په آخرت کی به اجر او ثواب دشهیدانو هغه ته نه وی حاصل.

۲۴. **پوښتنه** : په ټولو اعمالو کی بهتره او افضله کم عمل دی او تر هغه وروسته دکم عمل درجه ده او تر هغه وروسته دکم ؟

[سوال کوونکی : یوشخص په روایت دابو هریرة رضی الله عنه ]

**جواب** : ترټولو بهتر عمل په الله جل جلاله او دهغه په رسول صلی الله علیه وسلم باندی ایمان راوړل دی ، تردې وروسته دخدای جل جلاله په لاره کی جهاد کول ، تردې وروسته هغه مقبول حج دی چی په هغه کی ریا نه وی . (بخاری ومسلم)

**شرح** : ایمان یې ترټولو اول اوپه اوله درجه کی ددې وجی کښېښووی چی بې له ده هیڅ عمل او عبادت په کار نه راځی اونه هم قبلیدی سی همدی اصل داصلو دی ، په جهاد کی هم کله چی دایمان اشاعت اوخپرونه او متعدی ګټه وی ددې وجی یې هغه په ایمان پسی متصل په دوهمه درجه کی کښېښووی ، حج چی کله یو لوی مشکل اوسخت عبادت وو او نهایتی داعلٰی قسم عمل وو هغه یې هم په افضله او بهتره عملو کی شمار کی .

صحابه وو رضی الله عنهم چی هروخت هم ترټولو دمحبوب عمل او ترټولو دافضله عبادت په اړوند په دربار کی دالله جل جلاله پوښتنه کړیده نو آنحضرت صلی الله علیه وسلم بعضی وختونه دهغه دحال سره مناسب جواب ورکړیدی مثلا دمور اوپلار په خدمت کی دهغه څخه قصور کیدی یا په لمانځه کی ورڅخه یوڅه سُستی کیدله نوهغوی ته به یې فرمایله چی ستا دپاره دمور او پلار خدمت کول ترټولو بهتره عمل دی ، او

ketabton.com - The Digital Library



ستا دپاره لمونځ په پایبندی سره په خپل وخت کی ادا کول بهتره عمل دی ، نور بعضی اعمال ګواکی تردې هم افضله سته دهغوی دافضلیته څخه هم انکار نه وو مقصد ، او کله به یې دوخت او ضرورت دلحاظه څخه مختلف جواب ورکوی په کمه زمانه کی چی دجهاد نهایتی احتیاج وو هلته یې جهاد ترټولو ښه عمل بللی دی اوکله چی به دجهاد دومره قدر ضرورت نه وو نو نور عملونه به یې ترټولو افضل وګرځول او جهاد به یې په دوهمه یا دریمه درجه کی وګرځوی ، اوپه حقیقت کی داټوله اعمال محبوب او افضل دی ګواکی فرق یې په خپل مینځی مرتبو او درجو کی دی . ددې جوابو داختلافاتو په وجه کی علماوو نوری وجوهی هم بیان کړیدی ، دې بنده دضرورت دانداز په بیان کولو باندی اکتفاء وکړه .

۲۷. **پوښتنه** : یا رسول الله ﷺ زما رضعی خور دا نذر اینبی وو چی لڅ سر او لڅی پښې به دبیت الله شریفی طرف ته ځی (یعنی حج به کوی او اوس په دارنګه کولو تکلیف او دقت وی) . [سوالکوونکی : عقبه بن عامر رضي الله عنه]

**جواب** : الله تعالی ته ستا درضعی خور دمشقت او تکلیف هیڅ ضرورت نسته هغې ته پکار دی چی سپره سی (یعنی سپره دی سی اوبیت الله شریفی ته دی ولاړه سی او پړونی دی واغوندی یعنی سردې پټ کړی) اودرې روژې دی ونیسی (ځکه چی هغې خپل نذر نکی پوره ، دا دهغه کفاره ده) . (ترمذی ، ابوداؤد ، نسآئی ، ابن ماجة ، دارمی) .

**شرح** : دسر پټولو حکم ده ﷺ ددې وجی وفرمایی چی ښځی ته سر پټول فرض دی او دناورا کارو نذر که چا اینبی وی دهغه پوره کول لازم نه دی ، اودسپریدو حکم یې ددې وجی ورکی چی هغه ښځه په پښو باندی دسفر کولو څخه معذوره وه طاقت یې نه درلودی لیکن کله چی هغې دخپل نذر خلاف وکړه ددې وجی ددې پر ذمه باندی قربانی واجب سوه چی دهغه حکم دنورو احادیثو څخه معلوم سویدی ، په کمه درجه کی دهغه دبزې قربانی ده او په لوړه درجه کی او مستحب داوښ یا دغوایی قربانی ده ، اوکله چی یې نذر نکړی پوره نوځکه کفاره هم واجب سوه . او کفاره ده دمریی آزادول یا لسو ۱۰ مسکینانو ته خوراك ورکول یا لسو ۱۰ ته کالی وراغوستل اوکله چی داهیڅ هم نه وی نو درې ۳ روژې دی یوپه بل پرلپسی متصلی ونیسی ، کله چی آنحضرت ﷺ ته معلومه وه چی دعقبه رضي الله عنه درضعی خور په وس او طاقت کی بل ډول کفاره ادا کول نسته ځکه نوده ﷺ دروژې نیولو

ketabton.com - The Digital Library



حکم ورکی، ( یو دا هم احتمال دی چی دعقبه رَضِيَ اللهُ عَنْهُ درضعی خور سره دقربانۍ طاقت هم نه وو ددې په عوض کی ده ﷺ دروژې نیولو ارشاد ورته فرمایلی دی) .

۲۸. **پوښتنه** : موږ سپیان ایله کړو ښکار په کوو دهغوی کړل سوی ښکار په کمو صورتو کی جآئز دی اوکله ناجآئز ، او بعضی وختونه خو زموږ دخپل سپی سره پر ښکار باندی بل سپی هم موجودیږی داسی ښکار خوړل پکار دی او که نه ؟

[سوال کوونکی : عدی بن حاتم رَضِيَ اللهُ عَنْهُ ]

**جواب** : کله چی ته خپل تعلیم یافته سپی (په بسم الله ویلو سره) پر ښکار باندی ایله کړی او هغه ښکار مړ کړی نو هغه خوره او که چیری ښکار کوونکی سپی په خپله هم دهغه څخه خوراك وکړی نودا ښکار مه خوره او کله چی دسپی سره بل سپی پر ښکار باندی پیداسی نوبیا هم هغه مه خوره ځکه چی تا بسم الله یوازی دخپل سپی پر ایله کیدو باندی ویلی وه نه پر هغه بل باندی (اوپر کم سپی چی دایله کیدو په وخت کی بسم الله ونه ویل سی دهغه ښکار کړل سوی حیوان خوړل جآئز نه دی) لهذا نو هغه هم مه خوره ځکه چی معلومه نه ده چی ستا سپی دا ښکار کړی او مړ کړی دی اوکه هغه بل سپی . (بخاری شریف)

**شرح** : دسپی ښکار کم چی ترمړ کیدو وروسته پیدا سی په هغه کی که چیری درې ۳ خبری وی نو حلال دی ۱. سپی به تعلیم یافته وی ۲. مسلمان به په بسم الله ویلو سره ایله کړی وی ۳. سپی به دهغه څخه خوراك نه وی کړی ، که چیری ژوندی پیدا سو نوددې شرطو ضرورت نسته ذبح یې دی کړی او بیا دې یې وخوری . که چیری دوو سپیانو په شریکه ښکار کوی نوپه دواړو کی هغه درې ۳ سره شرطونه پکار دی ، که چیری په دوی کی یوهم غیرِ تعلیم یافته وو یا کافر یا مشرك ایله کړی وی نو ددوی دخوا څخه مړ کړل سوی ښکار نه دی حلال (تفصیلی حال دسپی دښکار او مسئلې او نور یې تردې مخکی ذکر سویدی) .

۲۹. **پوښتنه** : یا رسول الله ﷺ دا زما زوی دی ما په دغه نس کی ساتلی وو ، دتیو څخه می شیدې ورکولی په غیږ کی می روزی اوس دده پلار ماته طلاق راکړیدی او غواړی چی دی هم زما څخه جلا کړی ، ته ﷺ ددې په اړوند څه حکم فرمایی ؟

[سوال کوونکی : یوه ښځه په روایت دعبد الله بن عمر رَضِيَ اللهُ عَنْهُمَا ]

**جواب** : ترڅو پوری چی ته دبل چا سره نکاح ونکړی نسبت دهلك وپلار ته ، ته یې زیاته حقداره یې . (ابوداؤد ، مسندِ احمد)

ketabton.com - The Digital Library



**شرح** : کوچنی ته دپروربنت ورکولو او دخپل ځان سره دساتلو دپاره مور حقداره ده ترڅو پوری چی کوچنی هوښیار نسی (چی دهغه موده فقهاوو دهلك دپاره اوه ۷ کاله مقرره کړیده او دانجلۍ دپاره یې دحیض تر راتلو پوری) لیکن پرښځی باندی دی ددې په وجه جبر نه کول کیږی ، دکوچنی نفقه اوخرچه په دې ورځوکی دپلار پرذمه باندی ده ، او که چیری پلار مالداره وی نو دپروربنت مزدوری هم ښځه ورڅخه اخیستلای سی کله چی دمیړه په نکاح یا عده کی نه وی ، لیکن که چیری مور یې دداسی شخص سره نکاح وکړه چی هغه دکوچنی دپاره محرم نه وو یا داسی ځای ته داوسیدنی دپاره ولاړه چی دهغه ځای اوسیدونکی دکوچنی او دهغه دپلار سره عداوت (دښمنی) درلوده نو ددې (مور) حق دپروربنت یې ځی ، ولی چی په دې صورتوکی کوچنی ته دتکلیف او ضرر اندیښنه ده ، که چیری مور یې دداسی یو شخص سره نکاح وکړه چی هغه دکوچنی محرم وو نو دمور حق داولاده څخه نه باطلیږی ، مثلا دکوچنی داکا سره یې نکاح وکړه یایې داکا دزوی سره نکاح وکړه ، که چیری مور یې پروربنت نه کوی یا مړه سوه یایې دکوچنی دنامحرم سره نکاح وکړه نو نیکه ته ترده وروسته بیا انا ته تردې وروسته بیا خور ته تردې وروسته بیا خاله ته بیا عمه ته بیا نورو ښځو او نرانو ته دحضانة (١) حق حاصلیږی ، چی دهغه تفصیل ددې لنډی کتاب لائق نه دی .

**مسئله** : که چیری مور یې فاسقه یا فاجره وی نوبیا دحضانة حق نه ورته حاصلیږی . که چیری دکمی وجی څخه لا چاری او لابدی وی مثلا دمور څخه ما سوا کوچنی دبل چا شیدې نخوری نوبیا به یې په مور باندی په جبر سره داولاد پروربنت کول کیږی .

۷۰. **پوښتنه** : یا رسول الله ﷺ زما دزوج یوڅه غلامان تښتیدلی وه هغه ددوی په

---

(١). حضانة : یعنی داولاد طلب کول مور لره دپروربنت دپاره .

قال الکاسانی فی البدآئع فی الحضانة : هِيَ فِي اللُّغَةِ تُسْتَعْمَلُ فِي مَعْنَيَيْنِ: أَحَدُهُمَاجَعْلُ الشَّيْءِ فِي نَاحِيَةٍ يُقَالُ: حَضَنَ الرَّجُلُ الشَّيْءَ أَيْ اعْتَزَلَهُ فَجَعَلَهُ فِي نَاحِيَةٍ مِنْهُ، وَالثَّانِي: الضَّمُّ إِلَى الْجَنْبِ يُقَالُ: حَضَنْته وَاحْتَضَنْته إِذَا ضَمَمْته إِلَى جَنْبك ، وَالْحَضْنُ الْجَنْبُ فَحَضَانَةُ الْأُمِّ وَلَدَهَا هِيَ ضَمُّهَا إِيَّاهُ إِلَىٰ جَنْبِهَا وَاعْتِزَالُهَا إِيَّاهُ مِنْ أَبِيه لِيَكُونَ عِنْدَهَا فَتَقُومَ بحفْظه وَإِمْسَاكه وَغَسْلِ ثِيَابِه وَلاَ تُجْبَرُ الْأُمُّ عَلَى إِرْضَاعه إلاَّ أَنْ لاَّ يُوجَدَ مَنْ تُرْضِعُهُ فَتُجْبَرَ عَلَيْه وَهٰذَا قَوْلُ عَامَّة الْعُلَمَاءِ . آهـ

ketabton.com - The Digital Library



تلاښ کی ووتی کله چی قدوم ته ورسیدی نو هغه غلامان یې پیدا کړه ، غلامانو هغه قتل کی ، اوس که چیری اجازه وفرمایی نو خپلی پخوانۍ قبیلې بنی خدره ته به ولاړه سم ځکه زوج چی زه په کم کور کی پرې اېښی یم او دی مړ سو هغه نه داوسیدنی دپاره صحیح ځای دی اونه هم څه دخوراك او چیښاك اسباب سته .

[سوال کوونکی : زوجه حبشیه ابو سعیدِ خدری رضی الله عنه ]

**جواب** : ته په خپل هغه سرای کی اوسه ترڅو پوری چی مقرره عده خپل پای ته ورسیږی (ترمذی، ابوداؤد ، نسائی، مؤطا امام مالك) .

**شرح** : اول دې ته آنحضرت ﷺ اجازه فرمایلی وه چی ولاړه سه لیکن کله چی هغه واپس روانه سوه نو پدستی یې راوبلله او ورته وې فرمایل چی دعدې ترختمیدو پوری په همدې سرای کی اوسه ، ددې څخه معلومه سوه چی دمعتدې دپاره دزوج یا دزوج دوارثانو دطرفه څخه داوسیدنی دپاره په ورکړل سوی کور کی اوسیدل واجب دی او دا چی دکور یا بل شی دخرابوالی او دلږ او ډیر تکلیف دوجی څخه په عده کی کور پرېښوول جائز نه دی بلکه په وخت کی دوفات دزوج چی په کم کور کی اوسیږی په همدغه ځای کی دې عده پوره کړی برابره خبره ده که هغه ځای دښځی په ملك کی وی اوکه دزوج او که دبل چا . البته که یې چیری دزوج وارثان په ظلم او زور سره وباسی یاپه دې کور کی دځان او مال دضآئع کیدو خطره وی یا کور ونړیږی یا دنړیدو بیره وی یا دکرایی کور وی او ښځی ته دکرایی ورکولو طاقت نه وی په دې ټولو صورتونو کی کور پرېښوول جآئز دی .

**مسئله** : که چیری اتفاقی دیوچا کره دلیدو کتو دپاره تللی وه او ترشا یې په همدې وخت کی زوج مړ سو یا یې طلاق ورکی نو پدستی دې خپل کورته بیرته راسی او عده دې تیره کړی .

**مسئله** : دزوج دمرګ په عده کی که چیری دښځی سره دخوراك او چیښاك او ګذارې سامان نه وی نو دا چی دا دورځی ووزی اوکار وبار وکړی او دشپې بیرته واپس همدغه کور ته راځی او پکښی اوسی نو دا جآئز دی لیکن دطلاق په عده کی بالکل وتل روا نه دی ولی چی ترعدې پوری ددې خرڅ دزوج پر ذمه باندی دی.

۷۱. **پوښتنه** : ما دابو اهاب دلور سره چی نامداره ده په غنیه باندی نکاح کړی وه اوس یوه ښځه وایی (او زما په فکر کی که هغه درواغ وایی) چی ما عقبه او دهغه وزوجې ته ددوی په کوچنیوالی کی شیدې ورکړیدی په دې صورت کی غنیه زما

ketabton.com - The Digital Library



زوجه کیدلی سی او که نه ؟ [سوال کوونکی: عقبه بن حارث رَضِيَ اللهُ عَنْهُ ]

**جواب** : ته خپله دا زوجه پرېږده ، کله چې دا ویل کیږي چې تاسې دواړه رضاعی خور او ورور یاست ، نوبیا څنګه تاسې دواړه دزوج او زوجې په ډول اوسیدلای سی . (بخاری ، نسآئی ، دار قطنی) .

**شرح** : عقبه رَضِيَ اللهُ عَنْهُ په مکه معظمه کی اوسیږی دده دزوجې نوم زینب او غنیه وه او دامِ یحیٰی په کنیت سره مشهوره وه یوه ورځ یوه سوال کوونکی تور پوستی ښځه ددوی کورته راغلله دې ته په خیر ورکولو کی دوی وځنډیده نو دې ورته وویل چی ماته څه صدقه او خیرات ضرور راکړی په خدای قسم چی ما خو تاسی دواړو ته شیدې درکړیدی که څه هم چی هغې زړی ښځی دا خبره دصدقې او خیرات اخیستلو دپاره کړی وه لیکن ددې څخه ددې دواړو زوج او زوجې ورور او خور کیدل ثابت سوه ، عقبه رَضِيَ اللهُ عَنْهُ ورته وویل چی ته درواغ وایی که ریشتیا داسی وای نو دمخکی څخه تا دا خبر ولی نه راکوی مګر هغه سپین سری پرخپلی خبری باندی ولاړه وه ، دزوجې وقریبانو او کورنۍ ته یې دتحقیق دپاره سړی ولیږی نو هغوی ټولو وویل چی موږ ته نه ده معلومه چی دې ښځی دی زموږ انجلۍ ته شیدې ورکړی وی ، نوبیا عقبه رَضِيَ اللهُ عَنْهُ سپور سو او دمسئلې دپوښتنی دپاره مدینی منوری ته ولاړی او دجناب سرورِ عالَم ﷺ په خدمتِ بابرکت کی حاضر سو ده ﷺ چی واقعه واوریده نو دجلا کیدو حکم یې ورکی او وې فرمایل چی کله په تاسی دواړو کی دشیدو دعلاقې په وجه باندی دورور اوخور قرابت راغی نوبیا څنګه یوځای اوسیدلای سی ، عقبه رَضِيَ اللهُ عَنْهُ ارشادِ نبوی ﷺ په زړه او روح سره قبول کی او خپله زوجه امِ یحیٰی یې پرېښوولله او بله نکاح یې وکړه .

دا حکم آنحضرت ﷺ په ډول دتقوٰی او احتیاط فرمایلی وو که نه وی نوپه دې صورت کی زوجه پرېښوول واجب او لازمی نه وه ، او یوازی دیوې ښځی په شاهدې سره درضاع علاقه نسی ثابتیدی ، البته احتیاط او تقوٰی دغه ده دکم چی حضور ﷺ حکم ورکی او عقبه رَضِيَ اللهُ عَنْهُ عمل په وکی .

۷۲. **پوښتنه** : ای فخرِ عالَم ﷺ دابی القعیس ورور افلح دلته زموږ کره راغلی وو ما دهغه څخه پرده وکړه نو هغه راته وویل چی آیا زما څخه هم پرده کوی زه خو ستا اکا یم ما ورته وویل چی ته می اکا دکمی خوا سوې ؟ هغه راته وویل چی زما دورور زوجې تاته شیدې درکړیدی ، ما ورته وویل چی ماته خو شیدې ښځی

ketabton.com - The Digital Library



راکړیدی ستا یې څه علاقه ورسره ، اوس ته وفرمایه چې دهغه څخه پرده کول پکار دی او که واقعی هغه په دې علاقې سره اکا ګرځی او پرده نه ده واجب ؟

[سوال کوونکی : ام المؤمنین عآئشة رضي الله عنها ]

**جواب** : هغه شرعًا ستا اکا دی هغه ته دراتللو اجازه ورکړه دهغه څخه پرده مه کوه ځکه په نسب سره چې کم قرابتونه ثابتیږی هغه په رضاع سره هم ثابتیږی. (بخاری)

**شـرح** : ددې حدیث څخه معلومه سوه چې دشیدې ورکوونکی ښځی دزوج په علاقې سره هم هغه قرابت ثابتیږی کم چې په نسب کی دپلار دطرفه څخه وی مثلاً دنسبی پلار دورور څخه پرده نه ده واجب او نکاح ورسره حرامه ده دغه رنګه درضاعی پلار دورور سره هم نکاح حرامه ده او پرده نه ده واجب ځکه چې هغه رضاعی اکا دی ، لکه چې دا شخص چې دحضرتِ عآئشې رضي الله عنها درضاعی مور لیور یعنی درضاعی مور دزوج ورور یې وو چې دهغه په مخامخ کیدو سره ده ﷺ عآئشې رضي الله عنها ته اجازه ورکړه او ورته وې فرمایل چې دی ستا اکا دی ، دافلح په اړوند اختلاف دی چې دا دابو القعیس زوی دی اوکه ورور مګر زیاته معتبره خبره داده چې ورور یې دی ، دعآئشې رضي الله عنها یوبل اکا هم رضاعی وو مګر هغه یې دبلی علاقې څخه اکا کیدی یعنی دابوبکر رضي الله عنه سره په شیدو کی شریك ورور وو ، په عربو کی چې کله دمور څخه ما سوا دنورو ښځو شیدې هم اکثره وخت ماشوم ته ورکول کیږی ددې وجې درضاعت علاقې په کثرت سره وی . په هندوستان ، پاکستان او افغانستان کی هم داسی علاقې او قرابتونه وی دنکاح پر وخت خلګوته پکاردی چې دعلماوو څخه تحقیق وکړی ترڅو چې په حرام کی مبتلا نسی .

۷۳. **پوښتنه** : یا رسول الله ﷺ ارشاد وفرمایاست چې بعضی وخت یوڅوك یو دخیر کار کوی په دې وجه باندی خلګ دهغه تعریف کوی ، ددې څخه هغه ته څه تاوان رسیږی او که نه اوپه ثواب کی څه نقصان راځی اوکه نه ؟

[سوال کوونکی : صحابه رضي الله عنهم په روایت دابو ذر رضي الله عنه ]

**جواب** : دا تعریف خو مومن ته ژر رسیدونکی زیری دی . (مسلم شریف)

**شرح** : دجواب مطلب دادی چې دا تعریف هغه شخص لره هیڅ ضرر رسوونکی نه دی بلکه داخو نقد او ژر رسیدونکی زیری دی چې ده ته دلته ورسیدی چې دهغه څخه معلومه سوه چې الله تعالی ددې بنده څخه راضی سویدی او دی یې خپل

ketabton.com - The Digital Library



محبوب کړیدی ، دا دهغه ﷻ درضا او محبت تاثیر دی چی ددنیا خلگ یې هم محبوب بولی او تعریف یې کوی ، لکه په حدیث شریف کی چی راغلی دی چی کله الله تعالی یوڅوك محبوب گرځوی نو دآسمان خاوندانو ته اطلاع او خبر ورکول کیږی چی هغه یې هم دوست ونیسی تردې وروسته په کراره کراره داهلِ دمځکی په زړو کی هم دهغه محبّت او عظمت کښېنی او هغه په دوی کی مقبول گرځوی ، حاصل داچی ددې ځای تعریف دراتلونکی دکامیابۍ او نیکمرغۍ او دعالَم آخرت دبشارت او خوشحالۍ علامه ده چی هغه ده ته هلته حاصلیدونکی ده او دهغه لوړ قیمتو اجر اوثواب اوالهی نعمتو پیش خیمه ده کم چی دده دپاره په عالمِ باقی کی تیار سویدی .

۷۴. **پوښتنه** : یا رسول الله ﷺ ما یو آس فی سبیل الله (یعنی دثواب په نیت باندی دخدای تعالی ﷻ دپاره یا دجهاد کولو دپاره) یوه شخص ته ورکړی وو مگر هغه ددې آس هیڅ خدمت نه وو کړی او ډنگر او نرۍ کړی وو چی بالکل بیکاره کړی یې وو ، اوس یې هغه شخص خرڅوی غالبًا داسی گمان کیږی چی په ډیره اندازه کم قیمت به یې ورکړی زه هغه ورڅخه رانیسم که نه ؟

[سوال کوونکی : عمر بن الخطاب رضي الله عنه ]

**جواب** : هغه هیڅکله مه رانیسه خپله صدقه بیرته واپس مه اخله که څه هم چی هغه یې تاته دیوه درهم په بدله کی هم درکوی ددې وجی چی کم څوك صدقه ورکړی او بیرته یې واپس ورڅخه واخلی هغه داسی دی لکه سپی چی خپل قۍ دوباره بیرته خوری . (بخاری ومسلم)

**شرح** : کله چی هغه آس (چی دهغه نوم حضرت عمر رضي الله عنه وَرْد ایښی وو) ډیر ډنگر او بیکاره سوی وو ددې وجی څخه یې په کم قیمت باندی دتر لاسه کولو گمان وو او ددې وجی چی دده سره به په خاص طور سره ډیر رعایت وکی ولی چی دا دده دخوا څخه ورکول سوی وو که څه هم چی داقسم بیع حلاله او جآئزه ده لیکن کله چی دفی سبیل الله تر ورکولو وروسته اوس دهغه څخه یو قسم رعایت تر لاسه کول نا مناسب دی اوس چی هغه هرڅومره قدر رعایت وکړی گواکی په هغومره اندازه دده ورکړه بیرته ده ته واپس راغله لهذا دا فعل داحتیاط او تقوٰی خلاف او یوڅه قدر مکروه دی ددې وجی جناب سرورِ عالَم عليه الصلاة والسلام دعمر رضي الله عنه دپاره دا نکره خوښه او ممانعت یې وفرمایۍ او بیا یې دصدقې بیرته اخیستلو

ketabton.com - The Digital Library



سخت مذمت ديوه مثال په بيان كولو سره ښكاره كي .

**٧٥. پوښتنه** : اى سرورِ عالَم ﷺ مونږ (يعنى ښځى) پر خپلو پلرو او زامنو او مړو باندى نهايتى بار (او ګرانى) يو (زمونږ خرڅ چى كم ددوى پرذمه دى هغه دوى ته ډير درونډ او ناخوښه دى) ددې خلګو دمال څخه (مونږ ته بې له اجازې) آيا يوڅه اخيستل حلال دى ؟

[سوال كوونكى: يوه ښځه اوږدقامت اوقوى اوغټ بدن والا ګواكى دقبيلې څخه دمضروه]

**جواب** : ددوى دمال څخه تازه شى اخلى خوراك يې هم حلال دى او په هديه كى وركول يې هم (ابوداؤد) .

**شرح** : په كومو ملكو كى چى ښځى كم دروزى كار په خپله نه كوى هلته اكثره پر خلګو باندى ددوى داخراجاتو بار نهايتى ګران تيريږى (ګواكى بعضى وختونه په وجه دډير تعظيم او محبّت هغه درونډ والى نه معلوميږى) اوس چى هغه په اجازه او خوشحالۍ سره هرڅه وركړى دا دهغوى عنايت اومهربانى ده ليكن بې له اجازې څومره قدر تصرف كول جآئز دى ؟ دا سوال كوونكى وپوښتل ، ده ﷺ وفرمايل چى لانده او تازه شيان مثلاً پوخ سوى خوراك يا شيدې اونور داسى شيان چى ژر خرابيږى او هغه نسى ذخيره كيدى هغوى بې له اجازې خوړل يا يوڅه قدر په طور دهديې يا خيرات وركول يوچا ته جآئز دى ، نور مالونه لكه غلې او دانې او داسى شيان چى دذخيره كيدو قابل وى په هغوى كى داسى تصرف كول نه دى جآئز ، كه چيرى زوج نه وركول نو دخپل اولاد دپاره خوراك او نور ضرورى شيان بالكل بې له اجازې اخيستل هم جآئز دى ليكن هديه او صدقه او نور په هغه صورت كى وركول جآئز دى چى دزوج اجازه اورضا په ډول دعرف او عادت معلومه وى او هغه دكوچنى شيانو په وركولو سره نه ناراضه كيږى ، بلكه كه چيرى په غله او نقدو او نورو شيانو كى هم دزوج په طرز او طريقې سره اجازه معلومه سى نو خرڅول ، وركول او وربخښل يې جآئز دى ليكن په هر حالت كى دى بې له موقع او بې ځايه دهغه مال نه خرڅوى او دفضول خرچى دعادت په اختيارولو سره دى دشيطان خور دځانه څخه نه جوړوى .

**٧٦. پوښتنه** : پرمځكه باندى ترټولو مخكى كم مسجد جوړ سويدى او دهغه څخه وروسته كم يو ؟ [سوال كوونكى: ابوذرِ غفارى رضي الله عنه ]

**جواب** : اول مسجدِ حرام ( يعنى خانهٔ كعبه ) جوړ سويدى تر هغې وروسته مسجدِ

ketabton.com - The Digital Library



اقصیٰ (یعنی بیت المقدس چې سلیمان عَلَیْہِ السَّلام جوړ کی) . (بخاری ونسائی)
**شرح** : په دې کی هیڅ کله هیڅ شبه نسته چې په ټوله عالَم کی چې ترټولو اول کم ځای دعبادت دپاره مقرر کړل سویدی هغه مسجدِ حرام یعنی خانه کعبه ده لکه خدای تعالیٰ چې هم فرمایلی دی چې: إِنَّ أَوَّلَ بَيْتٍ وُّضِعَ لِلنَّاسِ لَلَّذِيْ بِبَكَّةَ یعنی تر ټولو مخکی کور کم چې دخلګو دپاره عبادت خانه مقرره کړل سوی وه هغه دی چې په مکه کی دی (یعنی خانه کعبه) ، اونه هم په دې کی شك سته چې مسجدِ اقصیٰ تردې وروسته جوړ سویدی لیکن په بعضی روایتوکی دی چې دسوال کوونکی پر پوښتنه باندی آنحضرت ﷺ وفرمایل چې دمسجدِ حرام او مسجدِ اقصیٰ په بنیاد کی دڅلویښتو ۴۰ کالو فاصله ده حالانکه دتاریخ څخه واضحه کیږی چې په دوی کی تر زرو ۱۰۰۰ کالو هم زیات لیری والی دی ولی چې خانه کعبه ابراهیم عَلَیْہِ السَّلام جوړه کړیده او مسجدِ اقصیٰ سلیمان عَلَیْہِ السَّلام . ددې وجی نو ښه پوهیدل پکار دی چې جناب سرورِ عالَم ﷺ هغه فاصله بیان کړیده کمه چې ددوی دواړو داولو بنیادو او اصلی بناوو ترمابینځ واقع ده ولی چې نه دخانه کعبې اصلی بانی حضرت ابراهیم عَلَیْہِ السَّلام دی اونه هم دمسجدِ اقصیٰ بنیاد ایښوونکی حضرت سلیمان عَلَیْہِ السَّلام دی بلکه حضرت آدم عَلَیْہِ السَّلام په امرِ خداوندی سره یو تربل وروسته دواړه مسجدونه جوړ کړیدی اوپه همدغه بنیاد ایښوولو کی څلویښت ۴۰ کاله فاصله وه ، دکم چې مخبرِ صادق (روحی فداه [۱]) بیان فرمایلی دی ، تر اوږدې زمانې او ډیری مودی وروسته چې کله ددواړو علامې خرابی او محوه سوی وی او بې نښانه پاته سوی وی په ارشاد او اطلاع خداوندی سره سیدنا ابراهیم عَلَیْہِ السَّلام خانه کعبه پرقدیمو بنیادو باندی تعمیر کړه او دده لمسی حضرت یعقوب عَلَیْہِ السَّلام مسجدِ اقصیٰ پر مخکنیو بنیادو باندی راپورته کی (په دې دوو تعمیرو کی تقریباً دڅلویښتو کالو فرق وو) بیا یوڅه موده وروسته داؤد عَلَیْہِ السَّلام په نهایتی عمدګی او استحکام سره دمسجدِ اقصیٰ تعمیر شروع کی او دهغه دوفاته څخه وروسته دده رشید زوی او لائق او عالیقدر جانشین سلیمان عَلَیْہِ السَّلام اختتام ته ورسوی او هم دی عَلَیْہِ السَّلام ددې بانی مشهور سو لیکن دخاصو تعلقاتو دوجی څخه دبیت الله شریفی بانی حضرت ابراهیم عَلَیْہِ السَّلام مشهور دی ګواکی

---

(۱). یعنی زما روح دی ترده ﷺ قربان وی . منه

ketabton.com - The Digital Library



خانه کعبه هم تر ده ﷺ وروسته څو وراه تعمیر سویده ، دبیت الله تعمیراتو یو څه قدر حالات همدې فقیر مؤلِف په الجواب المتین کی او زیات حالات یې دالصّالحات پر حاشیه باندی دحضرتِ فاطمې رضی الله عنها په حالاتو کی لیکلی دی .

۷۷. **پوښتنه** : یا رسول مقبول ﷺ زما نوم فلانی ځای ته دتلونکو مجاهدینو په نومونو کی لیکل سویدی او زما زوجه حج ته تللی ده (حالانکه دښځو دپاره بې له کم محرم یا زوجه څخه یوازی تلل منع دی او هلته په جهاد کی تلل هم ضروری دی (ولی چی نوم می لیکلی دی) اوس څه تدبیر وکړم) ؟

[سوال کوونکی : یو شخص په روایت دابن عباس رضی الله عنهما ]

**جواب** : ته دخپلی زوجې سره ولاړ سه حج وکه (جهاد ته تلل وځنډوه). (بخاری)

**شرح** : یو وار دخدای ﷻ رسول ﷺ ارشاد وفرمایی چی بې له ملګری کیدو دزوج یا یوه محرم دی هیڅ ښځه سفر نه کوی ، چی ددې څخه معلومه سوه چی دښځی دپاره دفرضی حج دادا کولو دپاره هم بې له ملګری کیدو دزوج یا محرم سفر نه دی جآئز ، ددې وجی سوال کوونکی ولاړ سو او پوښتنه یې وړاندی کړه ، غالبًا به دهغه پر زوجی باندی حج فرض کړل سوی وو اوپرده به نه وو فرض سوی لیکن کله چی دده دنفلی حج دوجی څخه دزوجې فرضی حج ادا کیدی اوبې له دی چی دی ولاړ سی هغه پاتیده ولی چی بل څوك بیوونکی یې نه وو او یوازی تلل حرام وه ځکه یې نوده ته دجهاد پرېښوولو او حج کولو حکم ورکی ، ولی چی جهاد دده په نه موجودګی کی هم کیږی لیکن دزوجې حج بالکل فوت کیږی .

**مسئله** : کله چی دنورو احادیثو څخه معلومه سویده چی دیوازی سفر ممانعت په هغه حالت کی دی کله چی ددرو ورځو سفر وی (چی دهغه مقدار په پاکستان او هندوستان کی ۴۸ انګریزی میله کیږی) نو که چیری یوه ښځه مکی معظمې ته نژدی اوسیږی چی ددرو ورځو سفر (یعنی د۴۸ میلو فاصله نه وی) نودې ته یوازی تلل او حج کول هم جآئز دی ، لیکن بهتره خبره پرهر حال داده چی دیو چا محرم سره یوځای ولاړه سی.

۷۸. **پوښتنه** : یا رسول الله ﷺ زما دوه همسایګان دی (که چیری زه هدیه ورکول وغواړم او هغه دومره شی وی چی یوازی یوه همسایه ته دورکولو قابل وی نو) په دوی کی یې کم یوه ته ورکړم ؟ [سوال کوونکی: عآئشة رضی الله عنها ]

**جواب** : دکم یوه دروازه چی تاته زیاته نژدی وی . (بخاری)

ketabton.com - The Digital Library



**شرح** : دهمسایه وکورته چې کم شی راځی نونژدی دروازې والا همسایه اکثره وخت هغه وینی اوبعضی وخت یې دهغه شی وطرف ته رغبت او خواهش پیدا کیږی ، نو دپوره نروالی دوجی څخه یې هغه ته دهدیې او تحفې ورکولو حکم وفرمایې او ددې وجی هم دهغه حق زیات دی چې هغه دحاجت او ضرورت پروخت دده کومکی وی او دغفلت په وخت کی یې حفاظت کوونکی وی ، نو ددې ټولو مصلحتو په وجه نژدی دروازې والا همسایه ته یوشی ورکول مستحب او افضله دی ، که یې چیری دخپل یوه مصلحت یا فآئدې په وجه ولیری دروازې والا همسایه ته ورکی نوبیا هم جآئز او صحیح دی. دارنګه دا حکم هغه وخت دی چې یوازی یوه ته ورکول منظور وی یا هغه هدیه قلیل المقداره وی چې یوه ته ورکول کیږی زیات ته نه ، که داسی نه وی نوکه یې قدرت وی نوبهتره داده چې دواړو ته هدیه ورکړی ، نژدی دروازې والا ته هم او لیری دروازې والا ته هم .

دهمسایه سره په مړانی ، کومك ، خیر خواهی او اعانت کولو کی ډیر حدیثونه وارد سویدی ، هغه ته ضرر رسول ، آزارول ، دهغه وپټو شیانوته کتل او پلټنه یې کول نهایتی لویه ګناه ده ، دهمسایه حقوق ، اخلاق او آداب یې په کتابو کی مفصل ذکر دی .

۷۹. **پوښتنه** : ای جناب سرورِ عالَم ﷺ زما مور راغلی ده ، هغه مشرکه او داسلام څخه ناخوښه او بیزاره ده ، ماته دهغې خدمت کول او ورسره وصله رحمی کول جآئز دی او که نه ؟ [سوال کوونکی : اسمآء خور دابوبکر رضی الله عنهما ]

**جواب** : ته دخپلی مور سره وصله رحمی (په ګذاره او احسان کی) کوه (مسلم)

**شرح** : ابوبکر رضی الله عنه دجاهلیت په زمانه کی خپلی یوې زوجې ته چې نامداره وه په قُتیلهٔ سره طلاق ورکړی وو چې دهغه څخه دابوبکر رضی الله عنه لور اسمآء (چې زوجه وه دزبیر رض) پیدا سوی وه ، مدینې ته ترهجرت کولو وروسته په کمه زمانه کی چې حضرت سرورِ کآئنات ﷺ دقریشو دکفارو سره پریو څو شرطو باندی صلح کړی وه (چې هغې ته صلح حُدیبیه او عهدِ قریش هم ویل کیږی) دا ښځه دخپل زوی حارث سره (چې هغه یې دبل زوج مدرك څخه پیدا سوی وو) ملګری سوه دمکې معظمې څخه را روانه سوه دخپل لور اسمآء رضی الله عنها کور مدینی منوری ته راورسیده اویوڅه غوړی ، کشمش اونور شیان یې په تحفه کی راوړه لیکن داسلام څخه متنفره او دلور دمسلمانیدو څخه نهایتی ناراضه وه ، او دلته دډیری مودې

ketabton.com - The Digital Library



ثخه دابوبکر رضی الله عنه کور په نورِ اسلام سره منوّر سوی وو ، ښځو او نرانو ټولو درسول الله ﷺ پر احکامو باندی روح او ځان ورکوی او دده ﷺ بې له اجازې یې هیڅ کار نه کوی ، اسمآء رضی الله عنها نه تحفه قبوله کړه او نه یې دمور کم خاطر او خیال وساتی بلکه دهادی برحق ﷺ په خدمت مبارك کی حاضره سوه او حال یې عرض کی ، دده ﷺ په جواب کی دمور کیدو دعلاقې ښکاره والی وکی ددې محبّت یې تازه کی او اجازه یې ورته وفرمایله چی دمور کیدو دعلاقې ثخه ته دهغې خدمت ، تعظیم ، ښه سلوك او احسان ورسره وکړه که ثه هم چی هغه مسلمانه نه ده، دده ﷺ دارشاد ثخه معلومه سوه چی سره ددې چی کافر او مشرك وی دمور اوپلار دخدمت او تعظیم حق نه زائلیږی ، او خدای تعالی ﷻ چی دمور اوپلار سره کم داحسان اونیکۍ حکم فرمایلی دی هغه عام دی ، والدین برابره خبره ده که مسلمانان وی او که نه وی او په مذهب مخالف قریب او رشته دار کم چی دمسلمانانو په آزار نه وی پسې دهغه سلوك او احسان کول شرعًا نه دی منع او داهم واضحه سوه چی اسلام ثومره قدر فراخ زړه درلودونکۍ اوخوښ مذهب دی، دمذهب مخالفین ترڅو پوری چی ضرر ونه رسوی دهغوی سره مراعات کول ، نفع ورته رسول ، تعظیم او خدمت ورته جآئز بولی .

**مسئله** : که چیری په جهاد کی کافر پلار دمسلمان زوی په مقابله کی راسی او دقتل کولو موقع وی نو مستحب داده چی په خپله یې نکړی قتل یوبل ثوك دې ورته را مخ ته کړی .

۸۰. **پوښتنه** : ای حضرت رسول الله ﷺ زه مسلمان سوی یم او زما سره اته ۸ ښځی دی دا ټولی دځانه سره ساتلی سم او که نه ؟

[سوال کوونکی : قیس بن حارث الاسدی رضی الله عنه ]

**جواب** : ثلور (کمی چی ستا په نکاح کی اولی راغلی دی) راوګرځوه (او ثلور یې ایله کړه) (ابوداؤد) .

**شرح** : دمسلمان دپاره تر ثلور زیاتی ښځی په یوه حالت کی په تصریح سره دقرآن او حدیث هیڅکله جآئز نه دی ، که چیری دمسلمان کیدو پروخت تر ثلورو زیاتی موجودی وی نو دزیاتو ایله کول ضروری دی لیکن دهغو ثلورو ایله کول پکار دی دکومو سره چی نکاح وروسته سوی وی ، او که وروسته والا دځانه سره پاته کول غواړی نودهغه صورت دادی چی اول دی ټولوته طلاق ورکړی اوبیاچی یې دکومی

ketabton.com - The Digital Library



دکومی سره زړه وغواړی نکاح دی ورسره وکړی .
**مسئله** : که چیری دیوه سړی په نکاح کی درې ښځی موجودی وی او څلورمی ته یې طلاق ورکړی وو نو ترڅو پوری چی دڅلورمی عده نه وی تیره سوی زوج ته دبلی ښځی سره نکاح کول نه دی حلال .
۸۱. **پوښتنه** : یا رسول الله ﷺ کوچنیانو ته په کم عمر کی لمونځ کول پکار دی ؟
[سوال کوونکی: یوشخص نامعلوم الاسم په روایت دعبد الله بن حبیب رضي الله عنه ]
**جواب** : کله چی په رسته اوچپه کی فرق وکولای سی (یعنی هوښیار سی) نوبیا دی لمونځ ادا کول شروع کړی . (ابوداؤد)
**شرح** : لمونځ روژه او نور احکامِ شرعیه هغه وخت فرض او واجب ګرځی چی انسان بالغ سی او لیونی نه وی لیکن کله چی لمونځ دالله ﷻ په فرآئضو کی ډیر مهم او دټولو عباداتو خلاصه ده ددې وجی دعادت جوړولو ، او اِزده کولو په واسطه کوچنیانو ته داوو ۷ کلو په عمر کی لمونځ ادا کول پکار دی او کله چی یې عمر دلسو ۱۰ کالو سو او دڅبی په تاکید او امر کولو سره یې لمونځ نه کوی نو په سزا ورکولو او وهلو باندی لمونځ په ادا کول پکار دی ، لکه چی په ابوداؤد او ترمذی او نورو کی یو حدیث دی چی دهغه ترجمه داده چی خپل اولاد ته (هلك وی اوکه انجلۍ) دلمانځه حکم کوی کله چی دهغه عمر اوه ۷ کاله وی او پر لمونځ نه کولو باندی یې وهی کله چی دهغه عمر لس ۱۰ کاله وی (ولی چی اوس بالغ کیدو ته نژدی دی په دې وخت کی دتاکید زیات ضرورت دی او دلسو ۱۰ کالو په عمر کی) دهلکانو او انجونو بسترې ورجلا کوی (یعنی خور او ورور جلا جلا بیدوی) لیکن په چلاخی او لرګی او نورو دا ډول شیانو سره یې (چی عیب په بدن کی پیدا کوی) وهل نه دی پکار بلکه په لاس سره یې وهل پکار دی ، او تردرو ضربو وهلو یې زیات په یوه وار مه وهی او پرسر یې مه وهی ، دلمانځه په ډول دروژې حکم هم په دې عمرکی پکاردی او دنورو شرعی احکامو پابندی په کول هم پکار دی ددې دپاره چی په آزاد پرېښوولو سره ورڅخه بې مهاره اوښ جوړ نسی او په آینده کی په خرابی اخته نسی . (۱)
۸۲. **پوښتنه** : یا رسول الله ﷺ موږ پر دریاب باندی سفر کوو او دخپل ځان سره

(۱). دعامو (عامیانو) خلګو دپاره دا حدیث دومره مهم دی چی باید دسرو زرو په اوبو یې ولیکی او تر خپل وسه پوری دعمل کولو کوشش په وکړی. مترجم غفرالله له

ketabton.com - The Digital Library



لړې خوړې اوبه اخلو که چيرې په هغه اودس وکړو نو دتندې څخه به مړه سو نو آيا ددرياب (سمندر) په شور کوونکو اوبو سره اودس کوو ؟

[سوال کوونکی : يوشخص په روايت دابو هريرة رضي الله عنه ]

**جواب** : ددرياب اوبه پاکې دې او دهغه مرداره (خپله مړسوې حيوان) هم حلاله ده (نوپه هغه باندې اودس کوې) (ابوداؤد ، نسائي ، ابن ماجه ، دارمي)

**شرح** : کله چې ددرياب داوبو خوند يوڅه بدل سوې وې اوپه بعضو ځايو کې يې رنګ هم بل وې او آنحضرت ﷺ ددرياب داوبو په اړوند دا هم فرمايلې دي چې هغه اور دی ددې وجې صحابه وو رضي الله عنهم ته شبه وسوه چې شايد ددې داوبو څخه په اودس کولو سره يوڅه کراهيت وې ، ده ﷺ ددې پاکوالې بيان کې داوداسه ، غسل او نورو اجازه يې ورته وفرمايله ، اوکله چې ده ﷺ ته دا معلومه سوه چې دې خلګو ته ددرياب په اوبو کې شبهه ده ددې وجې يې داهم وفرمايله چې ددرياب مرداره هم حلاله ده . دامامِ ابو حنيفه رحمة الله عليه په نزد ددې څخه خاص ماهۍ مراد دی اوپه دريابي حيوانانو کې يوازې هغه حلال دي دبعضو نورو علماوو په نزد باندې ټوله دريابي حيوانان حلال دي ، پوره تفصيل يې دحديثو په شروحو کې موجود دی.

۸۳. **پوښتنه** : يا رسول الله ﷺ زه داسې ښځه يم چې دخپل سرکوڅۍ ډيرې ټينګې ترم دجنابت په غسل کې پرسر باندې داوبو اچولو اورسولو پروخت دهغو خلاصول ضروري دي اوکه نه ؟ [سوال کوونکی : ام سلمه رضي الله عنها ]

**جواب** : نه ! دخلاصولو هيڅ ضرورت يې نسته ، تاته همدا کافي دي چې درې واره لپه داوبو ډکه کړې او پرخپل سر باندې يې واچوې او بيا پرټوله بدن باندې اوبه واچوې بس په همدومره کولو سره ته پاکه سوې . (ترمذي ، مسلم ، ابوداؤد)

**شرح** : په غسل کې درې فرض دي ۱ . غرغره کول يعنی دخُلې پوره دننه خوا پرېوول ۲ . په پزه کې اوبه اچول ۳ . پرپاته ټول بدن باندې اوبه اچول ، ددې قاعدې څخه لازمه سوه چې دسر او ږيرې اونورو ځايو ټول وربښتان دې هم پرېولل سی او لانده دې کړل سی ليکن دښځو دپاره آنحضرت ﷺ وفرمايل چې يوازې دوربښتانو بيخونه لندول کافي دي ، داچې دسر وربښتان خلاص کړې او ټوله وربښتان لانده کړې ضروري نه دي ، البته پرټول سر باندې داوبو تيريدل او دوربښتانو دبيخو لنديدل ضروري دي ، ليکن دا حکم يوازې دکوڅۍ سوو وربښتانو دپاره دی او په

ketabton.com - The Digital Library



ښځو پوري خاص دی نو که چیري دیوې ښځې ورېښتان مخکې تر غُسل خلاص کړل سوي وه نو بیا دټولو ورېښتانو پرېولل فرض دی . دارنګه دنارینه دپاره دټولو ورېښتانو لندول ضروري (۱) دی برابره خبره ده که کوڅۍ سوي ورېښتان یې وي او که خلاص . که چیري دښځې دکوڅۍ سوو ورېښتانو وبیخو ته اوبه ونه رسیږي نوبیا یې هم خلاصول او دټولو ورېښتانو پرېولل فرض دی .

۸۴. **پوښتنه** : یا رسول الله ﷺ کم سړی بهتره دی ؟

[سوال کوونکی : یو اعرابی نا معلوم الاسم ]

**جواب** : کم سړی چی په خپل ځان او مال سره جهاد وکړی (یعنی په جهادکی ځان او مال مصرف کړی) او کم شخص چی دغره دغارو څخه په یوه غار کی واوسیږی او دخپل پروردګار عبادت وکړی او خلګو ته تکلیف ونه رسوی . (بخاری شریف)

**شرح** : دجهاد کوونکی څخه دا نه دی مراد چی یوازی جهاد کوی ، نور فرآئض او واجبات نه ادا کوی بلکه هغه شخص مراد دی چی ټول ضروریات ددین هم ادا کوی او فی سبیل الله جهاد هم کوی ، دا شخص ترټولو افضل ددې وجی څخه سو چی په نورو اعمالو او افعالو کی یې دالله تعالی داطاعت او فرمانبرداری سره سره اوس خپل ځان اومال هم دخدای ﷻ په لاره کی مصرف کړ کم چی انسان ته ترټولو زیات عزیز او محبوب او قابلِ قدر شیان دی اوددې کار یعنی جهاد ګټه دومره متعدی (نوروته رسیدونکی) ده چی ټول عالَم ددې څخه فیض اخیستونکی دی ځکه چی دهمدې جهاد په سبب سره داسلام نور تر خلګو پوری رسیږی مخالفین نړیږی او دالله ﷻ نوم لوړیږی دکم دوجی څخه چی ټول عالَم قآئم دی ، دټولو څخه جلا چی ګوښه نشین سی او دغره په غارو کی اوسیږی او دخدای ذو الجلال ﷻ ذکر کوی داهم افضله دی مګر په دوهمه درجه کی ، ولی چی دخلګو سره په یو ځای کیدو او ملګری اوسیدو کی اکثره ګناهونه را وړاندی کیږی چاته تکلیف هم رسیږی اوپه عبادت کی خلل او تاوان هم راځی ، داټوله شیان په جلا اوسیدنه کی نه را پیدا کیږی ، نه به چاته دضرر رسولو موقع درته راځی ، نه به ګناه مخ ته راځی ، نه په عبادت کی ریا راځی اونه هم مکر او فریب ، بلکه دزړه داخلاصه به په عبادتِ الٰهی کی مصروف وی لیکن ددې ګټه او نفع او ثواب دده تر ذاته پوری محدوده ده نورو خلګو ته نه ده رسیدونکی ددې وجی په دوهمه درجه کی

(۱). په ابوداؤد کی په روایت دثوبان رضی الله عنه ددې تصریح سویده .

ketabton.com - The Digital Library



کښېښوول سو .
علمآءِ ربّانیـه وو فرمـایلی دی چی جنـاب رسـول الله ﷺ ددوو زمـانو دوه مناسـب عملونه بیان کړیدی یعنی په زمانه کی چی ترځو پوری یوڅه قدر خیر او نیکی وی اوپه وعظ، نصیحت ، جهاد او نورو شیانو سره داسلام ترقی او نورو ته نفع رسول ممکن وی نو ترهغو پوری دخلګو سره یوځای اوسیدل ، او څه ډول چی ممکنه وی دهغوی په اصلاح او خیر خواهی کی اوسیدل بهتر دی ، اوکله چی دزمانې په هر طرف کی شر خپور سی دنیکۍ دکار نوم لا نسی پاته په داسی وخت ګوشه نشینی او یوازی والی بهتر دی .
دموجوده زمانې نهایتی فساد او ډیر شرته په کتو سره خوبعضی حضرات همداسی فرمایی چی همدا زمانه دخلګو څخه دجلا والی او تنهایی ده ، لیکن راجح او حق دهغو بزرګانو قول دی کم چی فرمایی چی اوس هم څه خیر او نیکی موجوده ده داصلاح اونیکۍ کوشش بالکل بې فآئدې نه ځی هغه زمانه تر اوسه لا نه ده راغلی که څه هم چی ډیره نژدی ده .
**۸۵**. **پوښتنه** : ما پـه خوب کـی دعثمـان بـن مظعـون رضی الله عنه دپـاره یـوه روانـه چینـه لیدلی ده. [سوال کوونکی: ام العلاء انصاریه رضی الله عنها ]
**جواب** : دا دهغه عمل دی (چی دهغه ثواب تر مرګ وروسته هم) دده دپاره جاری دی . (بخاری شریف)
**شرح** : په خوب کی ددنیوی اشغالو تر پرېښوولو او دحواسِ ظاهره وو تر معطل کیدلو وروسته چی کله انسانی روح دعالمِ بالا وطرف ته متوجّه کیږی نو هغه په اندازه داستعداد او قابلیت دهغه ځای شیان په نظر ورځی یعنی که چیری روح صاف او لطیف وی نو مفصّل حالات او پوره واقعه ورته لیدل کیږی او که چیری روح کثیف او په دنیاوی جنجالونو باندی زیات ککړ وی نوڅه مشتبه او مبهم شیان ورته ښکاره کیږی (لکه هنداره چی صفا او شفافه وی نوپوره عکس صفا ښکاره کوی اوکه ککړه او خرابه وی نو پرې پرې عکس پر لوېږی او دخاوری سوی شی په مثال سره شکلونه پکښی معلومیږی ) مګر په لوړ عالَم کی دهرشی جلا صورت او نوی شکل مقرر دی ، دلمانځه جلا صورت دی ، دروژې جلا ، دمرګ جلا شکل دی او دژوند جلا ، دخیر داعمالو جلا حالت دی او دشر داعمالو بیا دهغه څخه مختلف ، لیکن سره ددې چی انسان ددنیا څخه یوڅه قدر بې تعلقه سی

ketabton.com - The Digital Library



اوحواس يې بيکاره سي مګر بيا هم هغه طاقت نه وي ورته حاصل چې انسان دی هغه اصلي صورتونه ويني ، ځکه چې دهغه ټولي قواوي هرشي ته ديو دنياوی شکل په ليدلو عادی سوی وی ، ددې وجی څخه هغه يې دمحسوساتِ ظاهره وو دشکل څخه په يو شکل کی راوړی اوپه خوب کی هغه شيان ويني . خير او برکت علم او نور داسی شيان دشيدو په صورت کی ليدل کيږی ، ګمراهی ، بې لاری او نور دشرابو په صورت کی ليدل کيږی ، دمرګ دپاره دبزې صورت بيانيږی ، دښمني او مرض دفيل او زمری په صورت کی په نظر رائحي وعلى هذا القياس ، دمعبِّر (يعني تعبير ورکوونکی) کار دادی چی ددې صورتو څخه (چی خوب ليدونکی يې ورته بيانوی) اصلي شي وپيژني او ورته بيان يې کړی (دا نهايتی مشکل علم دی مګر ترنبی او خصوصاً تر خاتم الانبياء ﷺ څوك زيات ماهر او پوه کيدلای سی) ، لهذا نوده ﷺ دام العلآء رضي الله عنها دخوب په تعبير کی وفرمايل چی دا دعثمان بن مظعون رضي الله عنه هغه دخير عمل دی کم چی دده تر مرګ وروسته جاري دی دا درواني چينې او صافو اوبو په شکل کی ليدل سويدی .

عثمان بن مظعون رضي الله عنه هغه عالي مقام والا صحابی دی چی دی په هغو صحابه وو رضي الله عنهم کی چی دمکې معظمې څخه يې مدينې منوری ته هجرت وکی لومړنی شخص دی چی وفات سو ، انصارو يعني دمدينې اوسيدونکو مسلمانانو يوه يوه يا دوو دوو مهاجرينو ته په خپلو کورو کی ځايونه ورکړی وه ترڅو چی په خوراك ، جامه اونورو ټولو شيانو کی دوی دخپل ځان سره شريك کړی اوپه هر ډول باندی ددوی کار او خدمت وکړی ، عثمان بن مظعون رضي الله عنه دحضرت زيد بن ثابت رضي الله عنه (چی کاتب وو درسول الله ﷺ) په حصه کی راغلی وو دده په کور کی اوسيدی او دزيد اهل او عيال دده دطرز او طريقې څخه نهايتی خوشحاله او دده دربښتيني بزرګۍ او تقدس معتقد وه ، دعثمان رضي الله عنه دوفات څخه رسول الله ﷺ ته هم ډير لوی تکليف ورسيدی او دحضرت زيد رضي الله عنه متعلقينو او قريبانو ته داسی صدمه اوتکليف ورسيدی لکه څنګه چی دخپلو خاصو قريبانو پرمرګ باندی چاته رسيږی ، په همدې ورځوکی دزيد بن ثابت رضي الله عنه زوجې ام العلآء رضي الله عنها دا خوب وليدی چی په دې پوښتنه کی يې ذکر وسو.

۸۲. **پوښتنه** : په غوړو کی موږك ولويدی مړ سو اوس په دې غوړو څه وکړو دهغه خوړل حلال دی او که نه ؟ [سوال کوونکی : ميمونه رضي الله عنها ]

ketabton.com - The Digital Library



**جواب** : که چیری غوړی یخې وی نو هغه موړك او دهغه شاوخوا غوړی وغورځوه او خپل پاته غوړی وخوره (او که چیری ویلی غوړی وه نو هغه ته مه ورنژدی کیږه).
(مسلم وبخاری ونسآئی وجمله کتب احادیث)

**شرح** : که چیری وچ غوړی نه وه بلکه ویلی وه چی بهیده نوبالکل ناپاکه کیږی دهغه خوراك جآئز نه دی ، البته خرڅول او رانیول یې جآئز دی (لیکن رانیوونکی ته خبر ورکول پکار دی که نه نو سخته ګناه به سی چی بل چاته موفریب ورکی او نجس غوړی موپه وخوړل) او په څراغ کی یې بلول هم جآئز دی لیکن په مسجد کی یې بلول جآئز نه دی ، همدا حکم دغوړو څخه ما سوا دنورو شیانو هم دی ، که چیری کلك او یوځای وی نو موړك یابل شی چی ورلویدلی دی هغه او دهغه پرڅلور طرفه باندی یوڅه دهغه شی څخه غورځول پکار دی پاته پاك دی او که چیری روان او بهیدونکی شیان وی (لکه تیل او نور) نوټوله ناپاکه کیږی .

**مسئله** : که چیری په ناپاکه غوړو کی دهغه برابر اوبه واچول سی او دومره جوش ورکول سی چی ټوله اوبه وچی او ختمی سی نو غوړی پاکیږی ، همدا طریقه دشهدو او تیلو دپاکولو هم ده ، لیکن تیلو ته جوش ورکول ضروری نه دی بلکه اوبه دی ورواچوی کله چی تیل یې پر سر راغله هغه دی په یو ترتیب باندی ورڅخه جلا کړی ، البته بهتره داده چی په دې ترتیب یې درې واره پاك کړی .

۸۷. **پوښتنه** : دیمن اوسیدونکی دشهدو څخه شراب جوړوی او چیښی یې چی هغه ته تبع وایی هغه حلال دی اوکه حرام ؟

[سوال کوونکی : حضرت ابو موسٰی رضی الله عنه ]

**جواب** : هرهغه شراب چی نشه راوړی هغه حرام دی (کله چی په تبع کی هم نشه ستنه لهذا دا هم حرام دی چیښل یې جآئز نه دی) ، (بخاری ومسلم) .

**شرح** : په قرآن شریف کی چی کله خمرو ته حرام ویل سویدی ، او خمر وایی په عربی ژبه کی خاص دانګورو وشرابو ته ددې وجی په نورو قسمو شرابوکی صحابه وو رضی الله عنهم ته شبه وه ځکه چی په نشه راوړلو کی هغه داسی وه لکه دانګورو شراب مګر په لغت کی خمر نه ورته ویل کیده بلکه یوبل قسم نوم به یې وو ، لکه دشهدو وشراب ته چی به تبع او داوربشو او جوارو شراب ته به مزر ویل کیده ، ددې وجی صحابه وو رضی الله عنهم دده ﷺ څخه پوښتنه کوله چی فلانی قسم شراب حرام دی او که نه ؟ خصوصا دنورو ملکو اوسیدونکو صحابه کرامو رضی الله عنهم چی

ketabton.com - The Digital Library



هلته به نور قسمونه شراب اکثر وه ، پوښتنه به یې کوله ، ده ﷺ نهایتي جامع او عام حکم او قاعده کليه ورته وفرمايله چې دکومو شيانو څخه نشه راځي هغه ټوله دانګوري شرابو او خمرو په حکم کې دي او حرام دي برابره خبره ده که دهرشي څخه جوړ کړل سي او په هرنامه چې مشهوره وي .

۸۸. **پوښتنه** : يا حضرت ﷺ ! بعضې وختونه څوك لمونځ کوي اوپه نس کې يې غوړهاري وسي او داسي شبه کيږي چې شايد څه باد به وتلي وي ، دداسي شك په حالت کې دي لمونځ پرېښوول کيږي او که نه ؟

[سوال کوونکی : عبد الله بن زيد بن عاصم المازني رضي الله عنهم ]

**جواب** : ترڅو پوري چې آواز يا بد بويي رانسي لمونځ دي نه پرېږدي (بخاري ومسلم وابوداؤد) .

**شرح** : مقصد دادی چې ترڅو پوري چې آواز وانه وريدل سي يابد بويي محسوس نسي ياخص پربدن باندي دباد وتلو اثر معلوم نسي او دباد وتلو يقين رانسي اودس نه ماتيږي ځکه نو لمونځ پرېښوول نه دي پکار ، ددې حديث څخه دا قاعده معلومه سوه چې دهرشي حکم پرخپل اصلي حالت باندي دي ترڅو پوري چې دهغه خلاف حکم يقيني معلوم نسي ، مثلاً ديوې جامي يا اوبو دپاکوالي موږ ته يقين وو اوس ديوې وجه څخه شبه پيدا سوه چې شايد ناپاکه سوي به وي نوددې شبه هيڅ اعتبار نسته اوبه او جامه دخپل حالت موافق پاکي ګڼل کيږي ، هو! کله چې يې ناپاکه کيدل په يقين سره معلوم سي نوبيا به دناپاکه کيدو حکم ورکول کيږي ، يا مثلاً تاته خپل اودس کول په يقيني او پوخ ډول سره معلوم دي ليکن دا شبه ده چې شايد مات سوي به وي نوددې شبهې هيڅ اعتبار نسته اودس پاته دي .

**فائده** : کله چې په لمانځه کې خاص دلمانځه دحالت ذکر دي ددې وجې دامام مالك او حسنِ بصري يو قول دادي چې که چيري په لمانځه کې دننه داسي شبه وسي نو بيشکه اودس نه ماتيږي ليکن که چيري دلمانځه څخه دباندي داسي شك پيدا سي نو اودس ماتيږي مګر دا قول معتبر نه دي ځکه چې په مسلم شريف کې چې کم روايت دي دهغه څخه معلومه سوه چې حکم عام دي ، په لمانځه کې دننه داسي شك پيدا سي اوکه دلمانځه دباندي په دواړو حالتو کې اودس نه ماتيږي .

**اړوند مسئلې** : که چيري په لمانځه کې دقضآء حاجت ضرورت يوڅه معلوم سي نو لمونځ دي پوره کړي او که چيري دومره غلبه يې وکړه چې دلمانځه طرف ته خيال نه

ketabton.com - The Digital Library



پاته کیدی هغه طرف ته مشغوله وو نو لمونځ دی پرېږدی ، که چیری دمخه څخه لا داسی ضرورت ورته پیښ وو نو لمونځ شروع کول ورته مکروه دی ځان دی فارغه کړی اوبیا دې لمونځ وکړی ، که ریح یعنی باد زور وکی لیکن اودس لرونکی شخص هغه راوګرځوی نو اودس نه ماتیږی .

۸۹. **پوښتنه** : یا رسول الله ﷺ دوې ښځی پر دروازه مبارکه باندی حاضری دی او پوښتنه کوی چی که دوی چیری دخپله طرفه څخه صدقه خپلو زوجو او هغو یتیمانوته ورکړی کم چی ددوی تر پرورش لاندی دی نو آیا جآئز دی اوکه نه ؟

[سوال کوونکی : حضرت بلال دپاره دزینب اویوې ښځی دانصارو رضي الله عنهما ]

**جواب** : (هغو خلګوته صدقه ورکول جآئز دی او) هغو ښځوته به دوه ثوابه حاصل سی یو دقرابت ، دنورو سره دوصله رحمی او دبل چا دخبر اخیستلو ، او دوهم دصدقې ورکولو (بخاری ومسلم باختلاف الفاظ)

**شرح** : یو وخت جناب سرورِ عالَم ﷺ په خپل وعظ اونصیحت کی ښځوته دصدقې ورکولو تاکید وفرمایې ، دعبد الله بن مسعود رضي الله عنه زوجه زینب رضي الله عنها دهغه ځای څخه راواپس سوه اوخپل زوج ته راغله او ورته وې ویل چی ته غریب سړی یې اومونږ ته حضرت اقدس ﷺ دصدقې ورکولو حکم فرمایلی دی ، اوس ته دآنحضرت ﷺ خدمت مبارك ته ورسه ددې پوښتنی جواب ورڅخه راوړه چی که چیری تاته په ورکولو سره هم زما صدقه ادا سی او ماته ثواب حاصل سی نوتاته به یې درکړم اوکه تاته یې درکول جآئز نه وه او زما صدقه نه ادا کیده نوبیا به یې بل چاته ورکم ، عبد الله بن مسعود رضي الله عنه ته خپله په تللو کی څه حیا او لحاظ ودریدی او زینب رضي الله عنها ته یې وویل چی ته په خپله ولاړه سه پوښتنه وکړه او جواب یې راوړه ، پرمبارکه دروازه باندی چی دا حاضره سوه نوګوری چی دانصارو دښځو څخه یوه ښځه تردې دمخه هلته ولاړه ده او دهمدې مسئلې پوښتنه کول غواړی ، کله چی دجناب سیّد العالَمین ﷺ دجلالتِ شان او رعب څخه هیڅوك بې له اجازې (خصوصاً ښځی) کورته دننه نسوای ورتلای ددې وجی دوی هلته ودریدی ، دده ﷺ خادم او مؤذن سیّدنا بلال رضي الله عنه دباندی راووتی نو دوی رضي الله عنهن ورته وویل چی دا زمونږ پوښتنه نبی ﷺ ته وروړاندی کړه او جواب یې راوړه مګر دامه ورته وایه چی کومی ښځی دی ، بلال رضي الله عنه ولاړی او عرض یې وکی چی دوې ښځی ددې مسئلې پوښتنه کوی ، ده ﷺ وفرمایل چی کمی ښځی

ketabton.com - The Digital Library



دی ؟ (اوس حضرت بلال رضي الله عنه ته دا لازمه سوه چي وروئې ښيي ولي چي درسول الله ﷺ دسوال جواب او دارشاد تعميل يې واجب دی) بلال رضي الله عنه عرض وکی چي يوه ښځه دانصارو څخه ده اوبله زينبه رضي الله عنه ده (کله چي زينبه دډيرو ښځو نوم وو ددې وجی) ده ﷺ وفرمايل چي کمه زينبه ؟ بلال رضي الله عنه عرض وکی چي دعبد الله رضي الله عنه زوجه ، نوبيا آنحضرت ﷺ ارشاد وفرمايی چي خپلو زوجو او يتيمانو ته صدقه ورکولای سی .

دا خبره دی واضحه وی چي يتيمان کوچنيان که چيری خپل اولاد (لکه دلور زوی اولور يادزوی زوی اولور) نه وی اودهغوی په ملك کی په اندازه دنصاب مال نه وی نوپر دوی باندی واجبی صدقې لکه زکٰوة او نور مصرفول هم جآئز دی مثلاً دخپلی زوجې اولاد کم چي دبل زوج څخه پيدا سوی وی ديوه سړی په پرورش کی وی نوپر هغه باندی صدقه او زکٰوة خرڅولای سی ، دارنګه که چيری دخپل زوج اولاد کم چي دبلی ښځی دنس څخه وی که چيری ديوې ښځی په پرورش کی وی نو هغه ته خپله صدقه او خيراتِ واجبه ورکولای سی او دنفلی صدقو مصرفول هم په دې يتيمانو باندی جآئز دی بلکه افضل او بهتر دی کم چي خپل اولاد وی (مثلا زوی ، لمسی ، پوتا او نور) .

داغه رنګه (دحقوقِ واجبه څخه پرته) که چيری دضرورت پرځای زوج زوجې ته يا زوجه زوج ته نفلی صدقه ورکړی اوکومك يې وکړی نوجآئز او ددوچنده ثواب باعث دی او غالبًا دې ښځو هم دنفلی صدقو په اړوند پوښتنه کړی وه ، ليکن واجبی صدقې (مثلاً زکٰوة) دامام ابوحنيفه رحمة الله عليه په نزد نه زوج زوجې ته ورکولای سی نه يې زوجه زوج ته ورکولای سی. البته امامِ ابويوسف او امامِ محمّد رحمة الله عليهما چي شاګردان دی دامام اعظم رحمة الله عليه فرمايی چي زوجه که چيری خپل مسکين زوج ته زکوٰة اونور ورکړی نو روا دی ، ادا کيږی ليکن داخبره دا دواړه صاحبان هم روا نه بولی چي زوج خپل زکٰوة او واجبی صدقې خپلی زوجې ته ورکړی اوفرمايی چي په دې صورت کی زکٰوة اونوری واجبی صدقې نه ادا کيږی.

۹۰. **پوښتنه** : يا رسول الله ﷺ موږ ته دبيت المقدس په اړوند فتوی راکړه (يعنی ددې سره څه معامله کول پکار دی) ؟

[سوال کوونکی : ميمونه رضي الله عنها مولاة درسول ﷺ ]

**جواب** : هلته ځی او هلته لمونځونه کوی ، او که چيری ولاړاست ليکن لمونځ مو

ketabton.com - The Digital Library



نسوای کولای (١) نوهلته تیل ور واستوه چی دهغه په قندیلو کی ولګیږی .
(ابوداؤد)

**شرح** : دشام په ملك کی دیوه نهایتی برکت مند ځای نوم بیت المقدس دی هغه ته مسجدِ اقصیٰ هم وایی، هلته ترټولو مخکی آدم ﷺ دالله ﷻ په امر سره عبادت ګاه (دعبادت ځای) جوړکی ، ترهغه وروسته هغه ځای خراب او خسته سو اونبنانې یې ولاړی ، یعقوب ﷺ پراصلی بنیادو باندی دوباره عمارت جوړکی ترده وروسته داؤد ﷺ یو عالیشانه مسجد اونهایتی مستحکم عمارت پردې ځای باندی شروع کی اوترده وروسته سلیمان ﷺ په جناتو (پیریانو) اونورو سره دا عمارت پای ته ورسوی اودهمده (سلیمان ﷺ) په نامه سره مشهور سو ، لکه چی دې (بیت المقدس) ته مسجدِ سلیمان ﷺ هم وایی ، دا ډیر برکتمند او مکرّم او معظم مسجد دی ، تربیت الله او مسجدِ نبوی ﷺ وروسته ددې مسجد درجه ده ، داځای دبعضو انبیاوو دولادت ځای دی اوډیر نبیان همدلته مدفون (ښخ) دی ، دجناب خاتم الانبیاء ﷺ تروفات وروسته چی کله په صحابه وو رضی الله عنهم کی اختلاف سو چی دی ﷺ به په کم ځای کی دفن کوو نودبعضو حضراتو رایه داهم وه چی دی ﷺ دی بیت المقدس ته یووړل سی اوهلته دی دفن کړل سی (لیکن ابوبکر رضی الله عنه نبوی حدیث دوی ته ورواوروئ او فیصله یې وکړه چی الله ﷻ چی دنبیانو ﷺ هرځای دفن کول خوښوی هم هلته یې وفات کوی، ځکه نودی مبارك ﷺ په حجرهٔ مبارکه کی دفن کړل سوپرکم ځای چی دی ﷺ وفات سوی وو) ، مقصد داچی بیت المقدس ډیر دتعظیم وړ ځای دی پرهر مسلمان باندی دوس په اندازه ددې تعظیم ضرور دی که چیری په آسانی سره ممکنه وی نو وروسته تر ادا کولو دحج او تر زیارت دروضهٔ مطهّرې دی ددې دمسجد وزیارت کولو ته ولاړسی او لمونځونه دی پکښی وکړی یادې تیل (یا دشم بتی یادهغه قیمت) ورواستوی چی هلته ولګیږی ، لیکن هلته تلل یاتیل اونور شیان وراستول صرف مستحب دی څه ضروری نه دی چی ددینی ضروری شیانو تکلیف ورته وایستل سی اوهلته تیل واستوی یاپه خپله په تکلیف سره ولاړ سی.

---

(١). دایې ځکه وفرمایل چی په هغه زمانه کی هلته په ملك کی امن نه وو ، ځای پرځای دجنګونو او قتلونو بازار ګرم وو . منه رحمه الله تعالی

ketabton.com - The Digital Library



ددې حدیث څخه دا هم معلومه سوه چې په مسجدِ کې څراغ روښانه کول جائز او دثواب باعث دی .
دجناب سرورِ عالَم ﷺ په مسجدِ مبارك کې ترټولو مخکې دده ﷺ صحابی حضرت تمیم داری رضي الله عنه څراغ روښانه او ولګوی ، نبی ﷺ چې هغه ولیدی نهایتی ډیر خوشحاله سو او وې فرمایل چې تا اسلام روښانه کی خدای تعالی ﷻ دی ستا زړه روښانه کړی او وې فرمایل چې که چیری زما کمه نا واده سوی لور وای نوستا سره به می دهغې نکاح کړی وای یوه شخص وفرمایل چې که چیری ستا امر وی نوزه به دخپلی لور سره دده نکاح وکم ، ده ﷺ اجازه ورکړه او نکاح وسوه . (وګوری علم الاولین)
۹۱. **پوښتنه** : یا رسول کریم ﷺ زه فرضی لمونځونه ادا کوم او درمضان روژې نیسم او حرام حرام بولم او حلال حلال ګڼم آیا زه به په جنت کی داخل سم ؟
[سوال کوونکی : **نعمان بن قوقل** رضي الله عنه ]
**جواب** : هو! داخل به سی . (مسلم)
**شرح** : سوال کوونکی چی کم دا وویل چی حرام حرام بولم ددې مطلب داوو چی دهغه پر حرمت او حراموالی باندی عقیده لرم اودهغه څخه ځان ساتم اودحلت او حرمت په اړوند خدایی احکام قبلوم ، نو هغه ایمانداره شخص چی دحرامو څخه پرهیز کوونکی وی او فرآئض خداوندی په پوره ډول سره ادا کوی دهغه په جنت کی دداخلیدو څه شك دی ځکه چی ګناهونه او معاصی اول دهغه څخه صادریږی نه او که یوڅه ورڅخه وسی نودهغه دښو عملونو لمونځو او روژو په وجه به هغه معاف سی او که چیری بالفرض یوه ګناه معاف هم نسی نودهغه تر سزا تیرولو وروسته به جنت ته ضرور داخلیږی ، مقصد دداسی شخص جنت ته داخلیدل په مطابق دقول دمخبرِ صادق ﷺ یقینی دی ، دزکوٰة ذکر یې ځکه نه وکی چی دهغه سره مال نه وو او حج لا په دې وخت کی پر مسلمانانو نه وو فرض کړل سوی .
۹۲. **پوښتنه** : یارسول اکرم ﷺ زه اکثره وخت همیشه (نفلی) روژې نیسم اوپه ماکی دومره طاقت سته چی په سفر کی هم روژې ونیسم نو که چیری زه په سفر کی (فرض) روژه ونیسم نوکمه ګناه خوبه نلری ؟
[سوال کوونکی : **حمز بن عمر الاسلمی** رضي الله عنه ]
**جواب** : په سفر کی روژه ماتول دخدای تعالی دطرفه څخه رخصت دی نو کم سړی

ketabton.com - The Digital Library



چې دا رخصت اختيار کړي نوداهم ښه دي او کم سړي چې روژه نيول خوښوي (او روژه ونيسي) نوپر هغه باندي هم هيڅ ګناه نسته (بخاري ومسلم وترمذي وابوداؤد باختلاف الفاظ) .

**شرح** : دنفلي روژې دنيولو او نه نيولو په هرحالت کي اختيار دی ، په سفر کي وي اوکه مقيم وي، کله چې يې زړه وغواړي ودي نيسي اوکله چې يې زړه نه غواړي نو نه دي يې نيسي ، البته درمضان روژې بعضو علماوو په سفر کي ناجائزه او بعضو ناخوښه اومکروه بللي دي ، ولي چې په بعضو احاديثو کي دجناب سرورِ عالَم ﷺ څخه دسفر دروژې څخه په نهايتي سختي سره ممانعت ثابت دی ليکن زيات صحيح او معتبر او داکثرو علماوو قول دا دی چې په سفر کي دواړه کارونه جائز دي روژه نيول هم اونه نيول هم ، ولي چې آنحضرت ﷺ بعضي وختونه په سفر کي روژه نيولې ده او بعضي وختونه يې ماته کړېده او دده ﷺ سره ملګري صحابه وو رضي الله عنهم به بعضو روژې نيولې اوبعضو به نه نيولې ، اويو پربل يې بد نه ويل ولي چې دسيد الاولين والآخرين ﷺ داقوالو او افعالو څخه يې دواړي خبري جائز ګڼلې ، لکه ددې سوال په جواب کي چې هم ده ﷺ ددواړو خبرو اختيار ورکړيدی ليکن په کم شخص کي چې دروژې نيولو طاقت وي اوپه روژه سره هيڅ قسم تکليف هم نه وي ورته نو دهغه دپاره افضله او بهتره داده چې روژه ونيسي . په احاديثو کي چې په سفر کي دروژې نيولو کم ممانعت راغلی دی هغه دداسي ځايو دپاره دي چې هلته دروژې ماتولو ضرورت وي اوپه نه ماتولو کي ديني يا دنياوي حرج ، تکليف او نقصان پيښيږي او دروژه نيولو والاوو چې کم بدوالی او مذمت ثابت دی هغه دهغه خلګو دپاره دی چې په سفر کي روژه نيسي او پرځان ډير تکليف او مشقت تيروي او ملګري حيران کړي ، مګر دالله تعالی دطرفه څخه عطا کړل سوي رخصت قبلول اوپه سفرکي روژه ماتول دي نه سپموي کوي ، لکه چې يو وخت آنحضرت ﷺ په سفر کي وليدل چې يو شخص ددرختي ترسايې لاندي داډول پروت دی لکه ديوه درد يا بل شي څخه چې ناروغ وي او خلګ يې پرشا وخوا را ټول وه ده ﷺ پوښتنه وکړه نو ورته معلومه سوه چې دروژې دسختی څخه يې دغه حال دی پردې باندي ده ﷺ وفرمايل چې په سفر کي روژه نيول کم دنيکی کار نه دی (يعني په دومره محنت او سختي برداشت کول او سره دوجوده دسخت ضرورت بياهم چې دروژې نيولو څخه نه راوګرځي دا دثواب خبره اوکار نه دی) .

ketabton.com - The Digital Library



**اړونـد مـسئلې** : ۱. پـه سـفرکې چې دکـم شـخص دروژې نيولـو څخـه دهغـه دسـفر ورفيقانو او ملگرو ته سختي او تکليف وي دهغـه دپـاره افضله داده چې روژه ونـه نيسي . ۲. کم سفرچې تر ۴۸ انگريزي ميلو کم وي پـه هغـه کـې دروژې پرېښوولو اجازه نسته ، ۳. په کمه ورځ چې پـه سفر باندي دوطـن څخـه روانيـږي پـه هغـه ورځ روژه نيول ضروري دي البته که چيري تر صبح صادق کيدو مخکې يې سفر وکې نو په دغه ورځ باندي هم روژه ماتولی سی ۴. کـه چيـري دزوال پـه وخـت (يعنـی ترتيـك غرمې يوه نيمه گنټه مخکې) يو مسافر وطن تـه ورسيدي او تراوسـه يـې يوداسـی کـار نـه وو کـړی چـی پـه روژه کـی جـآئز نـه وي اودروژې خلاف وي نوپـه هغـه ورځ باندي روژه نيول واجب دی اوکه يې چيري خوراك ، چيښاك يابـل داسـی کـار کـړی وو چی هغـه پـه روژه کـی جـآئز نـه وو نـوتر ماښـامه پـوري دخوراك اوچيښاك څخـه ځان بندول واجب دي. ۵. دسفر ترختميدو وروستـه چی کلـه مقـيم سـو نـو قـضايې نيول لازمي دی ۶. که يې چيري قضا نـه راوړه او مـرگ راغلـی نـو وربانـدي واجـب دی چی وارثانو ته وصيت وکړي چی دهری روژې پـه عـوض کـی دوه سيره غـنم پـه انگريزي سير سره مسکينانوته ورکړي ۷. که چيري يوه غـافل سـړی وصيت نـه وکـی يايې دوصيت موقع نکړه پيدا بياهم وارث دهغه دطرفـه څخـه ذکـر کـړل سـوی فديـه ورکولای سی چی دهغه په وجه به انشآء الله دهغه مړ انسان ذمه خلاصه سی ۸. کـم سړی چی په سفرکی روژې نـه وي نيـولي اوپـه همدې سفرکی مړسـو يـا وطـن تـه تـر رسيدو وروسته پدستی مړسو دهغـه پرذمـه بانـدي هـيڅ نـه دي لازم ځکـه چـی ده تـه ترسفر وروسته دادا کولو موقع پـه لاس نـه ده ورغلـی ۹. کـه يـې چيـري ډيـري روژې پـه سفر کی نه ونيولي او وطن تـه چـی ورسيدی نوصرف يوڅو ورځـی ژونـدی پاتـه سو نو صرف ددومره روژو صدقه ورکول دهغه دطرفه څخـه واجبيـږي څـومره ورځـی چی دی وطن ته راغلی صحيح او جوړ اوسيدلی دی (دروژې مـسئلې او متعلقـات دې فقيـر ليکـونکی پـه خپلـه مختـصره رسـاله فرحـة الـصّآئمين کـی نهـايتی صـاف صاف بيان کړيدي) .

۹۳. **پوښتنه** : ای نبی کريم ﷺ تاسی وفرمایاست چی کـه چيـري يوشـخص راسـی او زما مال وړل غواړی نو څه وکم ؟ کـه يـې چيـري زمـا سـره جنـگ اوجدل کـوی نوڅـه وکم ؟ اوکه يې چيري مړکړم نوڅنگه به سم ؟ او کـه چيـري مـا هغـه مړکـی نوهغـه بـه څنگه سی ؟ [سوال کوونکی: يوشخص په روايت دابی هريرة رضي الله عنه]

ketabton.com - The Digital Library



**جواب** : ته هغه ته خپل مال مه ورکوه (دخپل وس تراندازې پورې دمال حفاظت کوه ، که جنگ وسو نو) ته یې هم مقابله کوه او جنگ ورسره کوه که هغه ته مړ کړې نو ته شهید سوی ، اوکه تا هغه مړکی نوهغه به جهنم ته ولاړ سی. (مسلم)

**شرح** : ددې حدیث څخه دخپل ځان اومال (اواهل اوعیال) دحفاظت حکم او فضیلت ثابتیږی او معلومه سوه چې دخپل مال اوځان دحفاظت دپاره که چیری یوڅوك غل یا راهزن (لار نیوونکی) اویل بل څوك مړ کړی یایې زخمی کړی نوپردې باندی گناه نسته لیکن دکم قیمته او سپکو شیانو دحفاظت دپاره دغله وژل بالکل نه دی روا او دده دپاره جهنم ته دتگ حکم ده ﷺ ځکه وفرمایی چی هغه دبل چا دمال وړلو دپاره په ناحقه ډول راغلی وو کمه چی ډیره لویه گناه او معصیت دی ، او ښکاره ده چی ترتوبه کولو مخکی مړسو نوددې گناه او دخپلو نورو مخکنیو گناهونو دسزا تیرولو په وجه به هغه دوږخ ته ځی ، لیکن که چیری ایمانداره وو نو تر سزا تیرولو وروسته به بالآخره بیرته جنت ته ورسیږی .

۹۴. **پوښتنه** : یا رسول الله ﷺ دمردار سوی شی چربی پر کښتیو باندی لگول کیږی پر چمړی باندی مښل کیږی او خلگ هغه په څراغ کی لگوی ددی څه حکم دی ؟ [سوال کوونکی: بعضی صحابه په روایت دجابر بن عبد الله رضي الله عنهما ]

**جواب** : داسی کول هیڅ وخت نه دی پکار هغه خو حرام دی ، پرکمبختو یهودیانو باندی خدای پاك ﷻ چربیانی حرامی کړی نو هغوی به دا جلا کولی او خرڅولی او دهغه قیمت به یې په کار راوړی . (نسآئی)

**شرح** : دمردارو او حرامو حیوانانو چربی (وازگه) اوغوښی بالکل حرامی دی دهغه خوړل نه دی روا اونه په بل ډول باندی دهغه څخه نفع اخیستل روا دی نه یې په څراغ کی سوځولای سی نه موم بتی ورڅخه جوړولای سی نه یې پر کښتۍ یابل شی باندی مښلولای سی اونه یې رانیولای او خرڅولای سی ، یهودیانو کم چی ډیر سرکښه قوم وو او په الٰهی احکامو کی به یې طرح طرح حیلې اوحوالې را ایستلی پرهغوی باندی الله تعالی دحلالو حیوانانو چربی حرامه کړی وه دوی به هغه پراور باندی ویلی کړه اوبیا به یې سره یوځای کول او پردې به یې بیا بل نوم ایښی وو او بیا به یې خرڅوله اودهغه پیسې به یې په خپل کار خرڅولی او ویل به یې چی خدای تعالی چربی حرامه کړیده موږ خو دهغه قیمت خورو په خپله چربی او وازگه خو نخورو ، حالانکه دهغه خرڅول او رانیول او قیمت او نور ټوله حرام وه ، دچربی

ketabton.com - The Digital Library



دذکر پر وخت جناب سرورِ عالَم رسول الله ﷺ ته دهغو خلګو حال ورپه یاد سو او په بد دعا ورته کولو سره ده ﷺ هغه حال بیان کی ، البته دحرامو حیوانانو پوست او دارنګه دحلالو حیوانانو پوست کم چی بې له ذبح (په خپله) مړه سوی وه تر پخولو وروسته بالکل پاکیږی دداسی پوست خرید او فروخت تر رنګولو دمخه ناجآئز دی ، دکومو حیوانانو چی غوښی حلالی دی اوذبح سوی هم وی دهغوی پوست مخکی تر رنګ کیدو هم پاك دی او خرید او فروخت یې هم جآئز دی .

**مسئله** : ترمږ کیدو یا ترپړې کیدو او جلا کیدو وروسته دانسان دهیڅ اندام او جزء څخه نفع اخیستل روا نه دی او دهغه پوست په رنګ ورکولو سره هم نه پاکیږی .

**مسئله** : دکوچنی کوچنی حیوانانو لکه موږك ، ګلهری ([1]) اونور دهغو پوست درنګ کولو ([2]) قابل نه دی ، او دخنزیر پوست په رنګ کولو سره نه پاکیږی .

**مسئله** : پاك تیل ، غوړی او وازګه که چیری ناپاکه وی نو دهغو خوراك نه دی جآئز لیکن پرکښتیۍ یا نورو شیانوکی یې غوړی ورکول یاپه یوه بل کار کی یې لګول یا یې په څراغ کی سوځل جآئز دی لیکن دمسجد په څراغ کی یې سوځول هم نه دی جآئز .

**مسئله** : دناپاکه سوو تیلو او نورو شیانو خرید او فروخت هم حلال دی په دې شرط چی خریدار (رانیوونکی) ته خبر ورکړی .

۹۵ . **پوښتنه** : یا رسول الله ﷺ ماته داسی عمل راوښیه چی هغه ما جنت ته نژدی کړی او ددوږخ څخه می لیری کړی (یعنی یوه داسی خبره یا تدبیر راته وښیه چی دهغه په وجه په جنت کی داخل سم او ددوږخ څخه نجات ترلاسه کړم) .

[سوال کوونکی: یواعرابی په سفرکی په روایت دابو ایوب رضی الله عنه ]

**جواب** : دالله تعالٰی عبادت کوه هیڅوك دهغه سره مه شریکوه او فرض لمونځ قآئموه (یعنی په پابندی او احتیاط سره یې ادا کوه) او فرض زکوٰة ورکوه او درمضان روژې نیسه او وصله رحمی کوه . (مسلم وبخاری)

---

([1]). ګلهری : دموږك په مثل سره یو حیوان دی په رنګ او غټ والی کی ، لیکن پربدن باندی یې تور تور ټکی وی ، او پر درختو باندی اوسی . مترجم عفی الله عنه

([2]). دمار دپوست هغه سپین شیان چی دلوړی خوا څخه یې راوزی هغه پاك دی مګر خوراك یې ناجآئز دی . منه رحمه الله تعالی

ketabton.com - The Digital Library



**شرح** : یو وخت آنحضرت ﷺ پر خپلی اوښی باندی سپور ولاړ وو یو دځنګل اوسیدونکی شخص (چی هغه ته اعرابی او بدوی وایی) راغی دده ﷺ داوښی مهار یې ونیوی او دا سوال یې وړاندی کی ، ده ﷺ حاضرینو ته وفرمایل چی الله تعالی ده ته دنهایتی عمده سوال کولو توفیق ورکړیدی او دهغه دسوال ده ﷺ داسی مفید او جامع جواب ورکی چی ترهغه ښه جواب ممکن نه دی ، داسی عمل یې وروښووی چی ترهغه لوړ هیڅ بل تدبیر نسته ولی چی دشرك څخه ځان وساتی او دالله ﷻ پرعبادت باندی قآئم سی او دفرآئضِ خداوندی او دضروریاتو داسلام ادا کول جنت ته دداخلیدو عمده او اصلی تدبیر دی هغه چی هیڅکله نه خطا کیږی ، دالله ﷻ پر عبادت باندی دقآئم پاته کیدو دحکم ورکولو سره سره یې دشرك دپرېښوولو په خاص طور سره ددې وجی تاکید وفرمایی چی دعربو کفارو به دخدای تعالی عبادت هم کوی او ددرواغو معبودان به یې دخدای تعالی سره شریك جوړول ددې عقیدې باطل کول ده ﷺ ته منظور وه ، دجواب ترختم کیدو وروسته ده ﷺ وفرمایل چی بس اوس داوښې مهار ایله کړه .

۹۲. **پوښتنه** : یا رسول الله ﷺ کله چی نن ورځ (داختر تر لمانځه وروسته دډیروالی په وجه) دغوښو خاص قدر نه وی ددې وجی ما تلوار وکی او ترلمانځه دمخه می خپل قربانی ذبح کړه ددې دپاره چی په خپل اهل او عیال او همسایګانو باندی غوښی وخورم ، زما قربانی ادا سویده که نه ؟

[سوال کوونکی: ابوبرده یعنی حارث بن عمره رضي الله عنه وروسته ترلمانځه دلوی اختر]

**جواب** : کمه بزه چی تا ترلمانځه دمخه ذبح کړیده هغه دقربانۍ دپاره نسوه بلکه (دعادی) غوښو دپاره سوه اوس دهغه پرځای بله حلاله کړه . (بخاری ومسلم وترمذی وغیره)

**شرح** : کله چی ده ﷺ ابو برده رضي الله عنه ته دا ارشاد وفرمایه نوهغه رضي الله عنه عرض وکی چی یا حضرت ! زما سره ترپوره یوه کال دکم عمر (۱) دبزې بچۍ دی چی هغه تر غوښو ورکوونکو دوو سرلیانو هم ښه دی ، ده ﷺ ورته وفرمایل چی ښه نوته هغه ذبح که لیکن دبل چا دپاره ستا څخه ماسوا دا جآئز نه دی او تردې وروسته ده ﷺ دا عامه قاعده وفرمایل چی کم سړی چی تر لمانځه دمخه ذبحه وکړه هغه

(۱). په حدیث شریف کی لفظ دعِنَاقُ لِبْنٍ راغلی دی چی دهغه معنی داده چی ترپوره کال کم عمر والا هغه چی اوس لا هم شیدې چیښی یایې تازه شیدې پرې ایښی وی . منه رحمه ربّه

ketabton.com - The Digital Library



دخپل ځان دپاره ذبح کوی یعنی قربانی یې نه ادا کیږی بلکه غوښې به یې دده پکار ورسی او کم سړی چې ترلمانځه وروسته ذبح وکړی دهغه قربانی پوره سوه او هغه دمسلمانانو په طریقې (یعنی ذبح بعد الصلوٰة) سره عمل وکی .
دقربانۍ دپاره اوښ تر پنځو ۵ کلو کم نه دی روا ، اوغویۍ او غوا اوګامیښه تر دوو ۲ کلو کمه نه ده روا اوبزه یاپسه یامیږه دپوره کال ترعمرکم ناجآئزدی. البته دپسه بچۍ (وریۍ) کم چې پوره دشپږو میاشتو سوی وی او داسی چاغ او قوی وی چې که چیری دیوه کال دعمر والا پسونو سره ایله کړل سی نو فرق یې نسی کیدی چې دا کم عمره دی ، نودداسی وری قربانی هم جآئز ده لیکن بزه ترپوره یوه کال دعمر څخه چې کمه وی په هیڅ ډول نه ده جآئزه ، لکه ده ﷺ چې ابوبرده رضی الله عنه ته دشپږ میاشتنی بزې دبچې دقربانی کولو اجازه ورکړه او ورسره یې داهم وفرمایل چې ستا څخه ماسوا دبل چا دپاره جآئز نه ده .
**مسئلې** : ۱. داختر ترلمانځه دمخه دقربانی دناجآئز کیدو مسئله کمه چې ددې حدیث څخه معلومه سوه هغه یوازی دښار دپاره ده په داسی کوچنیو کلیو او باندړو کی چې هلته داختر او جمعې لمونځ نه کیږی وروسته تر راختو دصادقو سپیدو قربانی جآئز ده، **حیله**: که چیری په یوه وجه باندی دښار اوسیدونکوته دژر قربانی کولو ضرورت وی نودخپل قربانۍ حیوان دی ترښار دباندی لیری یوه ځنګله یا یوه داسی کوچنی کلی ته واستوی چې هلته داختر لمونځ نه کیږی هلته دی دده خادم او ملازم دلوی اختر دمیاشتی دلسم تاریخ دسپیدو ترراختو وروسته ذبح کړی او بیادې یې ښارته راوړی ۳. که چیری داختر ترلمانځه وروسته اوتر خطبې دمخه یې ذبح وکړه نوجآئز خودی لیکن مستحب داده چې دخطبې تر ختمیدو وروسته یې ذبح کړی ۴. که چیری په لسم تاریخ یې داختر لمونځ پو یووجه سره نکی ادا نوپه دې ورځ چې کله دلمانځه وخت تیرسو (یعنی ترزوال وروسته) ذبح کول جآئز دی ۵. که چیری دلوی اختر لمونځ په یوولسم یا دوولسم (۱) تاریخ باندی ادا کړل سو نو ترلمانځه دمخه ذبح کول هم جآئز دی ۶. که چیری په ښار کی پریوه ځای باندی داختر لمونځ سوی وو لیکن په بل ځای کی لا تراوسه نه وو سوی بیا هم ذبح کول جآئز دی ۷. ذبح کول که څه هم چې تردوولسم تاریخ پوری جآئز دی لیکن بهتره

(۱). دباران او داسی بل شی په وجه باندی تر یوولسم او دوولسم تاریخ پوری دلوی اختر لمونځ ځنډول جآئز دی . منه رحمه الله تعالی

ketabton.com - The Digital Library



اولـه ورځ يعنـی لـسم تـاريخ دی ۸. دشپې ذبـح کـول جـآئز دی لـيکن مکـروه دی ۹. چرګه يا هيلۍ اونور داسی شيان دقربانی پـه نيت ذبـح کـول سخت مکروه دی (۱) ۱۰. پـه غوا غوايي او نورو کی اوه کسان شريکيدی سی ، مستحب داده چی ټول سره يوځای يی او حيوان رانيسی ۱۱. که چيری يوه رانيوی بيا نورو خلګو هم پـه هغه کی شرکت وکی نوهم جآئز دی ۱۲. که چيری پـه يوه غـوايي کـی څلور يا پنځه شريك سی او دټولو حصه برابره وی بيا هم جآئز دی اودا هم صحيح دی چی يو شخص ددوو درو حصو خريدار سی اوپاته خلګ ديوې يوې حصې خريداران سی ۱۳. که چيری دغوايي داوومی حصې قيمت اودبزې قيمت سره برابر وی اوغوښی يې هم برابری وی نوبيا بزه رانيول افضله دی ۱۴. تربزې پسه افضله او بهتره دی ۱۵. پـه بزو او اوښانوکی دمادې قربانی تر نر افضله او بهتره ده وعلی هذا القياس تر غوايي غوا بهتره ده ۱۶. دکمی قربانۍ چی قيمت زيات وی هغه بهتره ده او کـه چيری دوه حيوانان پـه قيمت کی برابر وی لـيکن ديوه غوښی زياتی وی نوبيا هغه افضله او بهتره دی ۱۷. کـه چيری دوې ډنګری بزې هم پـه دغـومره قيمت باندی کيږی او يوه چاغه اوتازه هم پـه دغـومره قيمت اخيستل کيږی نويوه چاغه رانيول افضل او بهتر دی ۱۸. دعيب داره حيوان قربانی جآئز نـه ده لـيکن کـه چيری دذبح پـه وخت کی دغورځيدو او راکشيدو څخه عيب داره سو نوبيا هيڅ منع نستـه پکښی ۱۹. يـوه دريمه حصه غوښی تقسيمول مستحب دی لـيکن دعيال داره او قبيلـه داره شخص دپاره همدا بهتره ده چی صدقه يې نکړی بلکه دخپل اهل او عيال دپاره ټولـه غوښی پريږدی ۲۰. دمړی دطرفه څخه قربانی جآئز ده لـيکن کـه چيری دخپل طرفه څخه دهغه دثواب دور رسولو دپاره يې کوی نوبيا ددې هغه حکم دی کم چی دخپلی قربانۍ وی يعنی څومره قدر چی وغواړی هغه دی صدقه کړی اوڅومره قدر چی وغواړی هغه دی کښيږدی او کـه يې چيری دمړی دوصيت دوجی څخه کوی نوددې څخه خوراك نه دی جآئز بلکه ټوله غوښی اونور شيان يې صدقه کول پکار دی، علی هذا القياس کـه يې چيری نذر منلی وو چی قربانی بـه کوم دهغه دپوره کولو پـه واسطه چی کمه قربانی کوی دهغه څخه هم خوراك نـه دی جآئز ټوله به صدقه کوی .

* * *

(۱). پـه دې سره قربانی هم نه ادا کيږی . منه رحمه الله تعالی

ketabton.com - The Digital Library



**فائده دپاره دطالبانو** : په بعضو روایاتوکی دی چی: هٰذَا يَوْمٌ اَللَّحْمُ فِيْهِ مَقْـرُوْمٌ یعنی دنن ورځی غوښی نهایتی مرغوبی وی اوپه بخاری شریف کی دی چی هٰـذَا يَـوْمٌ يَشْتَهٰى فِيْهِ اللَّحْمُ ددې روایتو دا مطلب دی چی دا داسی ورځ ده چی دعادت په وجه دهر شخص زړه غوښی غواړی او دمکروه روایت دکم چی احقر ترجمه کړیده دهغه دا مطلب دی چی ترلمانځه وروسته غوښی څه قدر نه پاتیږی هرشخص په خپله قربانی کوی یا دیوه بل ځای څخه هرسړی ته رسیږی ددې وجی ما ترلمانځه دمخه ذبح کړه ددې دپاره چی خلک یې په خوشحالی سره یوسی او پخې یې کړی .

۹۷. **پوښتنه** : ای هادی برحق ﷺ ! دا وفرمایه چی داسلام کم خوی (اوعمل) بهتره دی ؟ [سوال کوونکی: ابوذر یاهانئ بن مرثد په روایت دعبدالله بن عمر رضي الله عنهم]

**جواب** : دا اسلامی عمده خوی دی چی ته په خلګو خوراك خوره او هرشخص ته سلام کوه چی څوك پیژنی هغه ته هم او چی څوك نه پیژنی هغه ته هم (بخاری ومسلم)

**شرح** : اسلامی خویونه بیخی ډیر دی لیکن پیغمبر ﷺ دسوال کوونکی دحال سره مناسب او لائق دا خوی او طریقه وروښووله ، په ضرورت او حاجت کی خلګوته خوراك ورکول هم دلوړی درجې عمل دی ځکه چی مال خرڅول پرنفس باندی ډیر شاق او تکلیفی وی اوپه سلام کولو سره دمسلمانانو په مابینځ کی محبت زیاتیږی چی دهغه څخه ډیری فآئدې دینی او دنیوی حاصلیږی لیکن ده ﷺ ارشاد وفرمایی چی په سلام کولو کی دشناخته او بیګانه لحاظ مه کوه بلکه اسلامی حق یې بوله اومسلمان ته یې ورکوه برابره خبره ده که هغه شناخته وی اوکه ناشناخته ، که څه هم چی دلته دمطلقا سلام ورکولو حکم فرمایل سویدی چی دهغه څخه په ښکاره دا معلومیږی چی فاسق ، فاجر بلکه کافر ته هم سلام اچول پکار دی لیکن دنورو دلائلِ شرعیه وو څخه او احادیثو څخه معلوم سویدی چی دې خلګوته سلام جآئزنه دی اوبعضی علمآء دا فرمایی چی داسلام په ابتدآء کی هرشخص ته دسلام کولو حکم وو ددې دپاره چی دخلګو داسلام سره محبت او الفت پیدا سی کله چی الله تعالی اسلام قوی کی نوکافر اومشرك ته سلام کول ممنوع سول او فاسق او فاجر ته سلام کول مکروه سوه .

۹۸. **پوښتنه** : یا رسول الله ﷺ بِرّ (یعنی نیکی) څه ده او اِثم (یعنی ګناه) څه ده ؟

ketabton.com - The Digital Library



[سوال کوونکی : نواس بن سمعان الکلابی رضی الله عنه ]

**جواب** : بِرّ ښه اخلاق دی اوګناه هغه ده چی ستا په زړه کی راوګرځی اودا خبره نه خوښوی چی خلګ په هغه باندی خبر سی . (مسلم)

**شرح** : د بِرّ دلفظ څو معناوی کیدلای سی وصله رحمی ، اوسلوك اواحسان اوښه کولو ته هم ویل کیږی اونیکی او اطاعت او فرمانبرداری ته هم ویل کیږی ، نو آنحضرت ﷺ دحُسنِ خلق لفظ داسی جامع لفظ وفرمایۍ چی هغه په دې ټولو شیانو کی ښکاره دی بلکه په حقیقت کی دا ټوله دحُسنِ خلق نتیجې دی کله چی دخدای ﷻ دطرفه څخه ورکړل سوی ملکې اوطبعې اخلاق ښه وی نودقریبانو سره وصله رحمی او دمسلمانانو سره ښه سلوك او احسان اونیکی او مروت هرڅه پیدا کیږی اودحقیقی مالك اومنعم عبادت او طاعت اودظاهری بادار او آقا او احسان کوونکی فرمان برداری هم دزړه څخه کیږی ، مقصد داچی کله په اخلاقو کی حسن وی نو دبِرّ افعال په خپله ښکاره کیږی ، داِثم یعنی ګناه په اړوند چی کم دا ارشاد فرمایل سویدی چی ګناه هغه ده چی په زړه کی وښوری یعنی دهغه په کولوکی په زړه کی شك پیدا سی او دناجآئز کیدو بیره یې پیداسی اودهغه په اړوند دسینې خلاص والیۍ نه وی یعنی زړه نسی خلاص چی بې له خطرې یې وکړی اوتیر سی په حقیقت کی دګناه همدغه علامه ده اوبې له شبهې زړه پیدا کوونکی رب ﷻ داسی جوړ کړیدی چی هغه دګناهونو څخه تنګیږی اودګناه په وخت کی زړه ته داسی خلاص والیۍ او فرحت او اطمینان هیڅکله نه حاصلیږی لکه دخیر دکارو او روا کارو دکولو په وخت کی چی وی ، لکه په بل حدیث کی چی ارشاد سویدی چی بِرّ هغه دی دکم طرفته چی نفس او زړه مطمئن سی او اِثم هغه دی چی په زړه کی ښوری اوزړه دهغه وطرف ته په مآئل کیدو اودهغه په کولو کی متردد او شکمن وی لیکن داټولی خبری ترهغه وخته پوری وی ترڅو چی زړه پرخپل حالت او فطرت باندی پاته وی دبدو اعمالو څخه چی کله پر هغه باندی دخباثت رنګ اودګناهونو زنګ راوڅرخیږی نوبیا هغه ترلویه لا پرلویه ګناه باندی نه ښوری اوهیڅ شك او تردد هم نه پیښیږی بلکه بې باکه کیږی ددې وجی علماوو فرمایلی دی چی دا جواب او علامه دهغو زړو په اړوند ارشاد فرمایل سویدی کم زړونه چی سالم او صفا وی (هغه چی پرخپل اصلی حالت او فطرت باندی پاته وی) دنورو زړو اعتبار نسته لکه چی په دې ارشادِ نبوی ﷺ : اِستَفتِ نَفسَكَ (یعنی دخپل زړه څخه فتوا

ketabton.com - The Digital Library



وپوښته) کې هم همدغه خاص زړونه مراد دي دعوامو دزړو اعتبار نسته ، على هذا القياس دګناه پټولو او دخلګو دخبریدو بد ګڼلو زمانه هم تر هغه وخته پورې ده چې څه حیا باقي وي اوکه نه وي نو داعلی درجې فسق او فجور نوبت راځي نو بیانه دخدای ﷻ بیره پاتیږي اونه دانسانانو څخه شرم . رَبَّنَا لاَ تُزِغْ قُلُوْبَنَا بَعْدَ إِذْ هَدَيْتَنَا وَهَبْ لَنَا مِنْ لَّدُنْكَ رَحْمَةً إِنَّكَ أَنْتَ الْوَهَّابُ .

**تنبیه** : دخلګو دخبریدو بد ګڼل چې کله دکمی بلې وجې څخه وي نو دګناه علامه نه ده مثلاً مال پټ ایښوول غواړي چې په حفاظت کې وي دسرای رانیولو اراده پټه ساتل غواړي چې یوبل خریدار بې پیدا نسي (اوګران نسي) ، په طالبانه طرز سره داسې ووایه چې دا خاصه نه ده صرف علامه ده .

۹۹. **پوښتنه** : یا رسول الله ﷺ که چیرې موږ خپل نر دجفتې کولو دپاره په کرایه ورکړو نو جآئز دي اوکه یا ؟

**جواب** : داسې کول هیڅ کله نه دي پکار (ترمذی شریف)

۱۰۰. **پوښتنه** : یا رسول الله ﷺ موږ خپل نر پر ماده باندې ایله کوو بیا دمادې مالك موږ ته څه نذرانه او تحفه راکوي دا اخیستل روا دي او که نه ؟

**جواب** : ددې داخیستلو اجازه ده (ترمذی شریف)

[سوال کوونکی ددواړو سوالو : یوشخص دقبیلې څخه دکلاب ]

**شرح** : بعضې خلک مختلف قسمونه قوی نران مثلاً آس، اوښ، غویی، اونور پالي، خلک دښه تخم وړلو او نسل ډیرولو دپاره دمالکانو سره مزدوری معلومه کړي او خپله ماده وهغه نرته ور ایله کوي ، حضرت سیّد الثقلین ﷺ ددې ممانعت وفرمایی (ولې چې دا معامله په حقیقت کې دهغه نطفې غیر معلوم المقدار بیع ده کم چې دبآئع په اختیار او قبضه کې نه ده) نودا قسم أجرت مکروهِ تحریمې سو ، کله چې دا مسئله معلومه سوه نو سوال کوونکی بل صورت عرض کړي چې بعضې وختونه خاص رعایةً بې له کمی معاوضې مقرر کولو نر حیوان ددې کار دپاره په خواست ورکول کیږي بیا پر هغه وخت باندې یاپه بل وخت کې هغه خلک په ډول دانعام دنر حیوان ومالکانو ته څه نقدي یا یو شي ورکوي دارنګه اخیستل روا دي او که نه ؟ آنحضرت ﷺ وفرمایل چې دارنګه یې اخله جآئز دي ، ولې چې په دې کې هیڅ عقد او معاوضه نه ده مقرره کړل سوې بلکه په ډول د : هَلْ جَزَآءُ الْاِحْسَانِ

ketabton.com - The Digital Library



الاَّ اْلاِحْسَان ، يوڅه ورکول کيږي کم چي په شريعت کی خوښ کړل سويدی .

۱۰۱ . **پوښتنه** : يا رسول الله ﷺ ارشاد وفرمايه چي که چيری زه دوباره حاضرسم او تا (ﷺ) نکړم پيدا (يعنی که په هغه وخت کی ستا وفات سوی وی) نوڅه وکړم ؟

[سوال کوونکی : يوه ښځه نامعلوم نامی په روايت دجبير بن مطعم رَضِيَ اللهُ عَنْهُ ]

**جواب** : که دی چيری زه نکړم پيدا نو ابوبکر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ ته ورځه . (بخاری ومسلم)

**شرح** : دې ښځی دجناب سرورِ عالَم ﷺ څخه يوڅه پوښتنی کړی وی ده ﷺ ورته وويل چي بيا راسه په هغه وخت کی به بيا جواب درکم (يا هغې ديوشی سوال کړی وو او ده ﷺ ورته وفرمايل چي په اوس وخت کی نه دی موجود بيا راسه چي دريې کړم) غالبًا داپه يوليری ځای کی اوسيده اووه هم هوښياره ددې وجی يې دا پوښتنه هم وکړه چي که چيری اتفاقًا ته ﷺ په هغه وخت کی په دې دنيا کی نه وی موجود زما دمقصد پوره کول به څوك وکړی ده ﷺ ورته وفرمايل چي ابوبکر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ . لکه څنګه چي دآنحضرت ﷺ دډيرو افعالو اواقوالو څخه دابوبکر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ وخليفه کيدو اوځای ناستی کيدو ته اشاره کيږی دارنګه په دې حديث کی هم اشارةً معلوميږی چي ابوبکر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ به دده ﷺ نائب او قائم مقام کيږی .

**عجيبه روايت** : يو وخت آنحضرت ﷺ ديوه صحرائی څخه يوڅو اوښان په قرض واخيسته چي قيمت به يې فلانیٰ وخت درکړم . علی رَضِيَ اللهُ عَنْهُ بدوی ته وويل چي ولاړ سه دآنحضرت ﷺ څخه پوښتنه وکه چي که چيری زه ستا تروفات وروسته راغلم نوزما قرض به څوك را ادا کوی هغه ولاړی عرض يې وکی نو ده ﷺ ورته وفرمايل چي ابوبکر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ به يې ادا کوی . صحرائی ولاړی علی رَضِيَ اللهُ عَنْهُ ته يې دا خبره وکړه ، نوهغه رَضِيَ اللهُ عَنْهُ ورته وفرمايل چي بيا ولاړ سه پوښتنه وکړه چي که چيری دابوبکر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ تر وفات وروسته راغلم نو قرض به می دکمه کوم ؟ هغه ولاړی همدا سوال يې وکی نوسرورِ عالَم ﷺ وفرمايل چي عمر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ به يې در ادا کړی ، صحرآئی علی رَضِيَ اللهُ عَنْهُ ته راغی اوبيان يې ورته وکی نوده رَضِيَ اللهُ عَنْهُ ورته وفرمايل چي دا وار ولاړ سه او پوښتنه ورڅخه وکړه چي که چيری دعمر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ دوفات څخه وروسته راسم نو څوك به يې را ادا کوی ؟ ددې جواب رسولِ مقبول ﷺ دا ورکی چي عثمان رَضِيَ اللهُ عَنْهُ به يې در ادا کوی ، صحرآئی راغی بيايې حضرت علی رَضِيَ اللهُ عَنْهُ ته دا خبره وکړه نوده رَضِيَ اللهُ عَنْهُ ورته وفرمايل چي بيا ولاړ سه او عرض وړاندی کړه چي که چيری دعثمان رَضِيَ اللهُ عَنْهُ تر وفات وروسته راغلم نوقيمت به يې

ketabton.com - The Digital Library



ځوك را ادا کوی ؟ هغه بیا حاضر سو او دا پوښتنه يې وکړه نو حضرت سرورِ عالَم ﷺ وفرمایل چی کله ابوبکر او عمر او عثمان رضي الله عنهم مړه سی نو که چیری کیدی سوای نوته هم مړسه (یعنی کله چی داسی حضرات ددنیا څخه پورته سی نو ستا په ژوندی پاته کیدو کی څه فآئده ده ته هم مړسه ، یادا چی دومره موده به ته چیری ژوندی پاته سی مړبه سی ، مقصد دا چی دا وار دوار وار سوال کولو په سبب سره ده ﷺ دخفګانه څخه داسی جواب ورکی). رواه اسماعیل فی معجمه

۱۰۲. **پوښتنه** : ای رسول الله ﷺ جنت ته به کم خلگ ولاړ سی ؟

[سوال کوونکی : (۱) ]

**جواب** : نبی به جنت ته ځی ، شهید به جنت ته ځی ، کوچنی بچیان به جنت ته ځی او ژوندی ښخی سوی انجونی به جنت ته ځی . (ابوداؤد)

**شرح** : دانبیاوو په جنتی کیدو کی خو هیڅ خبره نسته ، او شهیدان به هم دزیری او وعدهٔ خداوندی موافق جنت ته ځی . دکم عمره مړه سوو کوچنیانو په اړوند دبعضو علماوو دا قول دی چی دمومنانو کوچنیان به جنت ته او دکافرانو کوچنیان به دوږخ ته ځی او داکثرو علماوو کم چی درحمت دپراخی او دالله تعالی درحم او کرم سره زیات مناسب دی هغه دادی چی برابره خبره ده که دمومنانو کوچنیان وی اوکه دکافرانو وی ټوله به جنت ته ځی لکه چی په دې حدیث شریف کی هم دکفر او ایمان تفصیل نسته بلکه په عام طور سره کوچنیانو بچیانو ته دجنت دداخلیدو

(۱). په اُردو فتاوی محمدی ﷺ کی ددې سوال دپوښتونکی نوم نه دی ذکر کړل شوی ، خو دا روایت په ابوداؤد شریف په کتاب الجهاد ، باب فی فضل الشهادة کی ذکر دی حدیث رقم (۲۱۵۹) او عبارت دحدیث شریف هلته دا دی :

حَدَّثَنَا مُسَدَّدٌ حَدَّثَنَا يَزِيدُ بْنُ زُرَيْعٍ حَدَّثَنَا عَوْفٌ حَدَّثَتْنَا حَسْنَاءُ بِنْتُ مُعَاوِيَةَ الصَّرِيْمِيَّةُ قَالَتْ حَدَّثَنَا عَمِّي قَالَ قُلْتُ لِلنَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَنْ فِي الْجَنَّةِ قَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِي الْجَنَّةِ وَالشَّهِيدُ فِي الْجَنَّةِ وَالْمَوْلُودُ فِي الْجَنَّةِ وَالْوَئِيدُ فِي الْجَنَّةِ .

نو پوښتونکی يې دحسناَء بنت معاویة اکا دی ، او داکا نوم يې لکه په عون المعبود ج ۷ ص ۱۴۱ (طبع: دار الکتب العلمیة ، بیروت) کی چی علامه ابو الطیب شمس الحق عظیم آبادیؒ لیکلی دی ، أسلم بن سلیم وو . نو پوښتونکی ددې سوال أسلم بن سلیم سو .

او دا حدیث شریف همدا ډول په مسند احمد (مسند البصریین) کی په رقم (۱۹۲۷۴) او همدارنګه په باقی مسند الانصار کی په رقم (۲۲۳۷۸) کی روایت کړل سویدی. حقّانی غفرالله له

ketabton.com - The Digital Library



زیری ورکول سویدی . امامِ ابو حنیفه رَحِمَهُ اللهُ عَلَیهِ په دې مسئله کې توقف فرمایلی دی ، یعنی دمومن کوچنی وی اوکه دکافر دهیڅ یوه په اړوند هم دا حکم په یقینی ډول سره نسی ورکول کیدی چی دا جنتی دی اوکه دوږخی یوازی الله تعالی ته معلوم دی ، داحادیثو دکتابو په شروحو کی دا بحث په تفصیل سره موجود دی چی دهغه څخه معلومیږی چی که څه هم چی ټولو علماوو دخپل قول تایید په احادیثِ نبویه وو سره کړیدی لیکن دامامِ ابو حنیفه رَحِمَهُ اللهُ عَلَیهِ مسلك دټولو احادیثو سره موافق او ترټولو اقوالو بهتره او نهایتی رقیق او نرم دی .
دژوندی ښخو سوو انجونو مرګ چی کله دډیر رحم او افسوس قابل وی او اکثره هغوی کم عمری او کوچنیانی وی او وژل کیږی ددې وجی رحمتِ خداوندی دې مظلومو اومعصوموته په آخرت کی دجنت زیری ورکی ، په عربو کی قانون وو چی دپیدا کیدو سره سم به یې انجونی ژوندی ښخولی او که به چیری اتفاقًا هم یوه انجلۍ ددې (ښخیدو) څخه خلاصه سوه نوبیا چی به یې پلار کله موقع پیدا کړه نو ژوندۍ به یې قبر ته واچول ولی چی ده ته ددې څخه نهایتی پیغور ورتلی چی خپله لور دیوچا زوجه جوړه کړی او یو شخص خپل زوم جوړ کړی ، داسلام دین پرلپسی احکام نازل کړه دا سخت او دظلمه څخه ډك رواج یې بالکل خراب کی او ویې ښوول چی دا خبری دپیغور قابلی نه دی ، دپیغور لائقی نوری خبری دی چی هغه خدای تعالی حرام کړیدی .
۱۰۳. **پوښتنه** : یا رسول الله ﷺ داسی کم شی دی چی په هغه سره ماته دشیدی را کوونکی حق زما دذمې څخه ادا سی .
[سوال کوونکی: حجاج بن حجاج اسلمی رَضِيَ اللهُ عَنهُ ]
**جواب** : یوه عمده او اصلی مریی یا مینځه (هغه چاته ورکړه چی تاته یې تی درکړیدی نو حق به یې ادا سی) . (ترمذی وابوداؤد ونسائی)
**شرح** : مرضعه یعنی کوچنی ته تی ورکوونکی او شیدې ورکوونکی چی کله نهایتی لوی خدمت کوی ګواکی هغه خپله وینه په کوچنی باندی چیښی چی په قدرت سره درزّاق مطلق شیدې ورڅخه جوړی سویدی ددې وجی نو دهغې حق هم ډیر لوی دی او اهلِ عربو به ددې پوره لحاظ کوی ، کله چی به ددوی دکوچنیانو دشیدو خوړلو موده پوره سوه نو دمقرری مزدوری څخه علاوه به یې یوڅه انعام هم ضرور ورکوی او تی ورکوونکی به یې خوشحاله کول او دچا څخه چی به یې په

ketabton.com - The Digital Library



خپله شیدی چیښلی وی دهغی به یې هم همیشه خیال ساتې اوحق به یې ورادا کوی. لکه چی حضرت سرورِ عالَم ﷺ هم خپلی تې ورکوونکی ته خپل څادر مبارك هوار کړی اویه عزت سره یې کښېنول او ډیر څه یې ورکړی وه (وګوره: مرضعة الرسول ، ددې احقر تالیف) ، پوښتنی وړاندی کوونکی صاحب دخپل کوچنی دتې ورکوونکی دپاره دانعام او نورو په اړوند سوال کړی وو ، چی یو داسی شی په ارشاد کی راته وفرمایه چی دهغه څخه کوچنی ته دتې ورکوونکی ښځی حق په پوره ډول سره ادا سی (او دښکاره الفاظو دحدیث دتایید څخه داهم قوی احتمال دی چی په خپله یې دخپلی تې ورکوونکی ښځی په اړوند سوال کړی وی چی کم خدمت داسی دی چی دهغه څخه ددې کامل احسان شکریه ادا کړل سی) ده ﷺ یو نهایتی مناسب خدمت بیان کی یعنی یوښه مریې یا مینځه ورکه تر څو چی کم آرام او خدمت ددې څخه تاته حاصل سوی وو هغې ته هم حاصل سی ، دده ﷺ دارشاد څخه دا مقصود نه ده چی بس یو وار دی غلام ورکه بیایې نوهیڅ خدمت مه کوه بلکه مدعی داده چی دحق دادا کولو دپاره یې دا خدمت کافی دی ګواکی څومره قدر زیات خدمت چی یې وسی بهتر دی .

۱۰۴ . **پوښتنه** : یا رسول الله ﷺ یو زما داکا زوی دی کله چی زه هغه ته ورسم یوڅه ورڅخه غواړم نونه ماته یوڅه راکوی اونه وصله رحمی کوی (اوکله چی دهغه بد سلوکی او نامهربانی ووینم نوزه قسم وخورم چی اوس به هیڅکله نه هغه ته څه ورکوم اونه به ورسره وصله رحمی کوم) بیا هغه ماته راسی څه غواړی په داسی صورت کی څه کول پکار دی ؟

[سوال کوونکی : حضرت مالك اشجعی رَضِيَ اللهُ عَنْهُ ]

**جواب** : کم کار چی ښه اوبهتر دی هغه کوه (یعنی دهغه سوال پوره کړه او وصله رحمی ورسره کوه) او دخپل قسم کفاره ورکړه . (نسآئی وابن ماجه)

**شرح** : دداسی بې مروّته عزیز او قریب سره اول خو طبعاً احسان او مروت کول زړه نه غواړی دوهم لوی تکلیف دا وو چی دقسم خوړلو دوجی څخه مجبوره وو لیکن جناب سرورِ عالَم ﷺ هغه ته داعلی درجې اخلاقو او مروّت حکم وفرمایې چی دهغه ارشاد خدای تعالٰی په دې الفاظو سره فرمایلی دی چی: اِدْفَعْ بِالَّتِیْ هِیَ اَحْسَنُ السَّـیِّئَةَ او کم چی اسلامی خصوصیت دی چی تاسی دوی ته ددوی دسخت زړه کیدو او بې باکه کیدو سزا مه ورکوی بلکه دبدو په عوض کی نیکی اوښه کوی

ketabton.com - The Digital Library



او دهغه دهمدردی او کومك څخه دریغ مه کوی او دقسم دماتولو اجازه یې ورکړه دقسم مجبوری یې رفع کړه چی قسم مات کړه دهغه کفاره ورکړه لیکن دقسم تر پوره کولوچی کم بهتره اوښه کار دی (یعنی وصله رحمی او مروت) هغه مه پرېږده، همدغه حکم یې په نورو ځایو کی هم فرمایلی دی چی کله پریوه خبره باندی قسم واخیستل سی او دقسم په خلاف کولو کی یوه دینی فآئده وی نو قسم دی مات کړی یعنی ددې خلاف هغه ښه کار دی وکړی او دقسم کفاره دی ورکړی . دقسم کفاره داده چی یو مریې آزاد کی یا لسو ۱۰ مسکینانو ته دواړو وختونه خوراك ورکړی او یا لسو ۱۰ مسکینانو ته جامې درواغوندی ، ددې درو سرو شیانو څخه چی هر یو وغواړی هغه دی ادا کړی که یې چیری ددغو څخه دیوه پر ادا کولو هم قدرت نه درلودی نو دی درې ورځی پرلپسی روژه ونیسی .

**مسئلې** : ۱. خوراك داسی ورکول پکار دی کم چی عموماً درمیانه درجې خلګ یې خوری مثلاً ډوډۍ سره دسالنه ، ښوروا یا نورو (که څه هم چی دغنمو دډوډۍ سره یوځای سالن ورکول نه دی ضروری) ۲. کمو مسکینانوته چی یې سهار خوراك ورکړی وو هغوی ته دی دوهم وخت خوراك ورکړی که یې چیری نورو ته ورکړی نو کفاره نسوه ادا ۳. په خوراك ورکولو کی دا نه ده جآئزه چی پوخ کړل سوی خوراك دهر شخص دخوراك موافق لسو مسکینانو ته دواړه وخته ورکړی بلکه هم هلته به یې کښېنوی اوپه خوری به یې څومره قدر چی یې خوړل غوښتل ودی خوری برابره خبره ده که زیات خوراك والا وی او که کم ۴. که یې چیری غله ورکول نوهر مسکین ته دی نیمه کاسه غنم ورکړی ۵. که یې چیری یوه مسکین ته تر لسو ورځو پوری هره ورځ دوه وخته خوراك ورکی نوبیا هم کفاره ادا سوه ۶. که یې چیری یوه مسکین ته ترلسو ۱۰ ورځو پوری نیمه کاسه (چی په انګریزی وزن سره پاوکم دوه سیره او احتیاطًا پوره دوه سیره) غنم ورکول نوبیا هم کفاره صحیح ده ۷. که یې چیری ددغومره قدر غلې قیمت پر لسو مسکینانو تقسیم کی بیا هم جآئز دی ۸. که چیری جامې (کالی) ورکول وغواړی نوهر مسکین ته دی یوه پایجامه او یوه کرتۍ یا پایجامه او څادر یا پرتوګ او کرتۍ دی ورکړی ۹. نوی کپړه ضروری نه ده بلکه داسی جامې ورکول پکار دی چی هغه عادتًا لږ تر لږه درې میاشتی اغوستل کیدی سی ۱۰. په روژه کی دا شرط دی چی یوه په بلی پسی او پرلپسی متصلی به یې نیسی ۱۱. که چیری دمریضی ، حیض یا بل شی په وجه په مابینځ

ketabton.com - The Digital Library



کی ناغه راسی نوبیابه یې دنوی سره څخه نیسی (مفصل حالات او مسئلې دکفارې او قسم احقر په رسالهٔ مفید الحالفین چی مشهوره ده په قسم نامه سره په هغه کی لیکلی دی) .

**۱۰۵. پوښتنه** : یا رسول الله ﷺ ترټولو لویه ګناه کمه یوه ده او ترهغه وروسته کمه او بیا کمه یوه ؟ [سوال کوونکی: یوشخص په روایت دعبد الله بن مسعود رضی الله عنه ]

**جواب** : (ترټولو غټه ګناه) داده چی دخدای ﷻ دپاره کم مثل او مقابل ومنی حالانکه خدای تعالی (پرتا باندی دا احسان کړیدی) چی ته یې پیدا کړی دوهمه ګناه داده چی خپل کوچنیان وژنی ددې بیری څخه چی هغوی به بیا ستاسره خوراك کوی بیا داچی دخپل همسایه زوجه راضی کی او دهغې سره زنا وکړی . (بخاری ومسلم)

**شرح** : ترټولو لوی جرم کفر او شرك دی ولی چی دا دخپل اصلی منعم او محسن څخه بالکل انکار دی یا دهغه سره داسی شریك جوړول دی چی هغوی په خپله دده مخلوق دی اودهغه عالی ذات سره یې هیڅ مماثلت اومشابهت هم نسته ، تر اسلام دمخه اهلِ عربو دانجونی پیدا کیدل ډیر منحوس (بدبختی) او بد ګڼل اوددې پیغور داندیښنې څخه چی ددې دوجی به یوڅوك زما زوم جوړیږی هغه به یې ژوندی ښخولی ، او بعضی خلګو به ددې اندیښنې څخه هم اولاد مړ کوی چی دهغه دوجی څخه به مو خرچه لوړه سی ، په خوراك او چیښاك کی به زموږ سره شریك سی اسلام دا ټولی طریقې ناجائزی او حرامی کړی ، که څه هم چی داولاد وژل مطلقا حرام دی برابره خبره ده که دهری وجی څخه وی ، لیکن کله چی عمومًا انجلۍ دلوږی او مسکینۍ دبیری څخه وژل کیدی همدغه آنحضرت ﷺ هم ذکر کی لکه چی په قرآنِ مجید کی چی یې همداسی ویلی دی چی: وَلاَ تَقْتُلُوْا اَوْلاَدَكُمْ خَشْيَةَ اِمْلاَقٍ ، نَحْنُ نَرْزُقُكُمْ وَاِيَّاهُمْ ، اِنَّ قَتْلَهُمْ كَانَ خِطْاً كَبِيْرًا یعنی دلوږی او مسکینی دبیری څخه اولاد مه وژنۍ موږبه تاسی ته هم رزق درکوو او دوی ته هم ، (دیوه رزق هغه بل نسی خوړلای) په تحقیق سره ددوی وژل ډیره لویه خطا ده . زنا که څه هم چی فی نفسه هم ډیره لویه ګناه ده او داعلی درجو کبیره ګناهونو څخه ده لیکن همسایه کم چی دهرډول رعایت او حفاظت مستحق دی دهغه دزوجې سره په شناخت پیدا کولو سره مخ توره کیدل نور هم زیات خباثت او فسق دی زنا هم سوه او همسایه ته سخت ضرر هم ور رسیدی .

ketabton.com - The Digital Library



۱۰۶. **پوښتنه** : یا رسول الله ﷺ آیا ښځه بی له پایجامې یوازې په کرتۍ اوپه پړونی کی لمونځ ادا کولای سی ؟ [سوال کوونکی: ام سلمه رضي الله عنها]

**جواب** : هو! ادا کولای یې سی په دې شرط چی کرتۍ دومره کښته وه چی تر پښو پوری دشا خوا په پټه سی . (ابوداؤد)

**شرح** : دښځی دپاره دمخ او دواړو لاسونو تر خپړو پوری او دواړی پښو څخه ماسوا ټول بدن پټول او لمونځ ادا کول ضروری دی ، دکرتۍ او پایجامې او نورو شیانو خصوصیت نسته نو که چیری یوه کرتۍ دومره غټه اوکښته وه چی پرپښو باندی مښلی او پر سر باندی یې پړونی وی چی په هغه سره یې غاړه او وریښتان او غوږونه ټوله پټیږی نوبې له شبهې لمونځ ادا کړل سو ، که څه هم چی کښته پایجامه یا پرتوګ نه وی، ددواړو پښو پټول که څه هم چی واجب او فرض نه دی لیکن دکرتۍ ددومره قدر کښته کیدو تاکید ددې وجی فرمایل سویدی چی که چیری لوړه وی او دولاړی په حالت کی قدمونه نسی پکښی پټ نوپه سجده او نورو ځایو کی به پوره پنډۍ ښکاره سی چی دهغه څخه بیا لمونځ فاسدیږی .

**فائده** : دښځی دقدمو په اړوند بعضی فقهاء حنفیه وایی چی دهغو پټول فرض نه دی صاحب هدایی او نورو دا قول ته صحیح فرمایلی دی بعضی وایی چی پټول یې فرض دی (مولانا عبد الحی اللکنویؒ دې ته ترجیح ورکوی) دامام طحاویؒ او نورو ارشاد دی چی په لمانځه کی یې پټول فرض دی او دلمانځه دباندی نه دی فرض .

۱۰۷. **پوښتنه** : یا رسول الله ﷺ زه دلته نه وم موجود زما په شا پسی زما دمور وفات وسو او هغې ته دځه ویلو وار او وخت نه ورسیدی او زما خیال دی چی که چیری هغې دخبرو کولو موقع پیدا کړی وای نو ضرور یې صدقه کوله اوس که چیری زه دهغې دطرفه څخه څه صدقه ورکړم نوهغې ته به څه نفع ورسوی اوکه نه ؟

[سوال کوونکی : ابن عباده رضي الله عنه ]

**جواب** : هو! که چیری ته دهغې دطرفه څخه صدقه وکړی نوهغې ته نفع رسوی (بخاری شریف) .

۱۰۸. **پوښتنه** : یا فخرِ عالَم ﷺ زما دمور ام سعد وفات سویدی اوس دهغې دطرفه څخه څه ډول صدقه مناسبه او بهتره ده ؟

[سوال کوونکی: سعدبن عبد الله انصاری رضي الله عنه دخزرج دقبیلې سردار ]

ketabton.com - The Digital Library



**جواب** : داوبو صدقه افضله ده (ابوداؤد)

**شرح** : حضرت سعد بن عباده رضي الله عنه په انصارو کی دخزرج دقبیلې سردار او لوی رئیس او دمشهوره صحابه وو رضي الله عنهم او دمخکی اسلام راوړونکو خلګو څخه دی په **۱۵** هجری سنه کی دشام په ملك کی وفات سو په غسل خانه کی مړ پیدا سو ټول بدن یې تك شین سوی وو ، مشهوره سوی وه چی دی پیریانو مړ کړی وو ، دده دمور صاحبی نوم عمره بنت مسعود رضي الله عنها وه دې دجناب سرورِ عالَم ﷺ سره بیعت کړی وو ، په سنه **۵** هجری کی کله چی ده ﷺ ددومة الجندل ([۱]) وغزا ته تشریف یووړی نو حضرت سعد رضي الله عنه هم دآنحضرت ﷺ سره یوځای ولاړی ، دده ترشا موریې په مدینه منوره کی مریضه سوه خلګو ورته وویل چی یوڅه صدقه او خیرات وکه دې ورته وفرمایل (اوصحیح یې ورته وفرمایل) چی مال چی هرڅه دی هغه دسعد دی (دهغه په نه موجودګی کی یې څنګه صدقه کړم) تردې وروسته دې رضي الله عنها ته دویلو او خبرو کولو طاقت نسو پیدا او وفات سوه کله چی ددومة الجندل څخه را واپس سوه جناب سرورِ عالَم ﷺ سره دسعد بن عباده او نورو ملګرو رضي الله عنهم مدینې ته تشریف راوړی نوددې دوفات خبر ورته معلوم سو ، نبی ﷺ ددې وقبرته ودریدی او دعایې ورته وفرمایله او حضرت سعد رضي الله عنه ددې په اړوند دآنحضرت ﷺ څخه پوښتنه وکړه چی اوس ددې دطرفه څخه په صدقه کولو کی نفع او ګټه سته که نه ؟ نبی ﷺ ارشاد ورته وفرمایې چی نفع سته نوبیا حضرت سعد رضي الله عنه خپل یو باغ ددې دطرفه څخه صدقه کی او دهمدې سوال پر وخت یاپر یوه بل ځای باندی یې دمور دوفات حالت ونبی ﷺ ته ذکر کی او عرض یې ورته وکی چی بهتره او مناسبه صدقه دڅه شی ده ؟ کله چی په عربو کی داوبو لږوالی وو خوږې اوبه په مدینه منوره کی کمی پیدا کیدی ددې وجی نبی ﷺ وفرمایل چی بهتره صدقه اوخیرات داوبو دی، سعد رضي الله عنه دهغې (مور رضي الله عنها) دطرفه څخه یو څاه جوړ کی اووې ویل چی دا دأُمِ سعد دپاره دی یعنی ددې اجر او ثواب به هغې ته رسیږی .

دحضرتِ سعد رضي الله عنه دپوښتنی او جواب څخه څو شیان معلوم سول :

۱. دمړی دطرفه څخه په صدقاتو او خیراتو کولو کی هغه ته ددې ثواب رسیږی .

۲. بهتره او افضله صدقه هغه ده چی دهغه زیات ضرورت وی او ګټه یې عامه وی

---

([۱]). دومة الجندل: دشام وملك ته نژدی دیوه ښار نوم دی . مصحح

ketabton.com - The Digital Library



۳. دخير او صدقو په کارو کی او په خيرات کولو کی دخپلو مقتدايانو او بزرگانو څخه مشوره اخيستل بهتره دی ۴. دبعضو ضرورتو دوجی څخه دصدقې په ښکاره کولو کی هيڅ ممانعت نسته هرځای په پټه صدقه کول ضروری نه دی ۵. دمور او پلار تر وفات وروسته دهغوی دطرف څخه دخير کارونه کول اوهغوی ته ثواب وربخښل ډير ښه او خوښ کار دی ۶. دمور او پلار په زندگی کی دهغوی څخه په اجازه اخيستلو سره په جهاد او سفر کی تلل جائز دی .

۱۰۹. **پوښتنه** : يا رسول الله ﷺ که چيری يو شخص دخدای ﷻ په لاره کی دجهاد اراده وکی او دده په دغه کی ددنيا فآئده مقصوده وی نو هغه ته به ثواب ورسيږی او که نه ؟ [سوال کوونکی: يوشخص په روايت دابوهريرة اوابو امامة رضي الله عنهما]

**جواب** : هغه ته به هيڅ اجر او ثواب نه ورسيږی . (ابوداؤد)

**شرح** : که چيری يوازی ددنياوی فآئدې دپاره مثلاً شهرت ، عزت يا مزدوری يا مالِ غنيمت مقصود وی نو هغه شخص ته به دجهاد ثواب هيڅ هم نه ور رسيږی ، ځکه چی هغه په نيت دثواب او درضآء خداوندی دپاره جهاد نه دی کړی ، او که چيری درضآءِ الهی او اعلآء کلمة الله دپاره جهاد کوی ليکن دمال او نورو شيانو طمع او خيال هم ورسره وی نو ثواب به حاصل سی ورته ليکن ترهغو خلگو دثواب څخه ډيرکم اوناقص به وی کم چی خاص په وجه دالله تعالی بې له کم غرضه جهاد کوی .

۱۱۰. **پوښتنه** : يا رسول الله ﷺ خدای تعالی فرمايی چی: **اَلَّذِيْنَ اٰمَنُوْا وَلَمْ يَلْبِسُوْٓا اِيْمَانَهُمْ بِظُلْمٍ اُولٰٓئِكَ لَهُمُ الْاَمْنُ وَهُمْ مُّهْتَدُوْنَ** (الانعام : ۸۲) يعنی امن يوازی دهغو خلگو دپاره دی او پرهدايت باندی يوازی هغه خلگ دی څوك چی ايمان راوړی او خپل ايمان يې ديو ظلم (گناه) سره نه وی گډ کړی ، اوس نو داسی څوك دی چی دهغه څخه يوظلم (گناه) نه وی صادره سوی ؟

[سوال کوونکی : اکثر اصحاب درسول الله ﷺ په روايت دعبدالله بن مسعود رضي الله عنه ]

**جواب** : لکه څنگه چی ته گمان کوی داسی نه ده (يعنی په دې آيت کی دظلم څخه مراد مطلق گناه نه ده) بلکه هغه داسی دی لکه چی لقمان عليه السلام خپل زوی ته فرمايلی وه چی: **يَا بُنَيَّ لاَ تُشْرِكَ بِاللهِ اِنَّ الشِّرْكَ لَظُلْمٌ عَظِيْمٌ** (لقمان: ۱۳) (ای زويه دخدای تعالی سره شريك مه نيسه په تحقيق سره شرك ډير لوی ظلم دی يعنی په دې آيت کی هم دظلم څخه شرك مراد دی لکه څنگه چی لقمان عليه السلام شرك ته ظلم فرمايلی دی . (بخاری ومسلم)

ketabton.com - The Digital Library



**شرح** : کله چی ظلم عام دی نوشرك ته هم ظلم ویل کیدی سی او نورو گناهونوته هم ددې وجی صحابه وو رضي الله عنهم ته نهایتی دشواره معلومه سوه او وبیریده چی امن او هدایت چی کله یوازی دهغه خلگو حصه ده چی هغه دهیڅ قسم معصیت مرتکب او کوونکی نه وی نو شاید چی هیڅ امن پیدا کوونکی والا شخص دی نه وی ولی چی یوه نه یوه گناه دهرشخص څخه کیږی جناب سرورِ عالَم ﷺ شفا ورته وفرمایله چی دلته مطلق ظلم نه دی مراد لکه څنگه چی تاسو گمان کړیدی بلکه دظلم یو خاص فرد او هغه ظلمِ مقید مراد دی کم چی دلقمان علیه السلام په قول کی ذکر دی یعنی شرك، حاصل دجواب دادی چی دخدای تعالی دارشاد مطلب دادی چی هدایت او امن والا هغه خلگ دی چی ایمان راوړی اوایمان دظلمِ عظیم یعنی دشرك دگډوالی څخه پاك وساتی دا مقصود نه دی چی کمه کوچنۍ یا لویه گناه دی نه وی ورڅخه صادره سوی .

**فائده** : دا امر خو دارشادِ نبوی ﷺ څخه معلوم سو چی دظلم څخه په دې آیت کی شرك مراد دی او دا خبره بې له چون او چرا منل سوی او نهایتی حق ده لیکن قرینه او وجه دشرك دمرادیدو دکلامِ نبوی ﷺ څخه نه ده معلومه سوی ، هو! علماوو او شارحینو دحدیث فرمایلی دی چی په بشركٍ کی صحابه وو رضي الله عنهم تنوین دتحقیر او تنکیر دپاره گڼلی ځکه نودوی رضي الله عنهم ته دا شبه پیښه سوی وه ، جنابِ سرورِ عالَم ﷺ تنوین دتعظیم دپاره مقرر کی او دظلمِ عظیم تعیین یې دبل آیت څخه وفرمایی ، دحضراتو علماوو وجه درسته او نهایتی صحیح ده لیکن په دې کی یوه دا شبهه کیدی سی چی صحابه رضي الله عنهم سره ددې چی ددې قرآن په ژبه وه او سره ددې چی دکلامِ باری تعالی اعلی ماهرین وه نومخالف مقصدیې څنگه ورڅخه مراد کړی وو ، دوهمه داچی تنوین دتعظیم دپاره اخیستل په دې ځای کی په هیڅ ډول هم دکلام دطریقې سره مناسب اوذوقِ سلیم سره موافق نه دی .

البته داحقر مؤلف استاذ الاستاذ حضرت قطب العالَم مولانا محمد قاسم صاحب رحمة الله علیه کم چی په یوه اوږده تقریر کی په دې ځای کی دظلم څخه دشرك دمرادیدلو وجه لیکلی ده په هغه کی هیڅ شبه نه پاته کیږی او داهلِ علم په روح او کوشش کی راځی او زړه یې په مطمئن کیږی خلاصه دتوجیه دحضرت مولانا صاحب رحمة الله علیه داده چی جناب رسول الله ﷺ دلَبْس دلفظ څخه دا وفهمول چی دلته شرك ورڅخه مراد دی ځکه چی په نورو گناهونو کی اوپه ایمان کی لبس نه

ketabton.com - The Digital Library



دی ممکن لبس او خلط هغه وخت کیدلای سی چی دایمان او ظلم ظرف متحد وی ، نور گناهونه کم چی افراد دظلم دی کله چی افعال دی داندامو هغه دزړه امور نه دی ددې وجی دایمان سره دهغوی لبس نه صادقیږی گواکی معیّت او اجتماع یې سره کیدلای سی ها! کله چی دشرك ظرف هم زړه وو نوپه ده او په ایمان کی لبس راتلای سی ، صحابه وو رضی الله عنهم د لَمْ يَلْبِسُوْا پرلفظ باندی په خاص طور سره غور نه وو کړی مگر آنحضرت ﷺ څوك چی دوحی اوکلامِ الٰهی صحیح مخاطب او په پټو او ښکاره اسرارو یې خبر وو دده ﷺ دنظره څخه دا نکته نسوه پټه او دمقصود په فهمولو کی دشواری نه وه .

دآیت په تفسیرکی داقولونه هم دی چی دا حکم خاص دمهاجرینو دپاره دی ، یا د لَمْ یلبسوا څخه لم ینافقوا مراد دی یا مرتد کیدل او دایمان پرېښوول مراد دی لیکن کله چی ددې اقوالو زموږ درانقل کړل سوی پوښتنی سره علاقه نه وه ددې وجی هغه پاته کړل سوه .

۱۱۱. **پوښتنه** : ماته دا قاعده معلومه نه وه چی سر خریل ترذبح کولو وروسته وی، ما تر ذبح کولو مخکی سر وخریی زما دپاره څه حکم دی ؟

[سوال کوونکی: یوشخص په روایت دعبد الله بن عمر رضی الله عنهما ]

**جواب**: اوس ذبح وکه اوددې بې ترتیبی څخه تاته هیڅ گناه نه ده رسیدلی. (بخاری)

۱۱۲. **پوښتنه** : یا رسول الله ﷺ زه ددې څخه نه وم خبر چی اول رمی کیږی دهغه څخه وروسته بیاذبح کیږی ما تررمی دمخه ذبح وکړه نواوس زما دپاره ستاسی څه ارشاد دی ؟ [سوال کوونکی: یوشخص په روایت دعبدالله بن عمر رضی الله عنهما]

**جواب** : اوس رمی وکه او (دناخبرتیا دوجی څخه دترتیب په مخالفت کولوکی ) تا ته هیڅ گناه نه ده رسیدلی (بخاری) .

**شرح** : ددې دواړو پوښتنو دپوښتونکو نومونه لویو لویو علماوو ته دتحقیق او تلاښ سره سره نه دی معلوم سوی مگر دومره معلومه ده چی دا دځنگل اوسیدونکی خلگ وه دځلورو طرفو څخه راتله او سوالونه به یې کوله نبی ﷺ دټولو جوابونه ورته وفرمایله ، دادهغه حج واقعه ده کم چی نبی ﷺ په آخر کی دخپل عُمر شریف په سنه ۹ هجری کی ادا کړی وو چی په هغه کی دبعضو روایاتو مطابق یولك دیرش زره ۱۳۰۰۰۰ انسانان نارینه اوښځینه دحج دپاره دده ﷺ ملگری وه دټولو نظر پرده ﷺ باندی وو کم څه چی به ده ﷺ فرمایل په هغه باندی

ketabton.com - The Digital Library



به يې بې له شبهې عمل كوى اوكله چې به يوه خبره مخ ته راتله دده ﷺ څخه به يې پوښتنه كوله ، سبحان الله څومره ښه زمانه وه ، په دې موقع كى آنحضرت ﷺ دعرفات او مزدلفې څخه تراوپس كيدو وروسته پراوښه باندى سپور سو دجمره وو ويشتل يې كوله (يعنى پر جمره وو باندى يې ډبرى ويشتلى) په دې حالت كى ډيرو خلكو پوښتنه كوله اوجوابونه يې ترلاسه كوله ، ددې څخه داهم معلومه سوه چې عالِم يا مفتى كه چيرى په عبادت مشغوله وى يا په يوه لار كى ولاړ وى نو ديوې ضرورى مسئلې په پوښتلو كى دهغه څخه او په جواب وركولو كى هيڅ ممانعت نسته ، او يوه مهمه مسئله دا هم معلومه سوه چې دجمعې ، اخترونو او نورو هغو ورځو كى چې په هغه كى معطلى وى دعلم شغل منع نه دى ولى چې دا سوال اوجواب داختر په ورځ واقع سوى وو .

دحج دافعالو دجملې څخه دذى الحجى پرلسم تاريخ داڅلور شيان هم ضرورى دى: ۱. اول په مقامِ منٰى كى دجمره عقبې رمى كول ، ۲. تر هغه وروسته اوښ يا بزه يا بل شى ذبح كول ، ۳. ترهغه وروسته سر خريل يايو څه وريښتان كوچنى كول ۴. تر هغه وروسته بيا مكى معظمې ته تلل او هلته دخانه كعبې طواف كول . كه چيرى دناخبرى او لا علمۍ څخه ترتيب بدل سى كم شيان چې مخكى ادا كيدل هغه يې وروسته كړه او كم چې وروسته لازم وه هغه يې مخكى كړه نو څه ګناه نسته لكه ده ﷺ چې دپوښتنى په جواب كى صاف وفرمايله ليكن ددې بې ترتيبۍ دنقصان دجبيرى او بدلې دپاره دم وربا ندى واجيږى يعنى بزه يا بل شى به ذبح كوى ، لكه چې ابن عباس رضي الله عنهما فرمايلى دى چې كم سړى چې دخپل حج په افعالو كى څه افعال دمخه يا وروسته كړى هغه ته وينى بهيول (يعنى قربانى كول) پكار دى البته كه چيرى قصداً ددې ترتيب خلاف وكى نو دذبيحې پرواجب كيدو سربيره ګناه هم لرى .

۱۱۳. **پوښتنه** : يا رسول الله ﷺ دخادم خطا هره ورځ څو واره معاف كوم ؟

[سوال كوونكى: يوشخص په روايت دعبدالله بن عُمر اوعبدالله بن عَمرو رضي الله عنهم ]

**جواب** : هره ورځ يې اويا ۷۰ واره معاف كوه . (ترمذى شريف)

**شرح** : كله چې معاف كول هر وار بهتره او ښه دى ، خداى تعالٰى فرمايى : وَمَنْ عَفَا وَاَصْلَحَ فَاَجْرُه عَلَى اللهِ ، ددې وجى آنحضرت ﷺ چې كله دا سوال واوريدى نو پته خُله سو ليكن كله چې سوال كوونكى دوه درې واره عرض وكى نو ويې فرمايل

ketabton.com - The Digital Library



چې اويا ۷۰ واره يې معافوه ، يعنې ډير وارونه په نهايتي ډير والي سره يې معاف کوه ځومره چې يې زيات معافوی هغومره ښه دی ، دبعضو روایاتو دالفاظو څخه معلومېږي چې سوال کوونکی دده ﷺ دحال پوښتنه کړی وه چې ته ﷺ يې څو واره معافوی ده ﷺ وفرمايل چې اويا ۷۰ واره ، دا روايت په ترمذی او تاريخ بخاری کی دعبد الله بن عمرو رضی الله عنه په ذريعه روايت کړل سويدی اوپه ابوداؤد او نورو کی دعبد الله بن عمر رضی الله عنهما په روايت باندی مروی دی .

۱۱۴. **پوښتنه** : ای رحمة للعالمين ﷺ آيا موږ خلګو ته دچارپايانو [۱] په خدمتو (مثلا په خوراك او څيښاك ورکولو) کی هم ثواب حاصليږی ؟

[سوال کوونکی : صحابه رضی الله عنهم په روايت دابی هريرة رضی الله عنه ]

**جواب** : دهريوه لانده ځيګر لرونکی شی (يعنی حيوان) سره په احسان اونيکی کولو کی اجر او ثواب دی . (بخاری شريف)

**شرح** : حضور ﷺ يو وخت ارشاد وفرمايې چې په مخکنۍ زمانه کی يو شخص دمکې معظمې په لار کی په يوه ميدان کی تيريدی کله چې نهايتي سخت تږی سو نو يوه څاته لاندی ورشوه سو اوبه يې وڅښلې او سيرابه سو بيرته دباندی راووتی چې ګوری يو سپی دسختی تندی څخه ژبه را ايستلی ده او دڅاه پر شاوخوا باندی لندی خاوری څټی لاندی نسی ورتلی چې اوبه وڅښی هغه شخص دا خيال وکی چې دتندی دتکليفه څخه چې کم مصيبت پر ما باندی تير سو په هغه کی اوس دی مبتلا دی ، نو څاه ته شوه سو اوکله چې يو لوښی نه وو موجود نوپه خپله موزه کی يې اوبه واچولې او هغه يې په خُله کی ونيوله او لوړ راوختی (ولی چې په څاه کی سړی دواړه لاسونه پر ديواله نيولی وی اوپه تکليف راخيژی) او په سپی يې اوبه وڅښلې او اوبه يې کی ، الله تعالی ددې شخص دا دخير عمل قبول کی او ده ته يې مغفرت وکی اوپه جنت کی يې داخل کی، داقصه چې يې واوريده صحابه وو رضی الله عنهم عرض وکی چې يا حضرت ﷺ آيا دداسی حيواناتو خدمت هم دثواب سبب ګرځی ، ده ﷺ وفرمايل چې يوازی پردوی باندی نه دی موقوف بلکه ټولو ذی روحو او جاندارو شيانو ته په راحت رسولوکی اجر او ثواب تر لاسه کيږی ، ليکن دا ارشاد دهغو حيوانانو په اړوند دی کم چې ضرر رسوونکی نه وی اوپه

---

[۱]. په روايت کی لفظ دبهآئم ذکر دی ، خاص څلور پښې لرونکی حيوان ته هم بهآئم ويل کيږی او ټولو جاندارو شيانو ته هم ويل کيږی . منه رحمه الله تعالی

ketabton.com - The Digital Library



شریعت کی دهغوی دوژلو حکم نه وی ، کم حیوان چی ضرر رسوونکی وی اوپه شریعت کی دهغه دوژلو حکم وی لکه مار ، لړم ، موږك او نور دهغو په اړوند دا ارشاد نه دی بلکه هغوی په داسی ډول وژل پکار دی چی سخت ضرر رسوونکی نه وی ورته .

۱۱۵. **پوښتنه** : یا رسول الله ﷺ پرموږ دواړو باندی په لار کی دلمانځه وخت داخل سو اواوبه نه وی موږتیمم وکی اولمونځونه مووکړه بیا اوبه پیدا سوې او دلمانځه وخت هم پاته وو ، زموږ څخه یوه اودس وکی بیایې لمونځ وکی اویوه شخص (هغه پخوانی لمونځ کافی وګڼی) او دوباره یې لمونځ نه وکی، تاسی ارشاد وفرمایاست چی دچا کار صحیح سو ؟

[سوال کوونکی: دوه صحابه رضي الله عنهما په روایت دعطآء بن یسار تابعی جلیل القدر رحمة الله علیه]

**جواب** : چاچی لمونځ نه دی را ګرزولی هغه قاعده او طریقه دشریعت پیدا کړه او لمونځ ورته کافی سو او چا چی دوهم وار لمونځ وکی هغه ته دوه واره ثواب ورسیدی (ابوداؤد ودارمی ونسآئی)

**شرح** : په تیمم سره دلمانځه ادا کولو څخه وروسته که چیری اوبه پیدا سوې او دلمانځه وخت باقی وو نو قاعده داده چی اول لمونځ کافی دی ددوباره ادا کولو ضرورت یې نسته ددې وجی ده ﷺ دیوه صحابی رضي الله عنه په اړوند وفرمایل چی تا په اصلی شرعی قاعده باندی عمل وکی ، دوهم صاحب چی کم دوهم وار لمونځ کړی وو هغه نفل سو ددې وجی ده ﷺ ارشاد وفرمایې چی تاته دوه واره اجر حاصل سو یو دفرضو ثواب او یو دنفلی لمانځه ثواب ، لیکن کله چی قوی اُمید وی چی دلمانځه دبهتره او اصلی وخت تر ختمیدو دمخه به اوبه پیدا سی نو بهتره اوخوښه خبره داده چی په اول وخت کی دی په تیمم سره لمونځ نه کوی بلکه تر هغه وخته پوری دی انتظار وکی که چیری بیا هم نسوی پیدا نو تیمم دی ووهی او لمونځ دی ادا کی که یې چیری په تیمم سره لمونځ کوی اوپه همدې حالت کی یې اوبه پیدا سوې (مثلا خادم اوبه راوړی ، یایو څوك اوبه خرڅوونکی والا راغی) نو بیا دې لمونځ مات کړی اواودس دی وکی اوبیا دی دنوی سره څخه لمونځ ادا کی، که چیری یو شخص اوبه خرڅوونکی راغی او درانیولو طاقت یې هم وو نو تیمم نه دی صحیح اوبه دی رانیسی او اودس دی وکی ، که چیری اوبه ترحد زیاتی ګران قیمته وی نو رانیول یې واجب نه دی ، په ځنګله کی که چیری په اسبابو کی اوبه

ketabton.com - The Digital Library



موجودی وی مګر هغه یې نه وی په یاد نوتیمم یې وکی اولمونځ یې وکی او تر ادا کولو وروسته بیا ورپه یاد سوه نو لمونځ ادا سویدی ددوباره ادا کولو ضرورت یې نسته او که چیری په آبادی او کلی کی داسی موقع پیښه سوه نو راګرځول یې ضروری دی (دتیمم آسانه او په کار راتلونکی مسئلې په رساله الطهور المسلمین کی وګوره) .

۱۱۶ . **پوښتنه** : زما دمور پرذمه باندی یو نذر وو دهغه دپوره کولو څخه مخکی دهغې وفات وسو آیا زه دهغې دطرفه څخه دا نذر پوره کولای سم ؟

[سوال کوونکی : حضرت سعد رَضِيَ اللهُ عَنْهُ ]

**جواب** : ادا یې که . (بخاری وغیره باختلاف الفاظ)

**شرح** : په دې کی اختلاف دی چی دسعد رَضِيَ اللهُ عَنْهُ مور صاحبی رَضِيَ اللهُ عَنْهَا دڅشی نذر اینښی وو دغلام آزادولو اوکه دروژو نیولو اوکه مطلق نیت یې له کم قیده ، مګر دا معلومه سوه چی دمړی دطرفه څخه که چیری دهغه وارث نذر پوره کی نو صحیح دی ، تفصیلی بیان دمړی دحج او نذر مخکی تیر سو .

۱۱۷ . **پوښتنه** : یا رسول الله ﷺ ماته په اسلام کی یوه داسی جامع او اصلی خبره را وښیه چی ترتا وروسته یې بیا دبل چا څخه دپوښتنی کولو ضرورت نه وی ؟

[سوال کوونکی : سفیان بن عبد الله رَضِيَ اللهُ عَنْهُ دطآئف اوسیدونکی ]

**جواب** : اٰمَنْتُ بِاللّٰہِ وایه او بیا پرهمدغه باندی مستقیم او محکمه اوسه (مسلم ، ترمذی ، نسآئی ، ابن ماجه)

**شرح** : دا جامع او دمعنی ډك قول حضرت افصح العرب والعجم ﷺ دالله تعالی دکلامِ پاك ددې ارشاد (۱) څخه اخیستی دی چی: إِنَّ (۲) الَّذِيْنَ قَالُوْا رَبُّنَا اللّٰهُ ثُمَّ اسْتَقَامُوْا ، په حقیقت کی په دې څو الفاظو کی یې دایمان او اسلام ټول ضروریات جمع کړیدی ولی چی دایمان او توحیدِ خداوندی اعتقاد او اقرار یې په اٰمَنْتُ بِاللّٰہِ سره ورته وښووی اوپاته چی څومره قدر ضروریات داسلام دی هغه ټوله داستقامت دپاره ضروری دی مستقیم اوسیدل هغه وخت صحیح کیږی چی دسر دوربښته په

(۱). په ترمذی شریف کی دی : قل ربّی الله ثم استقم .

(۲). یعنی کومو خلګو چی وویل چی زموږ پروردګار الله تعالی دی بیا پرهمدغه باندی ثابت قدمه پاته سو هغه ته (دمرګ پروخت یاپه قبرکی) ملایکی راځی او ورته وایی چی څه بیره او غم مه کوه موږ ستا هرډول کومك کوونکی یو . منه رحمه الله تعالی

ketabton.com - The Digital Library



اندازه هم (۱) دشریعت دلاری څخه انحراف او کوږوالی نه وی او دهیڅ ارشاد په عملی کولو کی تقصیر نه وی ، دا ډیره لویه درجه او نهایتی سخت کار دی دچاچی الله تعالی خاص اعانت او کومك وفرمایی هغه ته نصیب کیدلای سی (۲) .

۱۱۸ . **پوښتنه** : ای جناب سیّد عالَم ﷺ دمړه سوی حیوان څرمن پاکه ده اوکه ناپاکه او دهغې استعمال جائز دی او که نه ؟

[سوال کوونکی : صحابه په روایت دابن عباس او عآئشې رضي الله عنهم ]

**جواب** : په رنګ ورکولو سره پاکیږی . (مسلم ونسآئی باختلاف)

**شرح** : کم حلال حیوان چی ذبح کړل سی دهغه څرمن خوپه خپله پاکه ده لیکن کم حلال حیوان چی ذبح سوی نه وی بلکه په یو ډول سره په خپله مړسوی وو یامړ کړل سو دهغه څرمن په رنګ (دباغت) ورکولو سره پاکیږی دارنګه دخنزیر څخه ما سوا دټولو مردارو حیوانانو څرمن هم په دباغت سره پاکیږی. دباغت په هغو ټولو شیانو سره جآئز دی چی په هغه سره دڅرمنی رطوبت اونور وچ سی څرمن صافه سی او دبد بویی اوخرابیدو څخه محفوظه سی، لکه پټکری (۳) او دببول (۴) (کیکر) ددرختی پوست ، دانار پوست اومازو (۵) او نور . لمر ته په وچولو سره هم دباغت راځی ، او صحیح همدا ده چی بیا په اوبو او نورو لندیدلو سره بیرته نه نجس کیږی ،

---

(۱). په انبیاوو او ملائکو او نورو باندی ایمان په حقیقت کی په ایمان بالله تعالی کی داخل دی او په استقامت کی هم داخلیدی سی . منه رحمه الله تعالی

(۲). حضرت شبلی رحمة الله علیه په خوب کی دحضور سرورِ عالَم ﷺ په زیات کولو سره مشرفه سو اوعرض یې وکی چی ما اوریدلی دی چی حضور ﷺ ارشاد فرمایلی دی چی سورهٔ هود او ددې ډول نورو سورتونو زه بوډا کړم (غالبًا دمخکنیو امتونو دتباهی او عذاب حالات کم چی په دې سورتونو کی ذکر دی دهغه غم او دخپل امت پر حال باندی دبیری دوجی څخه به دی ﷺ بوډا سوی وی) ده ﷺ وفرمایل چی نه ! بلکه دسورهٔ هود دې آیت زه بوډا کړم چی: فَاسْتَقِمْ كَمَا أُمِرْتَ وَمَنْ تَابَ مَعَكَ (یعنی تاته چی څه ډول حکم سویدی پرهغه باندی په پوره ډول سره مستقیم اوسه او ستا سره ایمان راوړونکی هم) دده ﷺ ثابت قدمه کیدل څه سخت نه وه لیکن ده ﷺ ته دخپل ضعیف امّت فکر او غم وو چی دا خلګ به څنګه مستقیم واوسی . منه رحمه الله تعالی

(۳). پټکری : دمالګی دقسم څخه یو ډول معدنی ماده چی دحیوانانو دخوراك دپاره هم استعمالیږی . مترجم

(۴). ببول : یو قسم ځوز لرونکی درخته چی په کیکر سره مشهوره ده . مترجم

(۵). مازو : یا ماجو هم ورته وایی ، یوه مشهوره دوا ده . مترجم

ketabton.com - The Digital Library



دانسان وربښتان ، غابښ ، هډوکی ، پوست او نورو شیانو استعمالول حرام دی او دهغه پوست په رنګ کولو سره نه پاکیږی (۱) .

۱۱۹. **پوښتنه** : بعضی وختونه (دیوه سخت ضرورت دوجی څخه) موږ په کور کی لمونځونه کوو او بیا راځو په مسجد کی ګورو چی لمونځونه په جماعت شروع سویدی په هغه کی هم شریکیږو لیکن په زړه کی شبه پاته وی چی معلومه نه ده داسی ډول شریکیدل صحیح دی او که نه ؟

[سوال کوونکی : حضرت ابو ایوبِ انصاری او نور صحابه رضی الله عنهم ]

**جواب** : شریکیدل پکار دی اوکمه شبه په زړه کی راوړل نه دی پکار ولی چی په دې صورت کی شریکیدونکی ته دجماعت ثواب حاصلیږی (ابوداؤد)

**شرح** : دوهم وارچی کم لمونځ وکړل سی هغه نفل دی او هغه هم ثواب لری او دومره اجر به ورته حاصل سی چی ګواکی فرض یې په جماعت سره ادا کړیدی لیکن دنورو احادیثو او اقوالو څخه دصحابه (۲) وو رضی الله عنهم معلومه سویده چی دا حکم صرف دماپښین او ماخوستن دپاره دی ، په سهار او مازدیګر او ماښام کی که چیری داسی اتفاق پیښ سی نوپه جماعت نه شریکیدل ورته پکار دی .

۱۲۰. **پوښتنه** : یا رسول الله ﷺ زما پلار وفات سویدی او ډیر مال یې پرې ایښی دی او (دصدقې ، خیرات او نورو شیانو) هیڅ وصیت یې نه دی کړی ، اوس که چیری زه دهغه دطرفه څخه صدقه وکم نو دابه دهغه دګناهونو کفاره وګرځول سی (او زما ددغی صدقې څخه به هغه ته څه نفع ورسیږی) او که نه ؟

[سوال کوونکی : یو شخص په روایت دابو هریرة رضی الله عنه ]

**جواب** : هو! ستا صدقه به دهغه دپاره دګناهونو دکفارې باعث وګرځول سی (اوستا دخیرات څخه به هغه ته ضرور نفع ورسیږی) ، (مسلم شریف)

**شرح** : ددې حدیث څخه معلومه سوه چی مړی ته دثواب درسیدو دپاره صدقه او خیرات کول جآئز دی بلکه مستحب او مسنون دی او ددې شیانو ثواب مړی ته رسیږی (که چیری هغه په عذاب کی اخته وی نو سپك والی پرراځی اوکه نه وی نو مرتبې او درجې یې په لوړیږی) مګر داسی صدقه او خیرات دوارثانو پرذمه باندی نه دی لازم او واجب صرف مستحب دی په دې شرط چی پراخی وی په مال کی .

(۱). ددباغت او نورو بعضی مسئلې په ص ۹۹ – ۱۰۰ کی وګوری . منه رحمه الله تعالی

(۲). دهدیة المتقین اومه ۷ صفحه وګوره . منه ؂

ketabton.com - The Digital Library



او نور حقوق دمړی لکه پور اونور که چیری مړی مال پرې ایښی وو نو دهغه مال څخه یې ادا کول واجب او لازم دی برابره خبره ده که هغه وصیت کړی وی اوکه نه ، او که یې چیری مال نه وو پرې ایښی نو وارثانو ته اختیار دی چی دخپل مال څخه دهغه پرذمه باندی واجب سوی حقوق ادا کوی او هغه بری الذمه کوی او که نه ؟ مقصد دا چی دمړی دطرفه څخه صدقه او خیرات کول دهغه دپاره په آخرت کی نهایتی نافع او دګناهونو دکفارې سبب ګرځی .

رَبَّنَا اغْفِرْ لَنَا ذُنُوْبَنَا وَكَفِّرْ عَنَّا سَيِّئَاتِنَا وَتَوَفَّنَا مَعَ الْأَبْرَارِ بِحُرْمَةِ سَيِّدِنَا وَمَوْلاَنَا مُحَمَّدٍ صَلَّى اللهُ تَعَالىٰ عَلَيْهِ وَعَلى آلِهِ وَاَصْحَابِهِ الْاَخْيَارِ . آمین

*　*　*

## دفتاوی محمدی ﷺ دوهمه حصه

**دحضرت سیّدنا عمر بن الخطاب خلیفه دوهم رضی الله عنه فتوٰی :**

۱۲۱ . **پوښتنه** : زما عمه مغیره بنت الحارث چی یهودیه وه دیمن په ملك کی وفات سوه اوس دهغې دترکې اومیراث مستحق څوك دی زه یم اوکه دهغې یهودی قریب [سوال کوونکی : محمد بن اشعث رحمة الله علیه ]

**جواب** : ددې وارث ددې دقریبانو څخه هغه څوك کیدی سی څوك چی ددې هم مذهب (یعنی یهودی) وی ، څوك چی ددې ترټولو زیات قریب او رشته دار او عزیز وی ( دارمی شریف)

**شرح** : محمد بن الاشعث دیمن اوسیدونکی وو کله چی دهغه عمه وفات سوه نو دیمن څخه راسپور سو په مدینه منوره کی ددې بابرکت خلیفه په خدمت کی حاضر سو کم چی درسولِ مقبول ﷺ ریښتینی ځای ناستی اودمسلمانانوخیر طلبوونکی مقبول بنده وو ، دجواب څخه معلومه سوه چی دکافر دمیراث (برابره خبره ده که کافر آتش پرست وی او که مجوسی ، یهودی وی او که نصرانی) مستحق مسلمان نسی کیدی بلکه هغه وارث به یې حقدار وی څوك چی په کفرکی دده سره شریك وی، داغه رنګه دمسلمان کافر وارث دمیراث څخه محروم دی، یوازی هغه وارثانو ته به ورکول کیږی څوك چی مسلمان وی (دامام احمد رحمة الله علیه قول دی چی که چیری دمیراث تر تقسیم کیدو دمخه یوڅوك کافر مسلمان سی نوبیا دمیراث څخه

ketabton.com - The Digital Library



نه محروم کیږی) .

۱۲۲. **پوښتنه** : یا امیر المؤمنین رضی الله عنه جراد (یعنی ملخ) حلال دی او که نه ؟

**جواب** : (حلال دی) زما زړه غواړی چی زموږ سره دهغو یوه کوچنۍ ټوکرۍ وای او موږ ورڅخه خوړلی . (مؤطا)

**شرح** : لکه څنګه چی ماهۍ برابره خبره ده که ژوندۍ پیدا سی یا مړ هرډول حلال دی داغه رنګه ملخ هم مړ وی که ژوندۍ هرډول حلال دی ، ذبح کولو ته نه دماهی حاجت سته او نه دملخ ، البته دماهی یو قسم حرام هم دی یعنی هغه چی په اوبو کی دننه مړسی اوبیایې څپې دباندی راوغورځوی، دملخ هیڅ قسم هم حرام نه دی.

**دحضرت امیر المؤمنین اسد الله الغالب امیر المؤمنین علی بن ابیطالب رضی الله عنه فتوٰی**

۱۲۳. **پوښتنه** : ای امیر المؤمنین رضی الله عنه ! ما دکوفې شاته اوښان څرول دهغو څخه یو اوښ په یوه غار کی ولویدی (او مرګ ته نژدی سو) ماته اندیښنه سوه چی شاید تر را ایستلو او ذبح کولو څخه مخکی مړ سی ځکه نو ما یوه تیره اوسپنه را واخیسته (بسم الله می وویل) دهغه په بغل می ننه ایستل (او زخمی می کی ، وینه یې وبهیده بیا چی کله یې ساه وختنه نو) دهغه اعضآء می ټوټې ټوټې کړه پرخپلو قریبانو می تقسیم کړه اوس هغوی ددې غوښې دخوړلو څخه انکار کوی تاسی ارشاد وفرمایاست چی هغه وخورو او که نه ؟

[سوال کوونکی : راشد سلمانی رحمة الله علیه ]

**جواب** : (هغه حلال دی) هغه وخوری او ماته هم پکښی حصه راکړئ (رواه ابن ابی شیبة ونقلته من فتح الباری) .

**شرح** : دتښتیدو اوپه واك کی دنه راتلوپه وجه، یاپه یوه غار او بل شی کی دلویدو په وجه دکم ځای څخه چی دژوندی راوتو امیدنه وی کله چی یې ذبح کول ممکن نه وی نو ددارنګه زخم لګولو څخه ذبیحه حلالیږی (مفصّلی مسئلې ددې قسم مخکی تیری سویدی) جناب علی رضی الله عنه دسیّد المرسلین صلی الله علیه وسلم دسنتو داتباع په خاطر دسوال کوونکی دشبهې دایسته کولو او زړه خوشحاله کولو دپاره خپله هم غوښی ورڅخه طلب کړی .

**دخادم او متبع سنت صاحب مقام محمود حضرت سیّدنا ابن مسعود رضی الله تعالی عنه المعبود فتوٰی :**

۱۲۴. **پوښتنه**: موږ دواړو دماښام په لمانځه کی دامام سره یوه رکعت ونیوی دامام

ketabton.com - The Digital Library



تر سلام وروسته موږ دواړه دخپل فوت سوو رکعتونو دادا کولو دپاره ولاړ سوو ، مسروق یو رکعت ادا کی دالتحیات دویلو دپاره کښېنستی (اوبیا تر یوه رکعته وروسته یې التحیات ویل پوره کړه) لیکن جندب یوازی داخیری رکعت تر ادا کولو وروسته کښېنستی اوس وفرمایاست چی دچا فعل صحیح دی ؟

[سوال کوونکی : مسروق وجندب شاګردان ابن مسعود رضي الله عنهم ]

**جواب** : تاسی دواړوښه کړیدی (یعنی لمونځ ددواړو اداسو) لیکن زه داخوښوم چی دمسروق په مثل سره لمونځ کوی (یعنی ترهررکعت وروسته التحیات وایاست) .

**شرح** : تر دوو رکعتو وروسته چی کله کښېنستل واجب دی لهذا دیوه رکعت دامام سره او یوه رکعت دیوازی کولو څخه وروسته دی دالتحیات دپاره کښېنی ، بیا دې دریم رکعت وکی او کښېدی نی ، لیکن که چیری تر یوه رکعت یوازی ادا کولو وروسته نه کښېینستی بلکه یوازی په آخرکی کښېینستی لکه چی په پوښتل سوی صورت کی جندب رحمة الله علیه کړی وه نوبیا هم لمونځ ادا کیږی او سجده سهو نه لازمیږی .

۱۲۵. **پوښتنه** : ای مخدوم او مکرم استاده ! ما خپلی زوجې ته طلاق ورکی دواه واره ترحیض راتلو وروسته ددې حیض راتلل ودریدی تر اتلسو ۱۸ میاشتو پوری نه راغی په همدې حالت کی ددې وفات وسو ، ماته دهغې په میراث کی حصه اخیستل جآئز دی او که نه ؟

[سوال کوونکی : حضرت علقمه رحمة الله علیه شاګردِ ابن مسعود رضي الله عنه ]

**جواب** : خدای تعالی ددې ښځی میراث ستا دپاره ودروی ، حصه ورڅخه واخله او په خپل کار کې یې راوله (مؤطا)

**شرح** : تر طلاق وروسته چی کله درې واره حیض راسی نو عده تیریږی او دنکاح علاقه بیا نه پاته کیږی، دا درې واره حیض راتلل شرط دی برابره خبره ده که په هر څومره موده کی راسی، که چیری دسوال کوونکی ښځه دریم وار هم دحیض څخه فارغه سوی وای نو زوج ته په میراث کی حصه نه رسیده ولی چی هیڅ علاقه نه وه پاته لیکن دده په مقدر کی دښځی دریم وار حیض راتلل وځنډیدل او په همدغه حالت کی وفات سوه ده ته حصه ورسیده ولی چی که چیری په عده کی زوجه مړه سی نو زوج دهغې دمال څخه حصه وړی ، ددې وجی حضرت عبد الله ابن مسعود رضي الله عنه په جواب کی وفرمایل چی ددې میراث خدای تعالی ستا دپاره ودروی

ketabton.com - The Digital Library



ددې ځخه معلومه سوه چې دطلاق په عده کې ددرو وارو حیض راتلو اعتبار دی دمیاشتو دشمیر نه دی البته که چیری ښځه دشپیتو ۶۰ یا پنځه پنځوسو **۵۵** کلو وعمر ته ورسیږی او دحیض ځخه بالکل مایوسه سی نو دهغې دپاره دطلاق عده صرف درې میاشتې ده دارنګه هغه کوچنۍ انجلۍ چې هغې ته حیض نه راځی په طلاق کې به درې میاشتې تیروی .

**دحضرتِ عبد الله ابن العباس افضل الفقهآء وابن عم رسول الله ﷺ فتویٰ** :

۱۲۲. **پوښتنه** : حآئضې ښځې که چیری دسجدې آیت دیو چا ځخه واوریدی نو سجده به کوی او که نه ؟ [سوال کوونکی: نامعلوم الاسم]

**جواب** : سجده دی نه کوی ددې وجې چې سجده تلاوت هم (ګواکی یو قسم) لمونځ دی . (دارمی شریف)

**شرح** : په قرآن مجید کې ځورالس ۱۴ ځایونه داسی دی چې دهغه آیت پر ویونکی او اوریدونکی دواړو باندی سجده لازمیږی دا اختیار دی چې هغه وخت یې ادا کوی اوکه بل وخت یې ادا کوی ، کله چې سجده هم دلمانځه یو جزء دی او دسجدهٔ تلاوت دواجبیدو او ادا کولو دپاره هغه ټوله شرطونه دی کم چې دلمانځه دپاره وی یعنی عاقل ، بالغ ، دحیض ځخه به پاکه وی او دادا کولو په وخت کې به سره داودسه قبلې ته مخامخ وی ، ځای او کالی به یې پاك وی ددې وجې ابن عباس رضی الله عنه وفرمایل چې سجده تلاوت هم ګواکې یو قسم لمونځ دی لکه ځنګه چې لمونځ پرحآئضې نه دی واجب داغه رنګه سجدهٔ تلاوت هم نه ده پرواجب برابره خبره ده که یې خپله ووایی یا یې دبل چا ځخه واوری البته که یې چیری حآئضه په خپله ووایی نو پر اوریدونکو باندی سجده واجبیږی په خپله پر حآئضه باندی نه واجبیږی او په همداسی حالت کې هغه دقرآن کریم په تلاوت کولو سره ګناهګاره کیږی هم .

۱۲۷. **پوښتنه** : ای ابن عم رسول الله ﷺ دیوه سړی دوې زوجې دی یوې زوجې یې یوې بلې انجلۍ ته شیدې ورکړی او بلی زوجې یې یوه هلك ته اوس ددې دواړو هلك او انجلۍ په مابینځ کې نکاح جآئزه ده او که نه ؟

[سوال کوونکی : یوشخص په روایت دعمرو بن شرید تابعی رحمة الله علیه ]

**جواب** : (نه ده جآئز ځکه) هغه نطفه چې دهغه دوجې ځخه کوچنۍ پیدا کیږی او شیدی را کښته کیږی په دواړو ځایو کې یو دی . (موطا)

ketabton.com - The Digital Library



**شرح** : دا دواړه کوچنیان په خپل مابینځ کی سره ورور او خور سوه ځکه دکم زوج دوجی ښځه چی ددواړو ښځو شیدی راځی هغه ددې دواړو کوچنیانو رضاعی پلار سو .

**دجناب عاشقِ سنت خیر البشر حضرت عبد الله بن عمر رضی الله عنهما فتوٰی**

۱۲۸. **پوښتنه** : ای حضرت کم ماهیۍ چی دریاب په خپلو څپو سره پر کناره باندی وغورځوی هغه حلال دی او که نه ؟ دهغه خوراك جآئز دی او که نه ؟

[سوال کوونکی : عبد الرحمٰن صاحبزادهٔ ابو هریرة رضی الله عنه ]

**جواب** : (هغه حلال دی) هغه وخوره دهغه په خوراك کی هیڅ اندیښنه نسته (او په حلال کیدو کی یې هیڅ شبه نسته) . (موطا)

**شرح** : دا سوال دحضرت ابو هریرة رضی الله عنه صاحبزادة عبد الرحمٰن کړی وو اول خو ابن عمر رضی الله عنهما ددې دخوراك څخه ممانعت کړی وو لیکن کله چی کورته راغی اوپه قرآنِ مجید کی یې دا آیت ولیدی چی : أُحِلَّ لَكُمْ صَيْدُ الْبَحْرِ نو عبد الرحمٰن ته یې دخپل خاص خادم حضرت نافع رحمه الله په واسطه زبانی وینا واستوله چی ویې خوره هیڅ حرج نسته پکښی ، دا حکم دهغه ماهی دی چی داوبو څخه دباندی تر را غورځیدو وروسته مړ سی یا دتالاب اوبه وچی سی او مړسی او کم چی په اوبو کی دننه مړ سی او لوړ راپورته سی نوپه حدیث شریف کی ددې دخوراك ممانعت فرمایل سویدی هغه نه خوړل پکار دی هغه حرام دی .

۱۲۹. **پوښتنه** : که چیری یو شخص دجماعت په لمانځه کی شریك سی او بیا په لمانځه کی ورپه یاد سوه چی ما تردې دمخه لمونځ نه دی ادا کړی نو دهغه شخص دا لمونځ ادا کیږی او که به یې دوباره کوی ؟

[سوال کوونکی : یو شخص په روایت دنافع رحمه الله ]

**جواب** : هغه ته پکار دی چی دامام سره تر پوره کیدو وروسته خپل مخکنۍ قضا سوی لمونځ ادا کی او بیا هغه لمونځ را وګرځوی کم چی یې دامام سره کړیدی (موطا)

**شرح** : واجب داده چی اول خپل قضا سوی لمونځ ادا کی بیا راتلونکۍ لمونځ وکی نوده چی کم لمونځ دامام سره کړیدی هغه نسو ادا ولی چی دهغه څخه دمخه لمونځ دده پرذمه باندی باقی دی مګر دامام پریښوول هم مناسب نه دی ددې وجی دامام سره چی هغه لمونځ پوره کړی نو مخکنۍ قضا سوی لمونځ دی ادا کړی کله چی

ketabton.com - The Digital Library



مخکنۍ لمونځ اداسو نوبیا دی دا لمونځ دوباره وکی کم چی یې دامام سره کړیدی لیکن دقضا سوی لمانځه ادا کول دوخت تر لمانځه دمخه حکم دهغه چا دپاره دی چی دهغه پرذمه باندی ترپنځو لمونځو زیات قضا سوی لمونځونه نه وی اوښتی که چیری قضا سوی لمونځونه ترپنځو زیات وی نودا چی هغه پرېږدی او دموجوده وخت لمونځ اول ادا کړی هم جآئز دی .

**دمیر منشی دحضور سرورِ عالَم ﷺ حضرت زید بن ثابت رضی الله عنه فتوٰی :**

۱۳۰. **پوښتنه** : ای کاتبه درسول الله ﷺ ما پربعضو خلګو باندی یوڅه کپړه (ټوکر) په قرض باندی خرڅ کړی وو اوس هغه خلګ نقدی روپۍ را کول غواړی او وایی چی ته یوڅه روپۍ معاف کړه نو موږ به نقدی روپۍ درکړو دا صورت جآئز دی او که نه ؟ [سوال کوونکی: صالح بن عبید مدنی رحمة الله علیه]

**جواب** : (دا صورت نه دی جآئز لهذا زه تاته اجازه نسم درکولای چی دا قسم معامله وکړی) او چی داسی روپۍ په خپل خرڅ او استعمال کی راولی . (موطا)

**شرح** : مثلاً پنځوس ۵۰ روپۍ دیو چا پرذمه باندی ددوو ۲ میاشتو په وعده باندی لازمی وی اوس هغه وایی چی په اوس وخت کی (یعنی تر دوو میاشتو پوره کیدو مخکی) څلویښت ۴۰ روپۍ واخله او لس ۱۰ روپۍ معاف کړه دا نه دی جآئز ، دا ربوٰا او سود دی ولی چی ګواکی لس ۱۰ روپۍ یې تاوان وکی او دوې څلور میاشتی مخکی یې روپۍ حاصلی کړیدی ، بس همدغه ربوٰا ده .

**دحضرت سیّدنا عمّار بن یاسر صحابی قدیم الاسلام رضی عنه ربّ الانام فتوٰی :**

۱۳۱. **پوښتنه** : ای حضرت که چیری یو څوك خپل ذکر مسه کړی نو اودس ماتیږی او که نه ؟ [سوال کوونکی: اهلِ مجلس په روایت دعمیربن سعد رضی الله عنهما]

**جواب** : (اودس نه ماتیږی ځکه لکه څرنګه چی نور اندامونه دی همدغه رنګه) هغه هم ستا دبدن څخه یوه ټوټه ده (لیکن خامخواه هلته دلاس وړلو ضرورت څه دی) ستا دلاس وړلو دپاره نور ډیر بدن موجود دی (موطا) .

**شرح** : بې له ضرورته دی پر داسی ځایو باندی لاس نه تیروی ، او که چیری لاس ولګول سی هم نو اودس نه ماتیږی لیکن مستحب او بهتره په داسی صورت کی دا ده چی اودس وکی .

**دام المؤمنین سیّدتنا حضرت عآئشة صدیقه رضی الله عنها فتوٰی :**

۱۳۲. **پوښتنه** : که چیری په حالت کی دجنابت پر بدن باندی خوله (عرق) راسی پر

ketabton.com - The Digital Library



کپړو باندی ولګیږی نو کپړې به ناپاکه سی او که نه ؟
[سوال کوونکی: یوشخص په روایت دقاسم ورور زادهٔ دعآئشې رضي الله عنها]
**جواب**: ددې هیڅ مضآئقه (ممانعت) نسته کپړې ددې څخه نه ناپاکه کیږی. (دارمی)
**شرح** : په جنابت کی چی کله حکمی نجاست دی په ښکاره پر ټوله بدن باندی کم نجاست نه وی لګیدلی لهذا دهغه خوله او نا ړی پاکی دی په دې سره کالی نه ناپاکه کیږی البته که چیری پر بدن باندی یو ځای ښکاره پلیتی لګیدلی وی نو چی دخولې سره وبهیږی او دهغه پوره اثر پر کالو باندی راسی نو بیا کالی ناپاکه کیږی .

**دمشهور صحابی حضرت ابو هریرة رضي الله عنه حافظ احادیث نبویّه صلى الله عليه وسلم فتوٰی :**

۱۳۳ . **پوښتنه** : ښځی ته په حالت کی دحیض سُبْحَانَ اللهِ وَالْحَمْدُ لله وَلاَ اِلٰهَ الاَّ اللهُ وَاللهُ اَكْبَرْ ویل جآئز دی اوکه نه ؟ [سوال کوونکی: نا معلوم الاسم]
**جواب** : جآئز دی . (دارمی شریف)
**شرح** : دا رنګه نور اذکار او دعاوی ویل صحیح دی البته قرآن مجید ویل ورته حرام دی .

**دحضرت سعید بن مسیب سیّد التابعین علیه رحمة ربّ العالمین فتوٰی :**

۱۳۴ . **پوښتنه** : یا حضرت کم وخت چی امام خطبه ویله یوه شخص ته پریچی راغی (هغه الحمد لله وویل نو) فلانی شخص دهغه جواب ورکی (یعنی یرحمك الله یې وویل) ؟ [سوال کوونکی : نا معلوم الاسم ]
**جواب** : هغه ته ووایه چی بیا داسی نه کوی (ولی چی په وخت کی دخطبې سلام او کلام او یرحمك الله ټول ناجآئز دی ) . (کتاب الآثار للامام محمد رحمة الله عليه) .
**شرح** : پریچونکی چی کله الحمد لله ووایی نو اوریدونکو ته یرحمك الله ویل لازمی او داسلامی حقوقو څخه دی او په احادیثو کی ددې تاکید راغلی دی لیکن حالت دخطبې چی کله دلمانځه په مثال دی لهذا په هغه کی چی څرنګه سلام او دعا اونور ناجآئز دی داغه رنګه داهم ناجآئزدی، حضرت سعیدبن مسیب رحمة الله عليه ډیر لوی تابعی دی په سنه ۱۳ هجری کی دحضرت عُمر فاروق رضي الله عنه په خلافت کی پیدا سویدی دسلهاوو صحابه وو رضي الله عنهم سره یې ملاقات کړیدی ، په زهد ، عبادت او علم کی په خپله زمانه کی بې مثله وو دابو هریرة رضي الله عنه شاګردِ رشید وو، ځلوېښت ۴۰ حجونه یې کړی وه، په سنه ۹۳ هجری کی یې وفات وسو، رحمه

ketabton.com - The Digital Library



الله تعالی بفضله

**دعالقیدر تابعی حضرت سعید بن جبیر شهید رحمة الله علیه فتوٰی :**

١٣٥ . **پوښتنه** : یاحضرت که یوچا دیوې مقرری مودی په وعده سره غله (دسرو زرو یا سپینو زرو یا روپو په عوض کی) خرڅه کړه او بیایې پرڅای دنقد قیمت (خرما یا بل خپل دضرورت شی) واخیستی نو جآئز دی او که نه ؟

[سوال کوونکی : نا معلوم الاسم ]

**جواب** : هیڅ ممانعت نسته جآئز دی . (موطا)

**شرح** : مثلاً زمورِ دغلې قیمت لس ١٠ روپۍ درانیوونکی پرذمه باندی واجب وی مورِ هغه روپۍ نه وی قبض کړی بلکه خرما یا کپړه یا یوبل شی مو په رانیوی نو هیڅ ممانعت نسته ولی چی په قیمت کی دا شرط نسته چی ترڅو پوری یې قبض کړی نه وی په هغه کی دی تصرف نه کوی .

**دزاهد او عالم حضرت قاسم پسر زاده دخلیفه اوّل رضی الله عنهم اجمعین فتوٰی :**

١٣٦ . **پوښتنه** : که چیری یو شخص په حالت کی دحیض دزوجې سره صحبت وکړی نو ددې څه کفاره ورکول پکار دی ؟

[سوال کوونکی: یوشخص په روایت دعبد الرحمٰن بن قاسم رحمة الله علیه ]

**جواب** : خدای تعالی ته دی عاجزی، عذر، توبه اواستغفار وکړی اوبیا دی هیڅکله داسی نه کوی (دارمی)

**شرح** : په حالت کی دحیض صحبت او مجلس کول نهایتی سخته او لویه ګناه ده او دسلهاوو قسمونو مریضیو سبب دی دسوال کوونکی مطلب داوو چی آیا څه مالی کفاره ورکول هم لازم دی او که نه ؟ دجواب څخه معلومه سوه چی په اخلاص دزړه سره توبه او استغفار کول کافی دی مال ورکول ضروری نه دی لیکن که چیری دخپل قدرت په اندازه صدقه او خیرات هم وکی نوددې سخت معصیت او ګناه دوجی څخه چی کم غضبِ خداوندی پرجوش باندی راځی په هغه کی به سپك والی راسی ځکه چی په حدیث شریف کی راغلی دی چی دخدای تعالی غصه او درد صدقه کښته کوی او دسُوءِ خاتمې (یعنی بدی خاتمی او بد انجام) څخه یې محفوظه کوی .

**دباعمل عالم حضرت سالم پسر زاده خلیفه دوم رضی الله عنهم اجمعین فتوٰی :**

١٣٧ . **پوښتنه** : یوشخص په سفرکی یوځای تم سو او اراده کوی چی ددې ښار څخه

ketabton.com - The Digital Library



به نن یا سبا ځم لیکن دیوه نه یوه ضرورت په وجه هره ورځ **تلل** وځنډیږی په داسی صورت کی به دلمانځه قصر کوی اوکه به یې پوره کوی ؟

[سوال کوونکی: هشام بن عُروه اُستاذ امام ابو **حنیفة** رحمهما الله ]

**جواب** : قصر دی کوی که څه هم چی په دې ډول سره میاشتی تیری سی . (موطا)

**شرح** : قاعده داده چی کله مسافر په یوه ښار کی دپنځلسو **۱۵** ورځو تم کیدو اراده وکی نو پوره لمونځ دی کوی که نه وی نو دمسافرینو په ډول قصر دی کوی یعنی څلور رکعته لرونکی لمونځونه دی صرف دوه رکعته کوی ، نو که چیری یې په یوه ښار کی اراده خو ترپنځلسو ورځو کمه کړی وه لیکن داتفاقی اسبابو څخه **تلل** ځنډیدل مګر دپنځلسو ورځو اوسیدو قصد یې بیا هم نه وو کړی همیشه به یې دتلو اراده وه او یوه وجه به مخ ته راتله او پاته به سو نو قصر دی کوی برابره خبره ده که هر څومره ورځی او میاشتی تیری سی .

**دحضرتِ عطآء بن ابی رباح تابعی جلیل القدر** رحمه الله **فتوٰی** :

۱۳۸ . **پوښتنه** : یا شیخ مکرم ! که چیری دیوې ښځی په غاړه کی یو نقش یا تعویذ وی چی په هغه کی کلامِ الٰهی او دخدای تعالی نوم مبارك وی نوپه حالت کی دحیض دی هغه ایسته کوی او که دی په غاړه کوی ؟

[سوال کوونکی : عبد الملك رحمه الله ]

**جواب** : که چیری په چمړه یاکپړه یابل شی کی پیچلی وو نو لیری دی کړی او که چیری دسپینو زرو په پوښ کی بند وو نو اختیار دی ایسته کوی یې او که نه . (دارمی شریف)

**شرح** : حضرت عطآء ته دحضرت ابن عباس اوحضرت ابو هریرة او دنورو ډیرو صحابه کرامو رضی الله عنهم دشاګردی فخرحاصل دی په خپله زمانه کی ترټولو علماوو لوړ وو ، په سنه **۱۱۵** هجری کی وفات سو ، دده څخه په سلهاوو فتاواوی را **نقل** سویدی ، په دې جواب کی یې دکلامِ الٰهی دبی ادبی څخه دمحفوظه کیدو دپاره عمده جواب او فتوٰی ورکړیده مګر دایې په طور داحتیاط فرمایلی دی .

**فتوٰی دحضرت سیّد المجتهدین امام اعظم ابو حنیفة علیه رحمة رب العالمین** :

۱۳۹ . **پوښتنه** : یوه شخص دوبی ته دپریولو دپاره کپړې ورکړی وی ددوبی په کور کی اور ولګیدی اوهغه کپړه هم وسوځیدل اوس به ددوبی پرذمه باندی تاوان واجب وی او که نه ؟ [سوال کوونکی: حضرت امام **محمد** رحمه الله اونور]

ketabton.com - The Digital Library



**جواب** : ددوبی پرذمه باندی تاوان نه دی واجب . (کتاب الآثار)

**شرح** : دوبی او خیاط او رنگریز او نور کم چی ډیرو خلګو کار کوی هغه ته اجیر مشترك (ګډ مزدور) ویل کیږی دهغه سره چی کم شی وی پر هغه باندی که چیری یو داسی آفت راسی چی په هغه کی ددې خلګو څه لاس نه وی نو تاوان بالکل ورباندی نه دی واجب (مثلاً اور ولګیږی یا غلا سی) او که چیری دهمدې خلګو په لاسو باندی قصداً یا بی له قصده څه تاوان ورسیدی نو ددوی پرذمه باندی تاوان واجب دی (لکه ددوبی دوهلو اوټکولو څخه چی کپړه پټاؤ سی یا دګړی ساز دلاس څخه پرزه ولویږی) مګر بهتره داده چی په دې قسم واقعاتو کی دهغه څخه ډیر لږ واخلی او دهغه سره صلح وکی دتاوان او ضمان په نامه سره دی نه څه ورکوی اونه دی څه اخلی .

(که څه هم چی دفقه حنفی په بې تعداد او بې شمیره کتابونه او ټولی فتاواوی او مسآئلی په حقیقت کی دحضرتِ امام مخدوم الانام رحمة الله علیه فتاواوی دی چی په هغه کی په ډول دتبرك سره یوه خاصه فتوٰی دده په نامه مبارك سره درج کول مناسبه معلومه سوه ځکه چی دی رحمة الله علیه هم دتابعینو په درجه کی داخل دی او دسیدنا انس او نورو صحابه وو رضي الله عنهم په دیدار سره مشرفه سویدی) .

**دتاج الاولیآء قدوة الاصفیاء حضرت حسن بصری قدس الله سره العزیز فتوٰی :**

۱۴۰. **پوښتنه** : دکومو اوبو څخه چی (دخُلې په اېښوولو سره) حآئضې چیښل کړی وی دهغه څخه اودس کول جآئز دی او که نه ؟

[سوال کوونکی : یوشخص په روایت دکثیر بن شِنْظِیر رحمة الله علیه ]

**جواب** : جآئز دی (دارمی شریف) .

**شرح** : تردې مخکی ددې قسم مسئلې مفصلې تیری سویدی ، ددې فتوا څخه هم معلومه سوه چی دحآئضې ظاهری اندامونه لاس ، پښې او نور پاك وی .

اَللّٰهُمَّ طَهِّرْ قُلُوْبَنَا وَاغْفِرْ ذُنُوْبَنَا وَارْحَمْنَا اَنْتَ مَوْلاَنَا وَتَوَفَّنَا مَعَ الْمُسْلِمِیْنَ ، وَصَلِّ عَلٰی نَبِیِّكَ سَیِّدِنَا مُحَمَّدٍ وَّعَلٰی اٰلِهٖ وَاَصْحَابِهٖ اَجْمَعِیْنَ . آمین ، تـمّـت بالخیر

الاثنین ، ۲۱ شعبان ، ۱٤۲۸ \ ۳ سبتمبر 2007

**ترجمه او تحقیق :**

العبد الضعیف الحافظ محمّد احمد الحقّانی الأفغانی غفر الله له

## Thank you for reading

Find more e-books and articles on Ketabton - your multilingual digital library.

**www.ketabton.com**

*Ketabton - Pashto, Farsi, Arabic & English*